# الرسائل فی المسائل

## پښتو

د نکاح تړل ،د مړي مسائل،د اسقاط حیله

لیکوال: مولوی فضل الرحمن عادل



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالۍ

زه خپل دغه کتاب اول خپلو والدينو
ته چې زموږ په روزلو او تعليم کې يې
هيڅ ډول کمی ندی کړی.

او بيا يې خپلو ټولو ښوونکو او
استادانو ته ډالۍ کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: الرسائل في المسائل پښتو

ليکوال: مولوي فضل الرحمن (عادل)

بيا کتنه (نظرثاني): شـــيخ الحديث والقرآن خليفه صـــاحب عبدالرحيم اخند زاده.

چاپ کال:

چاپ شمېر:

چاپ وار:

خپروندی:


د ليکوال شمېره: ۰۰۹۳۷۷۰۸۴۸۲۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ليکلړ

عيادت (د ناروغ پوښتنه کول)........ ۲
د عيادت آداب........ ۳
د عيادت اجر او فضيلت........ ۶
دوصيت کول........ ۸
د وصيت فضيلت........ ۹
په وصيت کې احتياط پکار دی........ ۱۰
دځنکدن حالت........ ۱۱
د مړ کېدونکي کس تر څنګ کړنې (عملونه)........ ۱۲
په مړو تلوار کول پکار دی........ ۱۳
د مړي غسل........ ۱۳
مړي ته د غسل ورکولو لامل........ ۱۴
د غسل لپاره اړين سامان........ ۱۴
استنجاء........ ۱۵
مړي ته اوس ورکول........ ۱۶
مړي ته له اودس ورکولو وروسته بشپړ غسل........ ۱۷
مړي ته څوك غسل ورکولی سي؟........ ۱۸
کوم مړي ته غسل ورکول کېږي او کوم مړي ته غسل نه ورکول کېږي؟........ ۲۰
مړي ته د غسل ور کول شرطونه........ ۲۱
مړي ته د تيمم ورکولو طريقه........ ۲۳
د کفن بيان........ ۲۳
د مړي کفن د چا پر ذمه دی؟........ ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کفن ډولونه ........ ۲۵
د ماشومانو کفن ........ ۲۷
په کفن کول ........ ۲۷
د سړي د کفن کولو طريقه ........ ۲۸
د مېرمنې د کفن کولو طريقه ........ ۲۹
په کفن او يا نور ځه خوشبويي وهل: ........ ۳۱
د جنازې د لمانځه لپاره تيمم کول ........ ۳۳
د جنازې لمونځ ........ ۳۳
د جنازې د لمانځه شرطونه: ........ ۳۴
د جنازې د لمانځه فرضونه : ........ ۳۵
د جنازې د لمانځه سنتونه : ........ ۳۶
په مړي د جنازې د لمونځ حقدار ........ ۳۶
په قبر د جنازې د لمونځ کولو حکم ........ ۳۷
د جنازې د لمونځ کولو طريقه ........ ۳۷
د جنازې د لمانځه نيت ........ ۳۸
که په يو وخت کې څو جنازې سره جمع سي؟ ........ ۴۱
له جنازې وروسته ........ ۴۲
په جومات کې د جنازې حکم ........ ۴۳
د ژوندي ماشوم د پيدا کېدو احکام ........ ۴۳
د جنازې د کټ وړلو طريقه ........ ۴۴
دجنازې شاته تلل ........ ۴۵
له جنازې سره په پښو (پياده) تلل ........ ۴۵
په جنازې پسې د تللو په وخت کې ذکر کول ........ ۴۶
له جنازې کېښودلو مخکې کښېناستل ........ ۴۶
قبر او د قبر کيندلو اندازه به څومره وي؟ ........ ۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قبر قسـمونه (لحد [چې لحد په څنګ کې وي] او شَـق [چې لحد په منځ کې وي ] ) ........ ۴۷
په قبر کې د مړي د ایښوولو او قبر پټولو طریقه ........ ۴۸
د ښځې پر قبر د پردې کولو حکم ........ ۴۹
پر قبر خاورې اچول ........ ۵۰
له خښولو وروسته نا معلوم رواجونه ........ ۵۱
په آخېر کې په قبر خښته ایښوول ........ ۵۳
کله چې مړی خښ سي بیا د قبر سر او پښو ته تلاوت کول کېږي ........ ۵۳
د مړي له دفن کولو وروسته ........ ۵۴
د مړي له خښولو وروسته ځینې دعاګانې ........ ۵۶
په قبر باندې اوبه پاشل ........ ۵۸
په قبر لاس پورته کول او دعا کول ........ ۵۸
په قبر د لکړو درول ........ ۵۹
څو مړي په یوه قبر کې خښول ........ ۶۰
د جنازې د لمانځه وخت ........ ۶۱
تعزیت (فاتحه) ........ ۶۲
تعزیه به څرنګه ورکوي ........ ۶۳
تعزیه (فاتحه) چېرته اخیستل کېږي ........ ۶۴
د تعزیې فضیلت ........ ۶۶
په مړینه باندې د صبر اجر او ثواب ........ ۶۷
د شهید د احکامو بیان ........ ۶۷
شهید ته د شهید ویلو وجه: ........ ۶۸
د شهید قسمونه: ........ ۶۸
د شهید تعریف ........ ۶۹
د شهید احکام (کوم چې په دنیا کې) دي: ........ ۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسقاط د حیلې بیان........................................ ۷۵
د حله اسقاط تعریف........................................ ۷۵
د حیله ا سقاط حکم........................................ ۷۵
دلته د علماوو یو څو مختلف نظرونه دي:........................................ ۷۶
د حیلې د رواه والې دلایل........................................ ۷۷
اول دلیل:........................................ ۷۷
دوهم دلیل :........................................ ۷۸
دریم دلیل :........................................ ۷۸
څلورم دلیل:........................................ ۷۹
حیلې باید وپېژندل سي........................................ ۷۹
د إسقاط د حیلې شرطونه او آداب........................................ ۸۱
د اسقاط د دورې کولو عملي طریقه........................................ ۸۶
د هغو علماؤو نظر چې مروج اسقاط ناسم بولي........................................ ۹۱
د نورو علماوو بله رائیه........................................ ۹۲
د نن سبا مروج (اسقاط) حیله رواه ده که یا؟........................................ ۹۷
د دې علماؤو په وینا د اسقاط صحت........................................ ۱۰۲
دنکاح بیان........................................ ۱۰۴
د نکاح عملي زدکړه........................................ ۱۰۷
د نکاح تړلو طریقه........................................ ۱۰۸
د نکاح خطبه........................................ ۱۰۹
غلط رواج :........................................ ۱۱۱
له نکاح تړلو وروسته دعاء........................................ ۱۱۳
په نکاح کې کفو (برابري) او ولي (واکدار)........................................ ۱۱۵
جبري نکاح........................................ ۱۱۶
له مېرمنې سره د یو ځای کېدو مسنونه دُعا........................................ ۱۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوستي کولو لپاره د نجلۍ کتل: ........ ۱۱۸
کله چې څوك ستاسو د خور يا لور په غوښتلو د دوستي لاس در اوږد کړي ........ ۱۲۰
مېرمنې په ميراث کې بشپړ حق لري او مهر د مېرمنو خاص حق دی او خامخا به ورکول کېږي ........ ۱۲۲
ولور ........ ۱۲۴
د ميراث حق ........ ۱۲۴
هغه خلك چې په چل د نورو حق خوري ........ ۱۲۹
فطرتي خصلتونه ........ ۱۳۰
اول: د برېتونو کمول: ........ ۱۳۱
دوهم: د ږيرې پرېښودل: ........ ۱۳۱
دريم: مسواك وهل: ........ ۱۳۲
څلورم: استنشاق (د پوزې مينځل) ........ ۱۳۳
پنځم: مضمضه (د خولې مينځل) ........ ۱۳۳
شپږم د نوکانو کمول: يعني پرېکول يې. ........ ۱۳۳
اوم: د بندونو مينځل: ........ ۱۳۴
اتم: د تخرګونو وېښتان کيښل (ايستل): ........ ۱۳۴
نهم: د نامه لاندې وېښتان خرييل: ........ ۱۳۴
لسم: استنجاء کول: ........ ۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ليکوال لنډه پېژندنه

ملا فضـــل الرحمن (عادل) د ســـيد احمد زوی د حاجي برات خان لمسی، په ۱۳۷۹ لمريز کال کې د پکتيکا ولايت متاخان ولســـوالي د شـــنك د کلي په يوه متدينه کورنۍ کې زېږېدلی دی. په ۱۳۸۴ لمريز کال کې د کورنۍ لخوا د خپل کلي شنك افتدائيه ښوونځي کې شامل کړای شو په شپږم ټولګي کې و چې د ځينو ســتونزو او مشــکلاتو له کبله په نيمايي کې ترې پاتې شو. په ۱۳۹۱ لمريز کال کې يې په ديني مدرسه (جامعه خيرالمدارس، پکتيکا، متاخان، ګنبد) کې داخله وکړه؛ تر رابعې درجې يې په همدې مدرســـه کې زدکړې وکړې چې تر څو له همدې ترجې فارغ شـــو. په ۱۳۹۸ لمريز کال کې يې په مرکز کابل بګرامیو کې د امام ابو حنيفه (رح) عالي دارالعلوم په لسم ټولګي کې د سويې د ازموينې له لارې داخله تر لاسه کړه. په ۱۴۰۰ لمريز کال يې د فراغت ممتاز (اعلیٰ) ســـند تر لاســه کولو سره دلته زدکړې پايته ورسـولې. په ۱۴۰۱ لمريز کال يې د پکتيا ولايت زرمت دولت زيو احياء العلوم مدرســـه کې له محترم خليفه صـــاحب عبدالرحيم اخندزاده (دامت

برکاته العالیة) ښخه ورېه دوره پیل کړه او د ممتاز سند په تر لاسه کولو یې پایته ورسوله.

## تقریظ

محترم مولوي صاحب فضل الرحمن چې کوم کتاب( الرسائل في المسائل ) په نوم، د دیني مسائلو په باره کې لیکلی دی، ما خپله مطالعه کړ، ډېر مفید او جامع کتاب دی، خصوصًا د پښتنو ورونو او خوندو لپاره، په ساده پښتو لیکل شوی دی.

هر څوك استفاده ورڅخه کولی شي.

الله تعالی جل جلاله دې د ده مور او پلار او استادانو او هر چا چې ورسره تعاون/مرسته کړې ده، سبب د اجر د دارینو یې ورته وګرځوي. آمین


محترم مولوی صاحب فضل الرحمن چه کتاب ( )
د دینی مسائلو په باره کی لیکلی ما خپله مطالعه که
ډیر مفید او جامع کتاب ده خصوصا د پښتو ورونو
او خوندو لپاره په ساده پښتو ترجمه شوی هر څوک
استفاده ورځخه کولی شی الله پاک دی دده مور او
پلار او استادانو او هر چا چه ورسره تعاون کړی
سبب د اجر د دارینو ورګرځوی آمین
فضل الرحیم اخند زاده مهتمم
مدرسه احیاء العلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد الحديث الحاج خليفه صاحب عبد الرحيم اخند زاده( دامت بركاته العالية) مهتمم مدرسه احياء العلوم دولتزائی زرمت پکتيا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علیٰ أشرف الأنبیاء والمرسلین، نبینا محمد وعلیٰ آله وصحبه أجمعین، أمّا بعد: دا د نړۍ قانون دی چې هره ټولنه ځانته ځانګړي رسمونه او دودیز اصول لري، خو ځینو ټولنو بیا پر ځان ډېر زیاتی کړی وي او سخت کړي يې دي، اما اسلامي شریعت لکه څرنګه چې د بشریت ستر لارښود ﷺ فرمایلي چې دین د خیر غوښتنه ده، مطلب دا چې د دین په هر امر او لارښوونه کې د مخلوقاتو خیر او فایده ده، نو د اسلامي شریعت هر امر روښانه اسانه او ساده دی او د شریعت په حکمونو کې نه څوك له ځانه زیادت کولی سي او نه هم کمی، خو دا چې ټولنیز دودنه څه ناڅه تاثیر خامخا ورباندې لرلی سي لکه څرنګه چې موږ او تاسو د مختلفو ټولنو مختلف رواجونه او رسمونه وینو، دغسې زموږ په ټولنه کې هم دي، زموږ په ټولنه کې هم په ځینو مسائلو کې ځینو خلکو له خپله انده زیاتونې کړې دي، ځیني مسائل يې بېځایه سخت کړي او ځینې مسائل يې یو مخ پرې ایښي دي چې باید له دې څخه په کلکه ځان وساتل سي.

ما هم په دې لیکنه کې څو مهم مسائل چې د هغو زده کول او ځان ورباندې پوهول خورا اړین دي، چې د ډېرو طالبانو (زده کونکو) دا هیله او غوښتنه وه چې په دې مسائلو یو کتاب ولیکلی شي تر څو په اسانه توګه هر کس ګټه ترې واخلي. او ډېر کله داسې مسائل پېښ شوي چې د ناپوهۍ له کبله له ځنډ او خنډ او ستونزو سره مخامخ شوي. لکه د مړیني پېښېدل چې باید له مړه شخص سره څه وکړل سي، او کوم حقوق يې دي پر ژوندیو له غسل، کفن، جنازې، اسقاط، قبر، بې ثبوته کړنې (عملونه) چې باید پرېښودل سي، خیر او خیرات څخه چې مايې په دې خپله لیکنه کې په ډېره ساده بڼه عملي ښوونه وړاندې کړې ده او هر څوك ورباندې پوهېدلی او زده کولی سي. همداسې مي د نکاح په اړه له رویباري، جبري نکاح، غلط رواج، د نکاح تړلو عملي طریقه کومه چې زمونږ په سیمو کې دود ده ، مهر چې د مېرمنو خاص حق دی او باید مېرمنو ته وسپارل سي، لارښوونه وړاندې کړې ده چې د زده کولو لپاره يې ډېر خلك په هڅه کې دي چې په لنډه او ساده بڼه مي یاد کړي، او دا هڅه مي کړې ده چې په څرګندو الفاظو يې ولیکم چې هر څوك ورباندې پوه سي. همداسې په پای کې مي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فطرت لس خصلتونه راوړي چې هر مسلمان ته پکار ده تر څو يې وپېژني عمل ورباندې وکړي، نورو او خپلو اولادنو ته هم آمر پرې وکړي. له الله ﷻ څخه دا ســـوال کوم چې دا ليکنه د مســـلمانانو د ګټې وړ وګرځوي. الله ﷻ دې د ژوند په هر پړاو کې زموږ ملګرى شـــي، او الله ﷻ دې تل موږ ته د ســـمې لارې ښـــوونه وکړي، او د بدو خلکو له پيروي او ملګرتيا مو دې څېښتن تعالي وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عيادت (د ناروغ پوښتنه کول)

رسـول الله ﷺ په ډېرو ځايونو کې د ناروغ د پوښـتنې کولو امر کړی دی، او د مسلمان له پنځو حقوقو څخه يې شمېرلی دی[1]. او د ناروغ (مريض) پوښتنه کول سنت ده. الفقه الاسلامي وادلته.

له حضـرت ابو هريره رضـي الله عنه څخه روايت دی چې رســول الله ﷺ وفرمايل: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: يَا ابْنَ آدَمَ، مَرِضْتُ فَلَمْ تَعُدْنِي. قَالَ: يَا رَبِّ، كَيْفَ أَعُودُكَ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ؟! قَالَ: أَمَّا عَلِمْتَ أَنَّ عَبْدِي فُلَانًا مَرِضَ فَلَمْ تَعُدْهُ، أَمَا عَلِمْتَ أَنَّكَ لَوْ عُدْتَهُ لَوَجَدْتَنِي عِنْدَهُ؟..... رَوَاهُ مُسْلِمٌ

الله ﷻ به د قيامت په ورځ وفرمايي؛ اې انســانه! زه ناروغ ســوم مګر تا زما پوښتنه ونه کړه، هغه به ځواب ورکړي، اې زما پروردګاره! ما څرنګه ستا پوښتنه کړې وای، ته په خپله د دواړو جهانو پالونکی يې، خدای ﷻ به ورته ووايي، چې آيا ســتا په ياد نه دي چې زما فلانی بنده ناروغ ســو

---

[1] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " «حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: " رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ» ".مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

عَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " «أَطْعِمُوا الْجَائِعَ، وَعُودُوا الْمَرِيضَ، وَفُكُّوا الْعَانِيَ» ".
رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «أَمَرَنَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِسَبْعٍ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ. أَمَرَنَا: بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَرَدِّ السَّلَامِ، وَإِجَابَةِ الدَّاعِي، وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ، وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ، وَنَهَانَا عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ، وَعَنِ الْحَرِيرِ، وَالْإِسْتَبْرَقِ، وَالدِّيبَاجِ، وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ وَالْقَسِّيِّ» ، وَآنِيَةِ الْفِضَّةِ - وَفِي رِوَايَةٍ: - وَعَنِ الشُّرْبِ فِي الْفِضَّةِ ; فَإِنَّهُ مَنْ شَرِبَ فِيهَا فِي الدُّنْيَا لَمْ يَشْرَبْ فِيهَا فِي الْآخِرَةِ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تا د هغه پوښتنه ونه کړه، که تا د هغه پوښتنه کړې وای نو زه به دې هلته پيدا کړی وای.( يعني زما رضا به دې هلته پيدا کړې وای)....

## د عيادت آداب

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي : چې د مريض پوښتنه داوښې د فواق په اندازه دی.((فواق د ېته وايي چې يو څوك اوښه لوشي او بيا د اوښ بچی ورپرېږدي د دې لپاره چې اوښه شيدې را پرېږدي او بيا يې لوشل شروع کړي)) د ېته فواق وايي. او د سعيد ابن مسيب په مرسل روايت کې دا الفاظ سته. چې تر ټولو افضله پوښتنه د ناروغ هغه ده، چې په هغه کې څوك ژر ولاړ سي. [٢] رواه البيهقي في شعب الايمان ،مشکواة

يعني ډېره ناسته ونکړي چې د ناروغ د تکليف لامل سي بلکې له راتګ وروسته بېرته ژر پورته سي او لاړ سي.

د شرح شرعة الاسلام په **۵۵۵** صفحه کې ذکر دي: کله چې له مريض سره يوځای شي، نو د مريض کس د زنګنونو په برابر دې کښېني، که دايې کولی شول، د سر خواته دې نه کېني ځکه په دې سره مريض ته تکليف رسېږي.

---

[٢] : " «العيادة فواق ناقة» " وفي رواية سعيد بن المسيب مرسلا: «افضل العيادة سرعة القيام» . مشکواة المصابيح (رواه البيهقي في شعب الايمان).

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مریض ته دې په خوشحالي او ورین تندي سره کتل کوي، په غم او زړه تنګي سره دې نه ورته ګوري، ځکه په دې سره د مریض زړه ماتیږي، او له ده سره دې په هغه څه خبرې کوي چې ده ته خوشحالي او خوښي وربښي لکه د مرض د جوړوالي او د ناروغي د سپکوالي په اړه یا له ناروغي څخه د جوړیدو اُمید (هیله) ورکول او داسې نور.

او له ناروغ څخه دې دعا غواړي ځکه چې د ناروغ دعا قبلیدو ته نږدې وي.

له عمر رضي الله عنه نه روایت دی وایي رسول الله ﷺ وفرمایل: " «إِذَا دَخَلْتَ عَلَى مَرِيضٍ فَمُرْهُ يَدْعُو لَكَ، فَإِنَّ دُعَاءَهُ كَدُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

کله چې ناروغ ته ورسې نو هغه ته امر وکړه چې چې دعا درته وکړي، ځکه چې د ناروغ دعا داسې ده لکه د ملایکو دعا.

او ژر دې له ناروغ څخه راوځي تر څو چې په ناروغ زحمت او تکلیف نسي.

او خپل لاس دې د ناروغ په تندي یا د ده په لاس کیږدي او د حال پوښتنه دې ورڅخه وکړي، او د صحت او عافیت دعا دې ورته وکړي، او دا دعا دې چې له رسول الله ﷺ څخه رانقل شوې ده ووایي: له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی: چې رسول الله ﷺ به کله ناروغ ته ورغی یا به ناروغ ورته را وستلی سو، بیا به یې (دا دعا) ویله: "أَذْهِبْ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



، اشْفِ وَأَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا "[٣]. رواه البخاري، و مسلم، و احمد، و ابوداود، والنسائي، و ابن ماجه.

او يا دي دا دعا اووه (٧) واره ووايي: اَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَّشْفِيْكَ. رواه احمد و ابوداود.

ځکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي: ثوک چې د يو ناروغ (مريض) پوښتنې ته ورسي، او دا دعا اوه (٧) واري ووايي، که د دې سړي اجل نه و راغلی، الله ﷻ به يې له دې مرض څخه روغ او صحتمند کړي[٤].

او يا دي دا دعا پنځه واره ووايي: اَعُوْذُ بِاللهِ وَبِقُدْرَةِ اللهِ وَعِزَّتِهِ مِنْ شَرِّ مَآ اَجِدُ وَ مِنْ شَرِّ مَآ اُحَاذِرُ.

او د سورة فاتحې په درې واره يا اووه واره ويلو سره چې په خپل ځان او مريض يې دم کړي، يا يې په خپل لاس دم کړي او خپل لاس د ناروغ پر بدن ومښي، په دې کې هم لوی تأثير دی، همدارنګه د معوذتين ويل يعني د قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ تر آخره پورې.

او د سورة حشر د آخر ويل يعني: ((هُوَ اللَّهُ الَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَٰدَةِ هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ○هُوَ اللَّهُ الَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَٰمُ

---

٣ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَتَى مَرِيضًا أَوْ أُتِيَ بِهِ ، قَالَ : " أَذْهِبْ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ ، اشْفِ وَأَنْتَ الشَّافِي لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا ". الصحيح البخاري.

٤ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّهُ قَالَ : " مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَعُودُ مَرِيضًا لَمْ يَحْضُرْ أَجَلُهُ ، فَيَقُولُ سَبْعَ مَرَّاتٍ : أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ , أَنْ يَشْفِيَكَ ، إِلَّا عُوفِيَ " . مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَٰنَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ○ هُوَ اللَّهُ الْخَٰلِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَآءُ الْحُسْنَىٰ يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ○)). او له دې وروسته دې په مخکيني ترتيب سره په مريض دم کړي، د مرض د سپکوالي له پاره دا بې مثاله دم دی.

او د چښلو لپاره دې اول سورة فاتحه تر آخره پورې او وروسته ترهغه دې بيا د شفاء دا آيتونه: ((وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ . وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ. يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ. وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ . وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ. قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا هُدًى وَشِفَآءٌ))، وليکي بيا دې پرېولي (ومينځي) او په مريض دې وچښي، ژر ګټه رسوي. جرأة الأئمة.

## د عيادت اجر او فضيلت

له ثوبان رضـي الله عنه څخه روايت دی چې رسـول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چې يو مسـلمان د بل مسـلمان ورور د ناروغۍ پوښتنه کوي نو هميشـه د جنت د مېوې په خوړو کې وي (د جنت د مېوو د خوړلو لايق وي) تر څو چې د هغه ناروغ له پوښتنې څخه بېرته راوګرځي[5]. رواه مسلم، والترمذي.

[5] عَنْ ثَوْبَانَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ " رواه مسلم و الترمذي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه رسـول الله ﷺ فرمايلي: چا چې په ښـه توګه اودس وکړ او هغه صرف د ثواب په نيت د يو مسـلمان ورور پوښـتنه وکړه، نو هغه د دوزخ څخه د شپېته کلو په مسافت لرې ساتل کېږي[۶]. رواه ابوداؤد

له حضـرت علي رضـي الله عنه څخه روايت دی چې ما له رسـول الله ﷺ څخه اورېدلي دي: کوم مسـلمان چې د يو مسـلمان ورور د ناروغي پوښـتنه د سهار په وخت کې وکړي نو اويا زره ملائکې تر ماښامه پورې د هغه لپاره د رحمت او مغفرت دعاوې کوي، او څوک چې د ماښـام په وخت کې د ناروغ پوښـتنه وکړي، نو د هغه لپاره اويا زره ملائکې تر سـهاره پورې د رحمت او مغفرت دعاوې کوي او په جنت کې به د هغه لپاره يو باغ وي[۷]. رواه الترمذی و ابو داود

له ابو هريره رضـي الله عنه څخه روايت دی چې رسـول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د يو ناروغ پوښـتنه وکړي نو يوه ملائکه د اسـمان څخه اواز کوي، تاته دې په دنيا او اخرت کې خوشـحالي وي، او په دنيا او اخرت کې دي سـتا تلل مبارک وي او په جنت کې دي لويه مرتبه درته حاصـله وي[۸]. رواه ابن ماجه

---

[۶] عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ، وَعَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ مُحْتَسِبًا ، بُوعِدَ مِنْ جَهَنَّمَ مَسِيرَةَ سَبْعِينَ خَرِيفًا " . قُلْتُ : يَا أَبَا حَمْزَةَ ، وَمَا الْخَرِيفُ ؟ قَالَ : الْعَامُ. رواه ابو داود.

[۷] قَالَ عَلِيٌّ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : " مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ ، وَإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ " . قَالَ أَبُو عِيسَى : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. جامع الترمذي.

[۸] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنْ عَادَ مَرِيضًا ، نَادَى مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ ، وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا ". سنن ابن ماجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې د ناروغي او د ناروغ د پوښتني ډېر فضايل دي.

# دوصيت كول

د جمهورو علماو په نزد وصيت مستحب دی.

ځينو محدثينو ويلي دي چې د قرضـــونو په اداء كولو، او كوم واجب امانتونه چې په مړي وي په هغو وصيت كول واجب دي.

نو دا چې د مرګ هيڅ درك نه لګېږي او هيچا ته نه معلومېږي چې كله به مري، او په ژوند كې ډېري پېښــــي را منځته كېږي لكه: يو چاته پور (قرض) وركول له چا قرض اخيســـتل، ځوك امانت ورته ږدي يا خپل شيان له بل چاته سره امانت ږدي داسې ډېر نور حقونه وي وربانديې، نو ښه خبره دا ده چې د هر څه په اړه له خپل ځان سره وصيت وليكي او ويې ساتي.

د دې لپاره كه خامخا يو ناڅاپه ومري يا بله پېښه را منځته سي نو د ده له وصيت څخه به يې خپلوان خبر سي، او د ده غاړي به د نورو خلكو له حقونو خلاصي سي او له عذابه به وساتل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وصیت فضیلت

له عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي: رسول الله صَلَّی الله عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصَى فِيهِ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

د مسلمان سړي لپاره حق نسته چې یو شی یا څه ولري چې وصیت پکې کېږي، او دوه شپې پرې تېري سي او له ده سره یې وصیت نه وي لیکلی.

یعنی د احتیاط او مرګ ته د بیداري په وجه ده ته دا حق نسته چې وصیت کول پرېږدي یعني ضرور دي وصیت ولیکي او له ځان سره دې کېږدي.

همدارنګه له جابر (رض) څخه روایت دی وایي رسول الله ﷺ وفرمایل: مَنْ مَاتَ عَلَى وَصِيَّةٍ مَاتَ عَلَى سَبِيلٍ وَسُنَّةٍ، وَمَاتَ عَلَى تُقًى وَشَهَادَةٍ، وَمَاتَ مَغْفُورًا لَهُ. (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.)

څوک چې په داسې حالت کې مړ سي چې وصیت یې کړی وي، په سمه سیخه لاره سم او ښه دلیل سره وفات سوی دی، او په تقوا باندې وفات سوی دی، او په شهادت (حکمي) سره وفات سوی دی، او په داسې حالت کې وفات سوی دی چې ده ته ښښنه سوې ده.

یعني یوازي د وصیت په وجه دی د تقوا، شهادت او ښښني مرتبې تر لاسه کوي، چې دا ډېري لوړې مرتبې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په وصيت کې احتياط پکار دی

ابو هريره (رض) له رســول الله څخه روايت کړی دی فرمايلي يې دي((إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ وَالْمَرْأَةُ بِطَاعَةِ اللَّهِ سِتِّينَ سَنَةً، ثُمَّ يَحْضُرُهُمَا الْمَوْتُ، فَيُضَارَّانِ فِي الْوَصِيَّةِ، فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ))، (وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.)

شپېته کاله يو سړی يا ښځه د الله ﷻ په اطاعت سره عمل کوي بيا چې کله دوی ته مرګ راسـي نو دوی په وصـيت کې ضـرر ورسـوي (خپلو وارثانو ته) نو د دوی لپاره د جهنم اور لازم سي.

يعني شپېته کاله يو سړی يا يوه ښځه نېك عملونه کوي عبادتونه کوي، خو کله چې مرګ ورته راسـي نو دوی خپل مالونه نورو خلکو ته ورکړي (نورو خلکو ته وصـيتونه ورباندې وکړي) او په دې کار سـره خپلو خپلوانو او وارثانو ته ضـرر رسـوي او په دې کار سـره دوی د عذاب مستحق وګرځي (عذاب به ورکول کيږي).

همدارنګه له انس (رض) نه روايت دی وايي: رســول الله (ﷺ) وفرمايل: ((مَنْ قَطَعَ مِيرَاثَ وَارِثِهِ، قَطَعَ اللَّهُ مِيرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)). رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ

څوك چې د کوم وارث د ميراث حق پريکړي (ور يې نکړي) ، د قيامت په ورځ به الله (ﷻ) د ده ميراث له جنت څخه ورنکړي( جنت ته به يې داخل نکړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني کـه کوم څوك خپـل وارث يـا خپلوان لـه خپـل ميراثي حق څخـه محروم کړي الله ﷻ بـه دغـه کس د آخرت لـه ميراث (جنت) څخـه محروم کړي.

نو په وصيت کې هم احتياط پکار دی بايد په وصيت سره خپلو خپلوانو ته ضـرر ونه رسـول سـي نه بل چاته پرې ضـرر او تکليف ورسـول سـي، بلکې داسې وصيت بايد وکړل سي چې غاړي پرې له هره لحاظه خلاصې سي.( مرقاة المفاتيح )

## دځنکدن حالت

کله چې په کوم کس د مړينې اثار راښـکاره شـول: نو يا خو دې په ښـي اړخ پرېباسي (ځملوي) او مخ دې يې قبلې ته وګرځوي. او غوره داده چې مړکېدونکی کس دې سـتونې سـتغ کړي او مخ دې قبلې ته وګرځوي. دا په هغه صورت کې چې مړکېدونکي ته کوم تکليف نه وي، او که تکليف و، بيا چې څه ډول ارام پروت وي هغـسـي دې څملول شـي. کتاب النهرالفائق شرح کنزالدقائق لسراج الدين نجيم الحنفي باب صلاة الجنائز

بيا دې د کلمې تلقين ورته وسـي: دا معنا چې د هغه په خوا کې څوك ناست وي هغه دې د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله کلمه په جګ غږ وايي، او مړ کېدونکي کس ته دې ور اوروي ترڅو يې هغه هم ووايي. دابه نه ورته وايي چې کلمه ووايه ځکه چې هغه په سـخت حالت کې وي خدای مکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ونه وايي چې نه يې وايم. كتاب تحفة الملوك فى فقه مذهب الامام ابو حنيفه النعمان للرازي فصل فى الميت

## د مړ کېدونکي کس تر څنګ کړنې (عملونه)

د داسې کس تر څنګ سورت ياسين تلاوت کول مستحب دي.

د ځنکدن په وخت کې مړکېدونکي ته اوبه ورکول مستحب دي، ځکه د روح وتلو په وخت کې تنده زياته وي، دا له صحابه وو څخه هم ثابت دي. امداد الاحكام

کله چې روح لاړ شي يعني وفات شي: نو بيا دې يې سترګې ورپټې کړي او په پاکه جامه دې زنې وروتړي، داسې چې يوه پاکه ټيره (رتاړه) دې راواخلي او له زنې لاندې به يې راتاو کړي او په سر به يې وتړي.

ځکه که خلاص پاته سي بيا مړی بد ښکاري او د زنې تړل له مسلمانانو په ميراث پاته دي. كتاب تحفة الفقهاء للسمرقندي

تر مړينې وروسته دې د پښو ګوتې نږدې سره وتړي چې پوندې يې سره لرې نه شي، بيا دې څادر يا بل څه ورباندې وغوړول شي. بهشتي زېور

بيا دې ورو ورو اندامونه سم کړي او په کټ يا تخته دې کښېږدي چې د انتقال په دوران کې له کوم تکليف سره مخ نشي، او په کومه جامه کې يې چې ساه ورکړې وي هغه دې ترې وايستل شي.

جامه به داسې ترې وکاږي چې ټول کالي به ترې لرې کړي، اول به کميس ترې وکاږي په داسې شان چې ګرېوان به يې ور څيرې کړي او کميس به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې لرې کړي، بیا به یې په عورت یو رخت ور اوار کړي چې له نامه څخه نیولې تر ځنګنو پورې وي، او بیا به پردوګ ورځخه وباسي. کنز کلان

## په مړو تلوار کول ښکار دي

بیا مستحب دا ده چې په تیارولو کې یې تلوار وسي ځکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي: پرمړو باندې تلوار کوئ که خیر او ښه وي نو ژر یې ورورسئ او که بد وي نو د دوزخیانو لپاره لریوالی دی. یاني هسې یې لرې کوئ، او که خلکو ته د جنازې لپاره اعلان وسي کومه ستونزه نشته ځکه چې دا د خیر کارته د خلکو رابلل دي او خیر ته خلك رابلل خپله د ثواب کار دی. کتاب تحفة الفقهاء للسمرقندی

## د مړي غسل

مړي ته غسل ورکول په نورو مسلمانانو فرض کفایي دي. یعني که یو څو کسان غسل ورکړي د ټولو غاړې خلاصېږي، او که څوك انکار ترې وکړي کافر دی، د رسول الله ﷺ په دې قول سره د هغه چا په حق کې چې له اوښ څخه لوېدلی و: «اغسلوه بماء وَسِدْرٍ، وكفنوه في ثوبيه» متفق علیه

په اوبو د سدر په ونې(پاڼو) سره غسل ورکړئ، او پخپلو جامو کې یې دفن کړئ.

کله چې د مړکېدونکی کس مرګ یقیني شي بیا تلوار وربانديې کول سنت دي او که مخکې له غسل څخه دفن کړل شي، نو راکیښل یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاژمي دي او غسل دې ورکړي. که چېرته د وژل شوي کس زياته برخه پيدا شوه، بيا دې لمونځ ورباندې وکړل شي کنه نو لمونځ دې ورباندې ونه کړل شي. او تيمم قايم مقام د غسل دی کله چې اوبه پيدا کول ناممکن شي، يا غسل ورکول نا ممکن شي، لکه دا وېره وي چې بدن به يې وشرېږي که غسل ورکوي، او که د بدن شرېدلو وېره نه وه يوازې دې اوبه ورباندې توی کړي دا کافي ده. الفقه الاسلامي وادلته

## مړي ته د غسل ورکولو لامل

مړي ته غسل د بې اودسي له کبله ورکول کېږي، ځکه د انسان جسد او وجود پاك دی او داچې ټول بدن يې مينځل کېږي له دې وجې چې همدا يو ځل يې دی بيا ځلې نه تکرارېږي يعني حاجت يې کم دی. او ځينو نورو علماو ويلي چې د مرګ په وجه د مړي جسم پليتېږي د همدې پليتي له کبله غسل ورکول کېږي. د بې اودسي له وجې نه ورکول کېږي.
الحميط البرهاني

## د غسل لپاره اړين سامان

۱: د غسل ورکولو لپاره د اوبو لوښی چې څومره ته اړتيا وي، که څه هم په کور کې استعمال شوی وي خو بايد پاك وي.
۲: لوټه (ګيلاس) يا بدنۍ مطلب د اوبو راخيستلو لوښی که څه هم استعمال شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: د غسل تخته. لکه په ډېرو جوماتونو کې چې ایښې وي یا داسې بله تخته.
۴: د استنجاء لوټې درې دانې.
۵: عطر
۶: ګانچه یعني پاکه رویي.
۷: صابون
۸: د سـرې لپاره څه د پاسـه یو متر اوږده ټوټه. د مېرمنې لپاره یو نیم متر رنګه ټوټه ځکه په رنګه ټوټه کې ستر ښه وي.
۹: دوه دانې پاکې ډبلې جامې چې دسـتکلې یعني د لاس لپاره کڅوړې ترېنه جوړې کړي چې غسـل کونکی یې په لاس کړي. د میت مسـائل (رفعت قاسمي) ببره لوبان او کافور مو نه دي ذکر کړي.

## استنجاء

په لاس به ډبله جامه تاووي ځکه د عورت لمس کول او نظر ورته کول دواړه حرام دي. کتاب حاشیة الطحطاوي

اول به استنجاء په لوټو ور وهي او درې لوټې به کاروي.

بیا به په اوبو استنجاء ورکوي داسې: چې هغه د توکري ډبلې کڅوړې یا دسـتکلې به ورته په لاس کړي، او د هغه رخت لاندې به لاس وروغځوي چې د مړي په عورت اچول شـوی دی، او اوبه به وربانديې واچوي او په لاس به یې وموښي او دا به په اوبو استنجاء سي. کنز کلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



- استـــنجاء كه په لوټو ور وهي او كه په اوبو اړينه دا ده چې د مړي عورت ښكاره نه شي او پوره خيال به يې ساتي، ځكه عورت ته نظر كول حرام دي هغه كه د مړي وي يا ژوندي. كتاب حاشية الطحطاوي

## مړي ته اوس وركول

- بيا به بشـــپړ اودس وركوي كه مړی د اوداســه وړ وي يعني وړوكی نه وي، پرته له مضمضې (خولې مينځلو) او استنشاقه (پزې مينځلو) يعني په خوله او پوزه كې به يې اوبه نه ور اچوي، داسې چې: الفقه الاسلامي و ادلته

**اول:** علماو مســتحب ګڼلي چې خوله به يې ورپاكوي داســې چې غســل وركونكی به په ګوته ځيره (رتاړه) ورتـه واچوي او لنده به يې كړي او د مړي غاښونه به پرې باندې پاك كړي.

**دوهم:** همدارنګه به پوزه ور پاكه كړي داسې چې يوه ټوټه رخت به داسې تاو كړي لكه ګوته او لوند به يې كړي او بيا به يې پوزه ورباندې ورپاكه كړي.

**دريم:** به مخ ور ومينځي داســې چې كمې اوبه چې پاكونكی شــی لكه د ځينو ونو پاڼې او داســې نور... څه پكې ګډ شــوي، او داســې اوبه نه وي بيا دې خالصې اوبه را واخلي پرې توی به يې كړي او مخ به يې ورباندې ور ومينځي.

**څلورم:** به يې ځنګلې ور ومينځي اوبه به پرې توی كړي او وبه يې موښي تر څو پوره لندې سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم**: به په سر مسح ور وکړي (په سر به يې لوند لاس ورتېر کړي).

**شپږم**: به پښې ور ومينځي اوبه به پرې توى کړي او وبه يې موښي تر څو سمې لندې سي

## مړي ته له اودس ورکولو وروسته بشپړ غسل

-کله چې پښې مينځل خلاص شول بيا به تخته درى ځله خوشبويه کړل شي عطر دې پرې ووهل شي ځکه په دې کې د مړي تعظيم دى، او طاق وارې به يې ځکه کوي نبي ﷺ همداسې امر کړى دى بيا به: اول سر او ږيره ور ومينځي، صابون يا شامپو دې هم پرې ووهي او پاك دې کړي.

-کله چې د سر مينځل خلاص شول بيا دې مړى په چپ اړخ کړي، او ښى اړخ دې ور ومينځي داسې چې اول دې اوبه پرې توى کړي ودې موښي بيا دې صابون يا شامپو يا بل داسې پاکونکى شى پرې ووهي ودې موښي، له اوږو نيولې بيا تر پښو پورې شا او مخ دواړه اړخونه دې صفا کړي، کله چې. صابون پرې ووهل شو بيا دې اوبه پرې توى کړي، او په دې سره به د مړي ښى اړخ پاك سي.

بيا به يې په ښي اړخ واړوي او چپ اړخ به يې هم د ښي اړخ په شان ور ومينځي.

دا يو ځلي مينځل شول او فرض کفايي ادا شول او دوه ځله به نور هم غسل ورکوي تر څو سنت هم ادا سي. که بيا هم مړى پاك نه شو نو پنځه او اوه ځله هم غسل ورکولى سي مهمه داده چې غسل به طاق وارې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



–کله چې غسل ورکول خلاص شول دواړه اړخه ومينځل شول بيا به مړي ته تکيه ورکړي او کېنوي به يې او په خېټه به يې نرم لاس ورتېر کړي، نو که کوم څه ورځخه ووتل هغه دې ورومينځي نو مړی پاکېږي او غسل راګرځولو ته اړتيا نشته. کتاب النهرالفائق شرح کنزالدقائق

–او هغه جامه چې د مړي په عورت پرته وي که د نجاســت وتلو له وجې مرداره ســي دری ځله دې اوبه ورباندې واچول ســي پاکېږي، او که بله جامه وه بيا دې بله جامه ورباندې واچول سي.

–کله چې غســل په بشــپړه توګه پايته ورسېږي: نو بيا دې مړی له ابو نه په ګانچه يا يوه پاکه جامه وچ کړي د دې لپاره چې کفنونه لاندې نه کړي، او بيا به يې په ږيره او سر خوشبويي ور ولګوي، او په تندي، پزه، دواړو ورغوو، د زنګنونو په ســترګيو، ســترګو، غوږونو او تر بغلونو لاندې، خوشــبويي ور ولګوي. دا خوشــبويي لګول مســتحب دي، غوره داده چې کافور ور ولګوي. (النهرالفائق)

همدارنګه خوشبوی شی دود کول هم مستحب دي. مسائل ميت رفعت قاسمي

– او وېښتان او ږيره به نه ور ږمنځوي، نوکان به يې هم نه وراخلي يعني نه به يې ورکموي او که کوم نوك مات ســـي په دې کې کومه ســـتونزه نسته، او نه به يې هم وېښتان ورکموي. کتاب النهرالفائق

## مړي ته څوك غسل ورکولی سي؟

**ځواب:** ۱. مړي ته هر يوه شخص غسل ورکولی سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. نابالغ هلك او نجلۍ ته سړي او ښځې دواړه غسل ورکولی سي.

۳. مراهقې نجلۍ ته یعني چې بلوغ ته نږدې وي سړي غسل نه سي ورکولی، بلکې. ښځې به غسل ورکوي او که ښځې نه وې بیا دې محرم سړی تیمم ورکړي، او که محرم یې هم نه وو بیا دې بل څوك له لاسونو جامه تاو کړي او تیمم دې ور ووهي او کفن دې پرې واچوي لمونځ دې پرې وکړي او دفن دې کړي.

۴. سړي ښځو ته غسل نه سي ورکولی او ښځې سړو ته غسل نه سي ورکولی.

– که چېرته ښځه مړه سي او نورې ښځې نه وي چې غسل ورکړي بیا به محرم سړی تیمم ور وهي. او که محرم یې هم نه وي بیا به بل څوك له لاسونو جامه تاو کړي او تیمم به ور ووهي.

– مېړه هم خپلې ښځې ته غسل نه سي ورکولی او که تیمم ور وهي په لاسونو به جامه تاووي.

– که سړی مړ سي او نور سړي نه وي چې غسل ورکړي، نو خپله ښځه یې غسل ورکولی سي. ځکه چې ښځه د خپل مېړه په عدت کې ده او خپل مېړه ته یې کتل جائز دي او که خپله ښځه یې نه وه بیا دې کومه محرمه ښځه تیمم ورکړي او که محرمه ښځه هم نه وه بیا دې بله ښځه په لاسونو جامه تاو کړي او تیمم دې ور ووهي.

– **خنثيٰ مشکل:** چې نه نروالی پکې غالب وي او نه ښځوالی دېته به هم تیمم ورکول کېږي او په پنځو جامو کې به کفن ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوم مړي ته غسل ورکول کېږي او کوم مړي

# ته غسل نه ورکول کېږي ؟

**ځواب:** ۱. په شهید کې چې د شهادت ټول شرائط موجود سي غسل نه ورکول کېږي، او که د شهادت ټول شرائط نه شول پکې موجود بیا غسل ورکول کېږي. مسائل میت رفعت قاسمي

۲. یاغي او لاره وهونکی که د جنګ په حالت کې مړ سي غسل نه ورکول کېږي.

۳. مرتد ته غسل نه ورکول کېږي.

۴. ځان وژونکي ته به غسل ورکول کېږي.

۵. کوم بچی چې ژوندی پیدا شو بیا لږ ساعت پس مړ سو یا في الحال مړ سونو هغه ته به هم په دې طریقه غسل او کفن ورکول کېږي، نوم به هم پرې کېښودل کېږي او جنازه به یې هم کېږي.

۶. کوم بچی چې له مور نه مړ پیدا سو او د پیدا کېدو په وخت کې د ژوند کوم اثر او نښه ورباندې ښکاره نه سوه هغه ته هم غسل سته او کفن یې یوه جامه ده او نوم ورباندې کېښودل غوره دي.

۷. مراهقه نجلۍ یعني چې بلوغ ته نږدې وي هغه هم د بالغې نجلۍ په شان ده په غسل او کفن کې دومره خبره ده چې د بالغې نجلۍ لپاره تاکید دی او د نابالغې لپاره غوره ده.

۸. کومه نجلۍ چې وړه وي هغې ته پنځه جامې غوره دي، او دوه جامې هم ورته جائز دي چې یوه لفافه او یو ټادر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. که وړکی هلك مړ سي او ښځې غسل ورکوي نو غسل او کفن یې داسې دی لکه څرنګه چې بیان شول د لویانو پشان.
۱۰. که د سړي په کفن کې یوازې دوه جامې وې هم بس دي او یوه جامه مکروه ده خو که ناچاري وه بیا یوه هم بس ده.
۱۱. که حمل نقصان وغورځېږي څه لاس پښې وغیره یې نه وي جوړ شوي نو په یوه جامه کې به یې کفن کړي او غسل یې نسته، او که څه اندامونه یې جوړ سوي وي نو بیا یې د مړ بچي حکم دی یعني غسل به ورکوي او په یوه جامه کې به یې ونغاړي او دفن به یې کړي پرته له جنازې، او نوم ورباندې کېښودل غوره دي.
۱۲. که د بچي صرف سر راووتلو هغه وخت ژوندی وو بیا مړ سو نو د مړه پیدا سوي حکم یې دی، خو که له نیمایي زیات راوتلی وو او ژوندی وو بیا مړ سو نو ژوندی ګڼل کېږي. که د سر له طرفه وو تر سینې پورې او که سرچپه وو تر نامه پورې راووځي ژوندی به ګڼل کېږي. درسي بهشتي زېور، د میت مسائل (رفعت قاسمي) او الفقه الاسلامي و ادلته

## مړي ته د غسل ور کول شرطونه

د مړي غسل فرض کېدل څو شرطونه لري:

**لومړی داچې**: مسلمان به وي، کافر ته غسل ورکول فرض نه دي.

**دوهم داچې**: اسقاط شوی (نقصان کړی شوی) بچی به نه وي، ځکه اسقاط شوي بچي ته غسل ورکول فرض نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم شـرط دا دی**، د مړي له سـر سـره به د هغه د بدن نیمه یا تر هغې زیاته برخه وي، کنه نو غسل ورکول مکروه دي.

**څلورم شرط دا دی**: چې هغه به شهید نه وي، چې د الله جل جلا له د نوم لوړولو په سبب وژل شوی وي ځکه رسول الله ص د احد د شهیدانو په اړه وویل: "لَا تُغَسِّلُوهُمْ ، فَإِنَّ كُلَّ جُرْحٍ أَوْ كُلَّ دَمٍ ، يَفُوحُ مِسْكًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ" وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ . رواه احمد

دوی ته غسـل مه ورکوئ، د دوی د هر ټپ د وینې به د قیامت په ورځ د مشکو بوی ځي. الفقه الإسلامي و أدلته

– که اوبه نه وې او یا د مړي جسد دغسـل وړ نه وړ نه وي، د غسـل پر ځای دې تیمم ورکړي. مثلًا څوك په سـوزېدلو ومري او دا وېره وي چې په مینځلو شړېږي او د بدن غوښـې یې تویېږي، تیمم دې ور ووهي، خو که د اوبو په بهولو یې بدن نه شـړېده تیمم دې نه ورکوي، پرته له مښـلو دې اوبه وربانديې تېرې کړي.

– که د مړي جسد دپاړسوب په وجه د غسـل کولو قابل نه وي، یعني له لاس وروړلو څخه یې د چاودېدلو اندېښـنه وي، یوازې د اوبو تویول وربانديې کافي دي ځکه مښل ضروري نه دي. که یې فقط نس پړسېدلی وي او د اوبو تویول وربانديې ممکن نه وي، نور بدن دې ومینځي او پر نس دې مسـح وکړي، لکه د ژوندي لپاره چې یې حکم دی. (لکه چې په اوداسـه او غسـل کې چې د معذور سـړي لپاره څه حکم دی، که یې په کوم اندام پټۍ یا پلسـتر لګولی وي، هغه دې مسـح کړي او نور دې ومینځي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



– که څوك تر دېوال لاندې سو يا په اور کې وسوځېد او مړ سو، غسل ورکول کېږي، خو که د غسل په ورکولو سره يې د بدن پوستکی بېلېږي، يا بله ستونزه وي نو تيمم دې ورکړي. مسائل ميت (رفعت قاسمي)

## مړي ته د تيمم ورکولو طريقه

طريقه يې داده چې تيمم ورکوونکی به دوه ځله خپل لاسونه پر پاکه ځمکه ووهي، يو ځل به د مړي مخ مسح کړي او په دوهم ځل به د مړي لاسونه تر څنګلو مسح کړي. لکه په خپلو لاسو چې تيمم وهي. د ميت مسئلې رفعت قاسمي

# د کفن بيان

مړي ته کفن ورکول فرض کفايي دی: يعني که يو څوك کفن ورکړي د ټولو غاړې خلاصې دي او که يو هم کفن ورنکړي ټول ګناهګار دي، او منکر يې کافر دی.

مړي ته کفن ورکولو په مسلمانانو فرض کفايي دي، د رسوالله ﷺ د دې قول په اساس چې د محرم (احرام تړلي) په اړه يې وفرمايل: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته يو سړی را وستلی شو، چې خپلې اوښې (اچولی وو) غاړه يې ماته شوې وه، نو مړ شو او دی محرم و (په احرام کې و) نو رسـول الله ﷺ وفرمايل: ده ته په خپلو (د احرام) جامو کې کفن ورکړئ، او په اوبو او د سدر په ونه غسل ورکړئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سر يې هم مه ورپټوئ، بېشکه الله ﷻ به د قيامت په ورځ دی راپورته کوي او تلبيه به وايي.[٩]

د تکفين مصارف او د مړي د تجهيز لکه تر مقبرې رسول، دفن کول او دېته ورته نور مصارف به د مړي له ترکې څخه کېږي، يعني هغه مال څخه چې د نورو حق نه وي پوري تړلی (لکه ګرو شوی مال به نه وي).
الفقه الاسلامي وادلته.

– غوره کفن هغه دی چې د سپين رخت وي، نور هم جائز دي، داسې رختونه چې په ژوند کې يې کارول ورته مباح وي له مرګ وروسته يې کفن هم ورته مباح دی. مسائل ميت (رفعت قاسمي)

– په حديث شريف کې دي: له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې څوك خپل ورور ته کفن ورکوي، نو ښه کفن دې ورکړئ[١٠]. رواه مسلم

–ګرانبيه کفن مکروه دی او د ډېرې ټيټې بيې کفن هم نه ښايي.

– کفن بايد دومره وي چې د مړي ټول بدن پټ کړي که نر وي او که ښځه وي.

---

٩ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: " أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ ، وَقَصَتْهُ رَاحِلَتُهُ ، فَمَاتَ وَهُوَ مُحْرِمٌ ، فَقَالَ : كَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ ، وَاغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ ، وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ ، فَإِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُلَبِّي ". روه ابو داود، و رواه الجماعة عن بن عباس (نيل الاوطار).

١٠ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «إِذَا كَفَّنَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُحْسِنْ كَفَنَهُ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مړي کفن د چا پر ذمه دی؟

ځواب: د مړي کفن دې د هغه له شخصي شتمنۍ څخه ورکړل سي هغه چې د بل چا ورسره شريکه نه وي.

که د مړي شخصي شتمني نه وه نو کفن يې پر هغه چا لاژم دی چې په ژوند کې يې لګښت وربانديې لاژم وو.

–د مېرمنې کفن د مېړه په ذمه دی.

## د کفن ډولونه

کفن درې ډوله دی: ۱. سنت کفن ۲. کفايي کفن ۳. د ضرورت کفن. [11]

---

[11] کفن درې ډوله دی: ۱:.. ضروري کفن، ۲:.. کفايي کفن او ۳:.. سنت کفن.
دا درې واړه به د نارينه لپاره وي او يا به د ښځې لپاره. او کمې جامې چې سړي ته کفن پکې ورکول کېږي دوه جامې دي، او سنت کفن د سړي درې جامې دي، او کمه اندازه کفن د ښځې درې جامې دي او سنت کفن يې پنځه جامې دي.
۱: ضروري کفن: دا دی چې د ضرورت په وخت کې پيدا شي، هغه که يوازي يوه جامه، د عورت د ستر په اندازه وي هم بس دی. که همدومره اندازه کفن هم نه وي، نو په اذخرو يعني وښــو دې پټ کړي، له دفن کولو وروســته دې پر قبر لمونځ وکړي. دليل يې د خباب ابن ارت رضي الله عنه حديث دی: " هَاجَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَغِي وَجْهَ اللَّهِ , وَوَجَبَ أَجْرُنَا عَلَى اللَّهِ , فَمِنَّا مَنْ مَضَى لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ فَلَمْ نَجِدْ شَيْئًا نُكَفِّنُهُ فِيهِ إِلَّا نَمِرَةً , كُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ , فَإِذَا غَطَّيْنَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَأْسُهُ , فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُغَطِّيَ رَأْسَهُ بِهَا وَنَجْعَلَ عَلَى رِجْلَيْهِ مِنْ إِذْخِرٍ , وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا " . رواه البخاري، و احمد، و النسائي.
موږ له سـول الله ﷺ سره صرف د الله ﷻ د رضا لپاره هجرت وکړو. نو زموږ اجر په الله تعالي دی، په موږ کې چې کوم خلک تېر شـول، او هغوی په دنيا کې هيڅ برخه ونه موندله، په هغوی کې مصعب ابن عمير هم و، چې د احد په جنګ کې شهيد سو، دوی يو کرښه لرونکی څارد پرې ايښی. و، کله به يې چې پرې د ده سر پټاوه نو پښې. به يې ښکاره سوې، او چې پښې. به مو پټولې، نو سر به يې ښکاره سو. موږ ته رسول الله ﷺ چې د مصعب سر پټ کړو. او په پښو يې واښه ور واچوو. تسهيل الهدايه: ج۲، ص۴۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. **سنت کفن**: د نارینه په سنت کفن کې کمیس، پردوګ او څادر شامل دي. او د ښځې په سنت کفن کې کمیس، پردوګ، څادر، پړونی او سینه بند شامل دي.

– څادر (لفافه) : له سر څخه نیولې تر پښو پورې وي.

– پردوګ (ازار) : له تندي څخه نیولې تر پښو پورې.

– کمیس (قمیص): له غاړې څخه نیولې تر پښـو پورې. په کمیس کې به لســتوڼي او څاکونه نه وي یعني غاړه به یې ګنډل شــوې نه وي، او د کمیس غاړه دې په بیاتي (قیچي) باندې د مخ یا شا لورته وچیري تر څو د مړي سر ترې وایستل سي.

او د ښـځو لپاره دا دوه جامې چې سینه بند او ټکری ورته ویل کېږي هم سنت دي.

---

۲: کفایي کفن: هغه کمه جامه چې په ژوندونې یې اغوندي، او له مرګ نه وروسـته یې هم واغوندي. او هغه د سړي لپاره دوه جامې دي: ازار (پردوګ) او لفافه (څادر) په اصــح روایت سره، او د ښـــځې لپاره: دوه جامې او ټکری دي او له دې څخه کم مکروه دی.

د سړي د کفن وجه: د ابوبکر الصــدیق رضي الله عنه د هغه قول په اســاس چې د مرګ په مهال یې وویل: «کفنوني في ثوبيّ هذين اللذين كنت أصلي فيهما، واغسلوهما، فإنهما للمهل والتراب» رواه ابن سعد في الطبقات، وذكره محمد بن الحسن في الآثار، و رواه البخاري بمعناه.

ماته په دې خپلو جامو کې په کومو جامو کې به مې چې لمونځ کاوو کفن راکړئ، او دغه دواړه جامې ومینځئ، ځکه دغه جامې د زویو او خاورو لپاره دي. او بل ځکه چې دا د ژوندیو کمه جامه ده.

۳: سنت کفن: د نارینه او ښځې په سنت کفن کې قمیص (کمیس)، ازار او څادر شامل دي.
قمیص له غاړې څخه نیولی بیا تر پښـــو پورې وي. ازار له تندې څخه بیا تر پښـــو پورې وي او څادر هم له سره بیا تر قدمونو پورې وي. د ښځې لپاره له دې سره، سره پړونی او سینه بند هم وي، په قمیص کې به لستوڼي او څاکونه نه وي، څادر دواړو لورو ته څه اندازه تېر وي. د سر له خوا به یې هم په یو شي باندې وتړي او د پښو له خوا هم، ترڅو دمړي د بدن کومه برخه ښکاره نشي. که یې دخلاصیدلو احتمال وي نو له کفن څخه دې یوه ټرانکه(ریښکۍ یا ریتاړه) وباسي او پر مابین کې دې ورباندې وتړي.
که د مړي شتمني کمه او وارثان ډېر وي یا مړی پوروړی وي، په کفایي کفن دې اکتفا وسي.
لومړی دې کفن درې یا پنځه ځله په خوشبویي لوند شي بیادی مړی په کفن شي. الفقه الاسلامي وادلته: ج۳، ص۴۷۴، او فتح ایضاح پښتو شرح د نورالایضاح: ج۲، ص۱۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– سینه بند (خرقه): له بغلونو (تسو) څخه نیولې تر ورنونو او یا هم نامه پورې. دومره سور باید ولري چې سره بند سي.
– ټکری (خمار): چې درې لاسه اوږد وي نږدې یونیم یا دوه متره وي.
۲. **کفایي کفن**: د سړي لپاره دوه جامې دی ۱. پردوګ ۲. څادر (لفافه)، او د ښځې لپاره درې جامې دی ۱. پردوګ ۲. ټکری ۳. لفافه.
۳. **د ضرورت کفن**: چې مړی پکې پټ سي دومره کفن ضروري دی، او که له دېنه هم کم وي بیا دې واښه ورباندې واچوي.

## د ماشومانو کفن

کوم هلکان او نجونې چې بالغې وي او یا بلوغ ته نږدې وي د لویانو ښځو او سړیو په شان غسل او کفن ورکول کېږي.

که کوم ماشوم مړ پیدا سي یا حمل نقصان سي او وغورځېږي د هغه لپاره کفن یوه جامه کفایت کوي، مسنون کفن ته یې اړتیا نسته. مسائل میت رفعت قاسمي

## په کفن کول

کله چې مړي ته غسل ورکړل سي کټ دې درې یا پنځه یا اوه ځله له هرڅه نه پاك سي، کفن ته دې درې ځله د خوشبویي دوګ ورکړل سي. ځکه نبي ﷺ همداسې امر کړی دی، او که هسې خوشبویي لکه اسپرې عطر یا بل څه پرې ووهل سي هم سمه ده. فتح الایضاح او تسهیل الهدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا دې کفن په کټ وغوړوي او مړی دې پکې کېږدي له پزې غوږونو او خولې څخه يې که د غسل په مهال پنبه پکې ايښې و هغه پنبه دې لرې کړي، خو د ښځې او سړي د کفن اوارولو يا غوړولو او مړی پکې کېښودلو طريقه يو څه فرق لري، نو دلته به بېل بېل وليکل سي.

## د سړي د کفن کولو طريقه

د سړي د کفن کولو طريقه داسې ده چې په کټ باندې به لومړی لفافه وغوړوي، بيا به ازار (پړدوګ) وغوړوي، او بيا د کميس نيمه لاندينۍ برخه چې نوره يې د سر لورته کېښودل کېږي. بيا دې مړی د غسل له تختې ورو راپورته کړي او په کفن کې دې کښېږدي او د کميس چې کومه برخه د سر لورته ايښې ده هغه ورباندې راواړوي او ګرېوان يې غاړې ته سي او د مړي سر ترې وباسي او دکميس پاسنۍ برخه د پښو لورته ورسول سي. تر غسل وروسته يې چې کومه جامه ورباندې اچولې وه هغه ترې لرې سي په سر او ږيره يې څه خوشبويي ووهله سي. خو په ياد دې وي چې نارينه ته زعفران نه استعمالېږي، بيا به په تندي، پزه، ورغوو، د ځنګنونو په سترګيو او دواړو پښو يعني هغو اندامونو چې سجده ورباندې کېږي کافور يا بله خوشبويي ووهله سي. بيا د پړدوګ (ازار) کينه خوا په مړي راواړول سي، وروسته ښی لوری ورباندې راواړول سي. يعني داسې چې چپه خوا لاندې او ښۍ خوا باندې سي. بيا به لفافه هم همداسې راواړوي چې چپه خوا لاندې او ښۍ خوا د پاسه ورباندې واړوي. بيا به يوه ريښکۍ (رتاړه) د کفن سر لوری او پښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوری وتړل سي او په ملا کې به هم په یوه ټوټه وتړل سي تر څو د وړلو په وخت کې کفن خلاص نه سي. فتح الایضاح پښتو شرح د نورالایضاح

## د مېرمني د کفن کولو طریقه

د مېرمني لپاره لومړی لفافه اچول، بیا وروباندې سینه بند اچول، بیا وروباندې پردوګ (ازار) او وروسته د کمیس لاندینۍ برخه چې برسېرنه برخه یې له سر سره کېښودل سي، بیا دې مړی ورو راواخلي او په کفن کې دې کېږدي، او د کمیس پاسنۍ (برسېرنه) برخه دې د سر له لوري وروباندې راکش کړي او پرې وادې چوي، داسې چې د کفن سوری غاړې ته راسي او د مړي سر ترې ووځي او د پښو لورته کش سي. کله چې کمیس وروباندې واچول شو نو هغه جامه چې له غسل څخه وروسته یې په عورت اچول شوې ده هغه دې ترې لرې کړل سي، په سر به یې عطر یا بله خوشبویي ووهل سي. مېرمني ته د زعفرانو استعمال هم کېدای سي. بیا به په تندي، پزه، ورغوو، او د پښو په سترګیو او پښو کافور یا بله خوشبویي ور ووهي. بیا به یې د سر وېښتان دوه ځایه سي په کمیس د پاسه به په سینه باندې ښي او چپ لورته واچول سي. بیا به سربند (ټکری) په سر او وېښتانو داسې واچول سي چې د مړي مخ تر راووځي لکه په ژوندوني یې چې اغوندي خو بندوي به یې نه. بیا به د پردوګ چپ لوری وروباندې راواړول سي او بیا ښی لوری، داسې چې چپ لوری لاندې او ښی لوری د پاسه پرې راسي، او ټکری پکې دننه راسي. بیا به سینه بند چې تر څنګونو پورې رسېږي اول چپ او بیا ښی لوری را اړول کېږي او چپ لورته بندېږي. بیا به لفافه هم همداسې پرې واچول سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني اول به چپ لوری پرې راتاوسي بیا به ښی لوری، چې چپ لاندې او ښی د پاسه راسي. بیا به کفن د سر او پښو لور ته او هم په ملا کې په یوه یوه ځیره (رتاړه) وتړل سـي، تر څو په وړلو کې خلاص نه سـي. فتح الایضـاح پښتو شرح د نور الایضاح

– که سـینه بند په کمیس د پاسـه او پردوګ لاندې وتړل سـي هم کومه خبره نسته، او که د لفافې د پاسه وتړل سي هم کومه خبره نسته صحیح دي.

– د زمزم اوبه له غسل وروسته په مړي او کفن شیندل د تبرك لپاره جائز دي.

– په کفن خوشبویي لګول مستحب دي خو کومه خوشبویي چې مخکې له مرګ منع وي وروسـتـه له مرګه هم ممنوع ده. د میت مسـائل بحواله فتاوای محمودیه

– ځیني خلګ دا غوښـتنه کوي چې د مړي په کفن یا بدن او یا هم یوه ډبره یا لوټه باندې بسـم الله او کلمه طیبه ورته ولیکل سـي، دې ته علماوو جواز ورکړی دی. او مباح دي. جرأة الأئمة

او ځینو علماوو بدعت بللی دی ځکه چې د خلکو عقیدې وربـانـدې فاسد ېږي.د میت مسائل (رفعت قاسمي)

د لیکلو ترتیب یې داسې دی چې د شهادت په ګوته به یې محسـوسـي ورته لیکي یعني یوازې به ګوته د قلم په ډول پرې وهي او لیکي به یې.

که دا لیکل یې مخکې له کفن کول نو پر تندي به یې بسم الله او پر سینه به یې کلمه ور ولیکي. همدارنګه په تیږه او یا لوټه به یې هم د شـهادت په ګوته ولیکي پرته له دې چې ښـکاره سـي یعني یوازې دې ګوته پرې ووهي. جرأة الأئمة

(c) ketabton.com: The Digital Library



– تر کفن ورکولو وروسته مړی باید داسې ځملول سي چې پښې يې قبلې ته نه وي ځکه چې دا نامناسب کار دی.
– د جنازې د وړلو پر محال په کټ باندې ځادر اچول د مړي عزت دی. او بيا دا ځادر ناخوښ ګڼل عبث دي په استعمالولو کې يې هيڅ ستونزه نسته. د ميت مسائل (رفعت قاسمي)

## په کفن او يا نور ځه خوشبويي وهل:

د مړي د کفن کولو په مهال، حنوط چې له پاکو خوشبويه شيانو مرکب وي، د ميرمن د سر په ويښتانو او د سړي د سر او ږيري په ويښتانو ووهل شي. د ځنګانه سترګيو او پښو چې د سجدې په مهال له ځمکې سره لګيږي، کافور ووهل شي. دا حکم د سړي او ميرمنې دواړو لپاره دی. د سړي لپاره دې له حنوط سره زعفران او نور رنګين خوشبويه شيان نه ګډوي، خو ميرمنې ته اجازه شته. د فقه په ځينو کتابونو کې په ټول جسم د خوشبويي لګولو اجازه ورکړل شوې ده. خو د ستر( له نامه تر ځنګنونو) کتل او لاس وروړلو دي ځان وساتي. ددې صورت داسې کيدلای شي چې کفن وغوړوي او حنوط ورباندې ووهي او کفن په مړي واړوي، ټول جسم به يې معطر شي، داسې د ستر له ليدلو او لاس وهلو ځخه حفاظت کيږي.

–د مړي پر جنازه د ګلانو د ځادر اچولو کوم اصل نشته. د رسول اللهﷺ، صحابه وو او تابعينو له وينا او عمل ځخه ثابت شوي نه دي. که دا شيان د مړي لپاره ګټور وای، نو دې جنابانو به ورځخه سپما کړي نه وه. نو په جنازه باندې د ګلانو ځادر اچول مکروه تحريمي او بدعت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



–په جنازه باندې د ګلانو څادر اچول بدعت دی، له دغسې جنازې څخه انکار کول صحيح دي.

–ميړوښه ميرمن كه مړه شي، د هغې په جنازه يو سور څادر اچول شوی وي، د جنازې لمونځ په دې صحيح دی، د سره څادر پابندي په هيڅ ځای کې هم ثابته نه ده.

–له مسنون كفن سره، سره په جنازه دپاسه سپين څادر اچول څه خبره نه ده، لكه دا عام رواج چې دی، خو د ميرمنې په جنازه رنګه جامه اچول ښــه نه دي. اما كه هغه پاكه وي نو ورســره لمونځ كول هم جايز دی، د لمانځه لپاره د هغه ليري كول ضــرور نه دي، بلكې غوره داده چې بيا رنګه جامه ورباندې وانه چوي، ځکه مســتحب داده چې په مړي باندې سپينه جامه پرته وي.

–په مړي باندې ســيوری د هغه د اعمالو له امله وي، د تودوخې له امه چتری يا د بل څه سيوری مړي ته ضرور نه دی، دا بدعت او ناروا دی.

–شال اچول (په ځانګړې توګه په ميرمنو) د كفارو او جاهليت رواج دی.

–د كفن د رخت څخه بېلې شوې مصلې(جانمازونه) په كفن کې داخل نه دي، هغه دې په كفن کې نه شميرل كيږي. كه يې هغه ټوټه چاته وركړي، هغه يې مالك ګرځي. خو لومړی ددې ټوټې اېښــودل د جای نماز لپاره ضــرور نه دي، كه يې څوك په غلطي ســره بيله كړي نو مالك يعنې ولي دي وساتي يا دې كوم اړ شـخص ته وركړي. كه يې ولي امام ته وركړي، امام ترې څه شــی جوړ كړي او وايې اغوندي نو لمونځ ورپســې صــحيح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-له کفن څخه جامه سپمول او امام ته مصلی جوړول يو غلط رواج دی، ناجايز دی او د کفن په مصـــرف کې داخل نه دی. (د کفن په هکله چې په حديثونو او د فقه په کتابونو کې کومې څرګندونې راغلي دي، په هغوی کې د مصـــلی (جای نماز) ذکر نشـــته او د کفن جامه که يې څوك چمتو کوي پاکوالی يکې شـــرط دی. کومه جامه چې په بازار کې پيدا کيږي هغه پاکه ده، که يې به ناپاکي علم نه وي، پاکه شـــميرله کيږي). د ميت مسائل (رفعت قاسمي)

# د جنازې د لمانځه لپاره تيمم کول

که د جنازې د لمانځه د تېرېدلو وېره وه بيا د تيمم وهلو جواز شـــته، مثلًا لمونځ ولاړ دی او په اودس کولو د لمـانځـه د تېرېدلو وېره وه نو تيمم دي وکړي، او لمونځ دي ونيســـي. که څه هم اوبه وي. د ميت مســـئلې بحواله علم الفقه

# د جنازې لمونځ

د جنازې لمونځ په اجماع ســـره فرض کفايي دی.(که يو څو کســـان يې وکړي د ټولو غاړې خلاصـــېږي او که يې ونه کړي ټول ګناهګار دي) او که څوك انکار ترې وکړي کافر دی. الدرالمختار

له څلورو ډول کسانو پرته پر هر مسلمان د جنازې لمونځ کول فرض دي: ١:.. باغيان، ٢:.. قطاع الطريق (لاره ونکي)، ٣:.. اهل العُصـــبة يا اهل

(c) ketabton.com: The Digital Library



العصـــبية: دا هغه خلك دي چې د ظالمانو مرســـته كوي، يا دا چې په ناحقه د قوميت لپاره جنګيږي. ۴:... مكابر (بېلاري): چې په ښـار كې په وسله او غاړه خپه كولو سره بېلاري كوي، په مفتي به قول سره دا كس قطاع الطريق دى. كله چې له سلاح سره د شپې يا ورځې په ښار كې وي او پرلپسـې يې له غاړو نيول كړي وي... كله چې ووژلى شـي، نه غسـل وركول كيږي او نه هم لمونځ ورباندې كيږي.

اولني درې كسـان كه په جګړه كې ووژل سـي، نه به غسـل وركول كيږي او نه به د جنازې لمونځ ورباندې كيږي. او كه پرته له جګړې په بل حالت كې ووژل سي، غسل او جنازه به يې دواړه كيږي. الفقه الاسلامي و ادلته.

## د جنازې د لمانځه شرطونه:

د جنازې د لمانځه د صحت لپاره دوه ډوله شرطونه دي: **يو هغه چې له لمونځ كونكو ســره اړه لري**، هغه دا دي چې د نورو لمونځونو لپاره وي لكه: ۱. طهارت يعني د لمونځ كونكي د ځان او جامو پاكوالى. ۲. ستر عوت (د عورت پټول) ۳. قبلې ته مخ كول. ۴. نيت كول. وخت د جنازې لپاره شرط نه دى.

**دوهم هغه شرائط دي چې د مړي پورې اړه لري:**

۱. مړى به مسلمان وي.

۲. د مړي بدن او كفن به له هر ډول نجاست څخه پاك وي، كه نجاست د مړي له بدن څخه ووزي بيا پروا نلري، لمونځ پرې صـــحيح دى. كه كوم مړي ته غسـل يا تيمم نه و وركړل شــوى او دفن كړل شـو بيا وروســته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ته ورياد شول چې مړي ته غسل يا تيمم نه دی ورکړل شوی نو په قبر دې بيا لمونځ وکړي ځکه اول لمونځ نه دی صحيح شوی.

۳. د مړي بدن به پټ وي.

۴. مړی به د لمونځ کونکو مخته وي، که شاته وي بيا لمونځ نه دی ورباندې صحيح.

۵. مړی يا هغه شی چې مړی ورباندې ايښې وي هغه به په ځمکه وي، که مړی د خلکو په لاسونو کې وي يا موټر کې وي يا پر کوم حيوان ايښې وي لمونځ نه ورباندې صحيح کېږي.

۶. مړی به موجود وي په غائب لمونځ نه دی جائز. الدرالمختار او د ميت مسائل (رفعت قاسمي).

۷. مړی چې چېرته کېښودل کېږي د هغه ځای پاکوالی ځينو کتابونو شرط کړی دی او ځينو نه دی شرط کړی، په هرحال خو په جرأة الأئمة کې يې د مړي د کېښودلو د ځای پاکوالی شرط کړی دی.

## د جنازې د لمانځه فرضونه :

د جنازې د لمانځه فرضونه دوه شيان دي: ۱:.. څلور واره الله اکبر ويل.

۲:.. قيام: يعني په ولاړه دا لمونځ اداء کول، که څوك پرته له عذره د جنازې لمونځ په ولاړه ونکړي، نونه صحيح کېږي، خو که عذر وي، بيا جائز دی. الدرالمختار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنازې د لمانځه سنتونه :

درې دي: ۱. ثنا ويل: له اول الله اکبر وروسته، ۲. درود ويل: له دوهم الله اکبر وروسته، ۳. دعا ويل: له دريم الله اکبر وروسته. الدرالمختار.

– د جنازې د لمانځه د وجوب سبب مړی دی. تسهيل الهدايه

## په مړي د جنازې د لمونځ حقدار

يعني هغه څوك چې په مړي د جنازې لمونځ وکړي: ۱. حقدار پادشاه دی که جنازې ته حاضر سو.
۲. بيا قاضي حقدار دی که پادشاه نه و.
۳. بيا که قاضي نه و د کلي ملا امام غوره دی.
۴. که د کلي امام نه وي بيا ولي يعني هغه څوك چې د مړي واکدار وي لکه: پلار، ورور، کاکا......
– او که د مړي دوه وليان سره برابر وو لکه دوه وروڼه، بيا چې کوم يو مشر وي د هغه خبره به منل کېږي.
– که له يادو شويو کسانو څخه کوم يوه د جنازې لمونځ ادا کړ، بيا ولي ته اجازه نسته چې لمونځ را وګرځوي، ځکه چې فرض ادا شول او د جنازې په لمانځه کې نفل نسته، خو له د غو کسانو پرته که بل چا د جنازې لمونځ وکړ بيا که د ولي خوښه وه راګرځولی يې سي. هدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قبر د جنازې د لمونځ کولو حکم

که چېرته مړی خښ کړل شوی و، او د جنازې لمونځ نه و وربانديې شوی، او د دوی غالب ګمان دا و، چې مړی لا نه دی پړسېدلی او چولی نو په قبر دې د جنازې لمونځ وکړي. او که ګمان يې دا و، چې مړی پړسېدلی او چولی دی ، بيا د لمونځ کولو اجازت نسته. هدايه

## د جنازې د لمونځ کولو طريقه

کله چې د مړي غسل او کفن خلاص شول، نو بيا دې تلوار د جنازې وربانديې وکړي. هيڅ خپلوان او بل چا يا څه ته دې انتظار نه کوي، ځکه چې نبي ﷺ په مړي د تلوار حکم کړی دی. نو د مړي ځنډول ناسم او غلط کار دی.

– جنازه به د خلکو مخته راوړي او په پاك ځای به يې کېږدي که ځای پاك نه وي نو لاندې دي ترې پاکه جامه يا بل څه اوار کړل سي او جنازه دې وربانديې کېښودل سي.

– بيا به امام د مړي د سينې په برابر په دومره فاصله لکه سجده چې کېږي مخ په قبله ودرېږي. د رواوالي لپاره که د مړي يو جزء ته مخامخ سي هم صحيح ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– او خلك به شاته درې صفونه جوړ كړي، درې صفه جوړول مستحب دي، كه خلك ډېر او ځاى كم و بيا دې پنځه يا اووه چې تاق وي كه هر ځومره صفونه وي جوړ دې كړي.

– صفونه دې نږدې نږدې ودروي ځكه چې فاصلې ته اړتيا نسته. او بيا به د جنازې لمونځ پيل كړي.

–او دا سنت ده چې د امام د مړي د سينې په برابر ودرېږي،ځكه چې دا د زړه ځاى دى او منځ دى. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد

## د جنازې د لمانځه نيت

امام به داسې نيت وكړي: اَللّٰهُمَّ نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِيْ لَكَ وَأَدْعُوْ لِهٰذَاالْمَيِّتِ. دا هغه وخت كه مړى نارينه و، او كه مړه ښځه وه بيا به د لِهٰذَاالْمَيِّتِ پر ځاى لِهٰذِهِ الْمَيِّتِ ووايي.

– مقتدي به داسې نيت كوي كه مړى نارينه و: اَللّٰهُمَّ نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لَكَ وَأَدْعُوْ لِهٰذَاالْمَيِّتِ إِقْتَدَيْتُ بِهٰذَا الْإِمَامِ.

او كه مړه ښځه وه داسې نيت به كوي: اَللّٰهُمَّ نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لَكَ وَأَدْعُوْ لِهٰذِهِ الْمَيِّتِ إِقْتَدَيْتُ بِهٰذَا الْإِمَامِ. جرأة الأئمة

او الله اكبر به ووايي، لاسونه به غوږونو ته پورته كړي. لاسونه يوازې په اول تكبير كې پورته كېږي، په نورو تكبيرونو كې به د نامه لاندې تړلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– او که مقتدي دومره اندازه نیت هم نسوای ویلی، نو دا هم کفایت کوي چې داسې ووایي: نَوَيْتُ صَلٰوٰةَ الْإِمَامِ.

داسې به ووایي: نیت مي کړی د امام د لمانځه الله اکبر. جرأة الأئمة

– کله چې له نیت تړلو وروسته الله اکبر وویل شول نو لاسونه دي غوږونو ته پورته کړي او بیا دې د نامه لاندې وتړي او سبحانک اللهم به ووایي داسې: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ.

کله چې سبحانک اللهم ویل خلاص شول بیا به الله اکبر ووایي لاسونه به نه پورته کوي، بلکې همداسې به تړلي وي. او درود به ووایي داسې: اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

چې درود خلاص سو بیا به الله اکبر ووایي، او یوه دعا به ووایي. او که یې دا دُعا یاده وه نو د بالغ سړي او بالغې ښځې لپاره به همدغه دُعا ووایي، دُعا دا ده: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا. اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيْمَانِ.

– د ماشوم هلك لپاره به دا دُعا وایي: اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا.

– د لېوني لپاره هم دغه دعا ده که له بلوغ مخکې لېونی سوی و، او که له بلوغ وروسته لېونی سوی و بیا به د لویانو دعا وایي. فتح الایضاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



– د ماشومې نجلۍ لپاره به دا دُعا وايې: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا أَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً.

کله چې دُعا وويل شـــوه بيا به الله اکبر ووايي او ســـلام به وګرځوي. له سلام څخه وروسته کومه دُعا نسته او که خلك کېناستل بيا دعا جائز ده.

– او که د کوم چا د جنازې دعا ياده نه وي هغه دې صـرف اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلِوَالِدَيْنَا وَلَهُ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ، ووايي او که يې دا هم نه يادېږي، نو صرف په څلور واره تکبير ويلو سره يې لمونځ صحيح کېږي، نو له دې امله دې پرته له عذره د جنازې لمونځ نه پرېږدي، چې زما دعا نه ده زده.

فتح الايضاح بحواله درمختار مع شامی و طحطاوي.

– که د جنازې په لمانځه کې داســـې کسان وو چې کوم څه يې نه و زده چې په لمانځه کې يې ووايي نو يوازې د څلورو تکبيرونو په ويلو هم د ده لمونځ صحيح دی. جرأة الأئمة

– که امام پنځم تکبير ووايو نو مقتدي به يې نه وايي، بلکې غلی به درېږي تر څو له امام سره ګډ سلام واړوي. هدايه

–او مسبوق (له چا څخه چې د جنازې څو تکبيرونه تېر سي)دې د امام تکبير ته انتظار کوی او له امام ســره دې تکبير ووايي،ځکه چې هر تکبير د يو رکعت لمونځ په څېر دی،بيا چې کله امام ســلام وګرځوي دی دې هغه پاته تکبيرونه پرلپســې را وګرځوي ،که په دې وېرېدو چې مړی به پورته کړل سي. الفقه الحنفي في ثوبه الجديد

(c) ketabton.com: The Digital Library



– په بل روایت که له چا څخه د جنازې څو تکبیرونه تېر سي، او له هغه وروسته په لمانځه کې شریکېدل وغواړي نو: اول دې تکبیر تحریمه ووایي او بیا دې منتظر سي چې کله امام تکبیر ووایي دی دې هم تکبیر ورسره ووایي، چې کله امام سلام وګرځوي نو دی دې پاته تکبیرونه ووایي او سلام دې وګرځوي. مسنون لمونځ بحواله شرح نقایه

## که په یو وخت کې څو جنازې سره جمع سي؟

– که په یو وخت کې څو جنازې راړل سي، نو غوره داده چې د هر یوه د جنازې لمونځ جلا، جلا اداء کړل سي، او په دوی کې چې هر یو له ټولو افضل وي، اول دې د هغه لمونځ اداء کړل سي، بیا له هغه څخه وروسته افضل چې له مخکیني څخه په فضیلت کې کم وي همداسې پسې....

– او که په ټولو جنازو صرف یو لمونځ کول کېږي او مړي مختلف وي لوی، واړه، ښځې او سړي وي، نو بیا دې هغه جنازې د قبلې پر طرف د امام مخ ته د اوږده صف په شان کېښودل سي. په دې توګه چې د ټولو سینې د امام په مقابل کې راسي، او په اېښودلو کې به اول د امام مخ ته د سړي جنازه کېښودل سي، تر هغه وروسته د کوچني نابالغه هلك، بیا د نرښځي او بیا د ښځې او بیا د کوچنۍ نجلۍ جنازه کښېښودل سي.

الدرالمختار.

– که د کوم عذر او ضرورت په وجه دا څلور سره قسمه جنازې په یوه قبر کې خښول کیږي، نو بیا به ترتیب د دې برعکس وي، یعني د جنازې د لمونځ کولو پرمهال خو تر ټولو په آخر کې د قبلې پر طرف اول د ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنازه اېښوول سوې وه، او له قبلې څخه لرې يعني د امام خواته د سړي جنازه اېښوول سوې وه، نو اوس به د ښځو پر مهال د قبلې پر طرف اول د سړي جنازه اېښوول کېږي، بيا د نابالغه هلك بيا د نرښځي او بيا د ښځي، نو دلته ښځه تر ټولو شاته سوه، لکه په مخکيني صورت کې چې سړي د ټولو شاته وو، او امام ته نږدې او متصل وو، نو لکه څرنګه چې امام سره متصل اول د افضل يعني د سړي جنازه وه همداسې به په قبر کې د قبلې خواته متصل اول د سړي جنازه وي په همدې ترتيب نورې... نور الايضاح

**يادونه:** د ټولو جنازو لپاره دا دعا: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَي الإِسْلَامْ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَي الإِيْمَانْ. کافي ده او د نابالغ د جنازې لپاره که د دې سره د نابالغ دعا هم يوځای کړي نو بهتره ده. فتح الايضاح بحواله درمختار مع الشامي. مراقي الفلاح مع الطحطاوي

## له جنازې وروسته

کله چې جنازه وسي بيا د قبر په لور وړل کېږي. خو کله کله د اسقاط دوره هم کېږي، هغه وخت کله چې د جنازې لمونځ وسي، نو يو عالم ولاړېږي خلکو ته وعظ کوي او مستحقين خلك راپاڅوي او يوه دايره ترې جوړوي، او بيا قرآن کريم له پيسو سره ورباندې ګرځوي، په پای کې دا پيسې په اړمنو خلکو وېشي. د دې بيان چې څه ډول کېږي، د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره رواه کړل شوي او د چا لپاره ناروا ده انشاءالله د اسقاط په بیان کې به راسي.

## په جومات کې د جنازې حکم

۱. که صرف جنازه په جومات کې وي امام او څه خلك له جومات نه دباندې وي او پاته په جومات کې وي نو په اتفاق سره دا مکروه نه ده.
۲. او که جنازه او ټول خلك په جومات کې وو نو دا مکروه ه.
۳. او که صرف جنازه له جومات څخه دباندې وي او ټول خلك په جومات کې وي سره له امامه نو علماوو اختلاف کړی دی، ځیني یې مکروه بولي او ځیني یې غیر مکروه بولي. تسهیل الهدایه

## د ژوندي ماشوم د پیدا کیدو احکام

۱. که کوم ماشوم د ژړا اواز وکړي یعني د ژوند اثر ورباندې ښکاره سي او بیا مړ سي په دغه ماشوم به، هم نوم ږدي هم به غسل ورکوي او هم به د جنازې لمونځ پرې کوي.

۲. که کوم ماشوم د ژړا اواز ونکړي یعني د ژوند کوم اثر ورباندې ښکاره نه سي. نو دغه ماشوم به په یوه ټوټه رخت کې ونغاړي او خښ به یې کړي. ((غوره دا ده چې غسل ورکړل سي او نوم ورباندې کېښودل سي))، خو د جنازې لمونځ نه ورباندې کېږي. هدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنازې د کټ وړلو طريقه

کله چې جنازه او ټول کارونه خلاص شول، بيا به مړی د قبر په لور وړي.

– د مړي کټ به پورته کړي او د کټ ځلور پښې به ونيسي، يعني ځلور نفر دي راسي او هر يو کس دې يوه يوه پښه ونيسي، مسنونه طريقه همدا ده. د نبي ﷺ قول دی: چا چې جنازه له ځلورو طرفونو نه پورته کړه نو د هغه مغفرت به وسي. تسهيل الهدايه

– کله چې جنازه پورته کړي ۱. اول به د کټ د مخته لوري ښۍ پښه په ښي مټ کېږدي او لس قدمه به لاړ سي. د کټ ښۍ پښه هغه ده چې د مړي د ښي لاس لورته وي.
۲. بيا به د کټ شا لورته ښۍ پښه په ښي مټ واخلي او لس قدمه به لاړ سي.
۳. دريم وار به د کټ د مخته لوري چپه پښه په چپ مټ کېږدي او لس قدمه به لاړ سي.
۴. بيا به د کټ د شا لورته چپه پښه په چپ مټ کېږدي او لس قدمه به لاړ سي. په دې سره به د دې کس ځلوېښت قدمه پوره سي او دی به د جنازې له وړلو فارغ سي، او بيا دې د جنازې تر شا پسې روان سي او دا مستحب ده، ځکه مخته تلل مکروه دي، او که شاته ښځې روانې وې بيا غوره داده چې مخته دې روان سي. الدرالمختار
– د جنازې کټ به په تېزۍ سره وړي، خو منډې به نه وهي. رسول الله ﷺ همداسې فرمايلي. هدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



– او هغه ماشوم چې د تي پورې وي يا له تي نه جلا وي او يا لږ غټ وي نو هغه دې يو کس په خپلو لاسونو کې يوسي.
– او که يوڅه لوی وي بيا به يې پر کټ باندې وړي، اوچت او تېز به يې وړي منډې به نه ور سره وهي. الدرالمختار

## دجنازې شاته تلل

کوم خلك چې له مړي سره يو ځای ځي، د هغو لپاره افضل دا ده چې د جنازې شاته په جنازه پسې روان سي، پر يو موقع حضرت علي (رض) قسم واخيستی او ويې فرمايل چې په جنازه پسې شاته د تلونکو فضيلت پرمخکې تلونکو داسې دی لکه د فرضي لمانځه فضيلت په نفلي لمانځه باندې، او که يو څو خلګ له جنازې څخه مخکې روان سي او له جنازې څخه لرې نه سي، نو څه حرج نسته، خو که دا څو خلك له جنازې څخه ډېر لرې سي، يا ټول خلك مخکې روان سي او جنازه شاته کړي، نو دا مکروه دي. فتح الايضاح بحواله انوارالايضاح، درمختار، البحرالرائق، مراقی الفلاح

## له جنازې سره په پښو (پياده) تلل

بهتره داده چې په جنازه پسې شاته تلل بېله ضرورته پر سپارلي نه وي، بلکې په پښو وي؛ ځکه فرښتې د مؤمن کس د جنازې لپاره په پښو ځي، حضرت ثوبان (رض) فرمايي: چې موږ په يوه جنازه کې د نبي کريم ﷺ سره ملګري سوو، نبي کريم ﷺ ځيني خلك وليدل چې پر سپارلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې وو، نو ويې فرمايل: ولې تاسې ته شرم نه درځي! چې د الله ﷻ فرښتې په پښو ځي او تاسې پر سپارليو باندې ځئ. ترمذي

له دې حديث څخه معلومه سوه چې بېله ضرورته له جنازې سره پر سپارلي باندې تلل خوښ سوي نه دي. خو بيا هم که ضرورت وي، مثلًا هديره ډېره لرې وي يا څوك ډېر بوډا او کمزوری وي. نو پر سپارلي باندې تللو کې څه ستونزه نسته خو پکار داده چې سپارلي له خلکو شاته وي چې د خلکو په تګ کې خنډ را نه سي، او له هديرې څخه په بېرته راتلو کې په سپارلۍ باندې هيڅ ستونزه نسته. فتح الايضاح په حواله د تحفة الألمعي، کتاب المسائل، انوارالإيضاح

## په جنازې پسې د تللو په وخت کې ذکر کول

په جنازې پسې پټه خوله (خاموش) تلل پکار دي، او د خپل مرګ او قبر سوال ځواب په اړه فکر کول پکار دي، چې يوه ورځ خو موږ هم مرو د خپلو عملونو حساب به راسره کېږي، او که کوم ذکر کول غواړي نو هغه دې کرار اواز سره کوي، په لوړ اواز قرآن کريم ويل يا بل ذکر کول مکروه تحريمي دي. فتح الايضاح په حواله د طحطاوي

## له جنازې کېښودلو مخکې کښېناستل

کله چې جنازه د قبر خواته را ورسېده او په ځمکه لاته ده ښودل سوې او لا د خلکو په اوږو ده نو له دې کېښودلو مخکې کښېناستل مکروه دي، د جنازې له رارسېدلو مخکې کښېناستل هم مکروه دي، خو که څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library



معذور وي او کښېني نو کومه ستونزه نسته، همدارنګه کله چې مړی په قبر کې ږدي په دې وخت کې هم کښېناستل جائز دي او کومه ستونزه نسته. فتح الايضاح په حواله د انوارالايضاح او شفاءالارواح

## قبر او د قبر کيندلو اندازه به څومره وي؟

د قبر اوږدوالی به د مړي د قد په اندازه وي.

او پراخوالی به يې د نيم قد برابر وي.

همدارنګه ژوروالی به يې د نيم قد په اندازه وي يا تر سينې پورې، دا منځنۍ اندازه ده او که ژوروالی يې د پوره قد په اندازه وي، نو غوره ده او دا اعلیٰ اندازه ده. فتح الايضاح پښتو شرح د نورالايضاح

## د قبر قسمونه (لحد [چې لحد په څنګ کې وي] او شَق [چې لحد په منځ کې وي])

او لحد به جوړوي يعني قبر به داسې جوړوي چې لحد يې په څنګ کې وي، او شق به نه جوړوي کوم چې لحد يې په منځ کې وي او شق ورته وايي، خو که چېرته ځمکه يا خاوره پسته وه بيا شق يعني د قبر په منځ کې هم لحد جوړولی سي، چې د دې شق اندازه هم د مړي د قد په اندازه وي او د پاسه به پرې تختې او داسې بل څه کېښودل سي. فتح الايضاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په قبر کې د مړي د اېښوولو او قبر پټولو طريقه

کله چې جنازه د قبر څنګ ته راورسېږي، نو دلته دي د قبر د قبلې لوري ته اړخ کې ځای ورته اوار کړي، تر څو کټ په څنګ نه سي او مړی ترې ونه غورځېږي. فضل الرحمن "عادل"

مړی د قبلې له لوري قبر ته ور کوزول مستحب دي، په دې ډول کله چې جنازه له قبر سره د قبلې طرف ته کېښوول سي، نو دری کسان دې قبر ته ښکته سي ترڅو مړی قبر ته ور کوز کړي، دا دری کسان به مخ په قبله ودرېږي، داسې چې يو به د سر لوري ته دوهم به په منځ کې او دريم به د پښو لوري ته مخ په قبله ودرېږي، پورتني کسان به مړی په احترام او کراره سره راپورته کړي او دې لاندې کسانو ته دې ورکړي، دا لاندېني کسان به مړی په خپلو لاسونو کې واخلي او په کراره به يې په قبر کې کښېږدي، او په قبر کې د مړي د کېښودلو په وخت کې دې دا الفاظ وايي( بِسۡمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلىٰ مِلَّةِ رَسُوۡلِ اللهِ ﷺ )يا دا( بِسۡمِ اللهِ وَعَلىٰ مِلَّةِ رَسُوۡلِ اللهِ ﷺ ) او په يو روايت کې(وعلى سنة رسول الله ﷺ ) هم راغلي دي.

او مړی په قبر کې په ښي اړخ (راسته اړخ) مخ په قبله پرې باسل سنت دي، نو له دې وجې دې د مړي شاته خټه يا لوټې وغيره ولګول سي د دې لپاره چې مړی په ښي اړخ باندې پاتې سي، او که په ښي اړخ پرې باسل شوني (ممکن) نه وي، نو ستوني ستخ دې پرې باسي او مخ دې يې قبلې ته واړوي، خو صاحب د شفاء الارواح چې دا طريقه د سنت خلاف ده. فتح الايضاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځينو فقهاوو ويلي چې د مړي مخ قبلې ته کول واجب دي. د ميت مسائل رفعت قاسمي

او په قبر کې د مړي له کېښودلو وروسته دي د هغه د کفن غوټې خلاصي کړل سي؛ ځکه اوس د کفن خلاصېدلو خطره نسته.

او بيا دي په خامو (کچه) خښتو او د بانس په لرګيو سره بند کړل سي، او په منځ کې چې کوم درزونه يا چولې پاتې سي، هغه دې هم په خټو يا لوټو سره بند کړل سي، د دې لپاره چې خاوره په مړي ونه لګېږي او هغه له خاورو څخه بچ پاتې سي، په پخو خښتو او د لرګيو يه تختو سره د قبر پټول مکروه تحريمي دي، خو که ځمکه نرمه او کمزوري وي بيا نه ده مکروه. فتح الايضاح په حواله د شفاءالارواح او عمدة الفقه

## د ښځي پر قبر د پردې کولو حکم

که د ښځې جنازه وي، نو په قبر کې د هغې د ايښوولو پر مهال د لحد بندولو تر وخته پوري په يوه جامه يا څادر سره پرده کول پکار دي. خو که جنازه د سړي وي، نو بيا د دې څه ضرورت نسته؛ ځکه د ښځو د حالت مدار پر ستر او پردې دی. نو له دې وجي په قبر کې به هم د ښځي لپاره پرده کول کېږي. او کله چې پر لحد خښتې او نور کښېښول سي او بند کړل سي. نو بيا د پردې په لري کولو کې څه پروا نسته. فتح الايضاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر قبر خاورې اچول

د لحد تر بندولو وروسته دي پر هغه خاوره واچول سي، او مستحب دا دي چې ټول حاضرين خاوره ور واچوي.

خاوره اچونکي دي د مړي د سر له طرفه په دواړو لاسونو درې واره (درې لپې) خاوره ورواچوي، او د اول وار (اولي لپې) د اچولو په وخت کې دي دا ووايي: مِنۡهَا خَلَقۡنٰكُمۡ

او له دوهم وار سره دې ووايي: وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ

او له دريم وار سره دې ووايي: وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرٰى.

دا کار ټولو حاضرينو ته مستحب دی، د ميت مسئلې په حواله د فتاواي دارالعلوم

او کومه خاوره چې د قبر په کيندلو سره را کښل سوې ده هاغه خاوره دي دوباره په قبر کې واچول سي. له بل ځايه دي نوره خاوره نه وربانديې اچوي، دا مکروه دي.

يعني هر يو چې خاوره ور اچوي هغه به اول درې لپې خاوره په پورتنۍ طريقه سره ور اچوي، بيا دې پاته خاوره په بېلچو وغيره سره باندې واچوي او قبر دې ډک کړي.

او قبر دي د اوښ د شا په څېر ماهي پشته جوړ کړل سي او له ځمکې څخه دي يوه لوېشت يالږ زيات جګ جوړ کړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوار يعني څلور کونجه دې نه جوړول کېږي، داسې کول مکروه دي، په کچه خښتو سره قبر د اوښ د شا په شان جوړول جائز دي، بلکې مستحسن کڼل سوي دي. فتح الايضاح په حواله د انوارالايضاح او شفاء الارواح

د قبر تر بشپړولو وروسته که څوك راشي خاورې اچولو ته يې اړتيا نسته. د ميت مسئلې په حواله د فتاواي دارالعلوم

## له ښخولو وروسته نا معلوم رواجونه

– دا رواج چې يو سړی د مړي له ښخولو وروسته د قبر په شاوخوا راګرځي او پر ځمکه بېلچه وهي.

– او يا د کيندلو آلې د قبلې له لوري د قبر په بل اړخ وهي.

– يا دا د قبر کيندلو (کيښلو) آلې د سر له خوا څخه د پښو خواته غورځوي.

دا شيان او دا رواجونه د خيرُالقرون او د مذهب د امامانو له زمانې څخه نه دي رانقل سوي، بلکې نوي پيداسوي دي.

پاته سوه دا خبره چې دوی ښه مقصدونه پکې لري تر څو چې بدعت حسنه کېږي او که نه؟

نو دا هم يقيني نه ده معلومه نو لايقه او احتياطي خبره دا ده چې دا رواجونه پرېښودل سي. جرأة الأيمة

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې نن سبا خو یې دیني رنګ حاصل کړی دی چې پرېښودل یې ډېر اړین دي. فضل الرحمن "عادل"

– خو د دې رواجونو په پابندي کولو کې ځیني وایي: چې په قبر باندې د بېلچې په وهلو سره قبر معلومېږي چې آیا ټینګ دی که نه؟ او ژر خو به نه نړېږي؟ چې خلك یې لاوس جوړ کړي، او مړی به د وحشـي حیواناتو له خوړلو څخه وساتل سي.

– او ځیني وایي: چې دا کار د وحشـي حیواناتو د وېرولو (ډارولو) لپاره کېږي، چې په ځمکه د بېلچې د نښو نښانو په لیدلو دا ګمان وکړي چې دلته دام کېښودل سوی دی، او وتښتي.

– او د کیندلو د آلاتو په غورځولو سـره د خپلو الاتو او اسـبابو شـمېر معلوموي، تر څو له ورکېدلو څخه وساتل سي.

– له دې پرته نورې وجې هم سـته، ځیني وایي: چې د آلاتو په اېښـوولو کې د عذاب پورته کېدل دي، او د بېلچې په وهلو کې د ځمکې راټولېدل دي چې په احادیثو کې منقول دي، یعني هغومره اندازه ځمکه چې پر شاوخوا یې بېلچه ووهل سي د قبر په احاطه کې داخلېږي، خو دا پورته کېدل د عذاب او راښدول د ځمکې د هغو له جملې څخه دي چې د رسول الله ﷺ له قوي اقوالو څخه پرته نه ثابتېږي.

او په مخکینیو وجوهو (وجو) کې هم ځیني تاوانونه په فکر کولو سـره ښـکاره کېږي، نو لایقه او احتیاطي خبره همدا ده چې پرېښـودل سـي.

جرأةالأئمة

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په اًخېر کې په قبر خښته اېښوول

په آخېر کې په قبر باندې د خښتې په اېښــولو سـره فرق (توپير) کېږي د ســـړي او ښـــځې د قبر، او په دې کې د دُعـا کونکي لپـاره فـايده چې وپوهېږي چې دا قبر د نارينه دی او که د ښځينه.

او د قبر د څېښتن د پېژندلو لپاره په قبر نښه کېښودل هم ثابت دي لکه څرنګه چې رسـول الله ﷺ د عثمان ابن مظعون رضـي الله عنه قبر په غټه ډبره سره معلومداره کړ لکه څرنګه چې په احاديثو کې ذکر شوي دي[۱۲].

جرأةالأئمة

## کله چې مړی خښ سي يا د قبر سر او ښو ته تلاوت کول کېږي

– کله چې د خښـولو کارونه خلاص سـي او قبر جوړ سـي نو د قبر د سـر طرف ته به يو کس ودرېږي او د ســـورة البقرې لومړني ايتونه به تر هم المفلحون پورې تلاوت کړي داســـې: الٓمٓ ○ ذَٰلِكَ الْكِتَٰبُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ○ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ○ وَالَّذِينَ

[۱۲] عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " أَعْلَمَ قَبْرَ عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ بِصَخْرَةٍ " . سنن ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يُؤْمِنُونَ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَبِالْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ○ أُولَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ○.

– او بيا به د پښو طرف د سورة البقرې اخېرني آيتونه له امن الرسول نه تر پايه تلاوت کړي داسې: ءَامَنَ الرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ ءَامَنَ بِاللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ○ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَٰفِرِينَ ○.

دا تلاوت کول له احاديثو څخه ثابت دي. د ميت مسائل (رفعت قاسمي)

## د مړي له دفن کولو وروسته.

– د مړي له ښخولو وروسته، يوه لحظه ځنډ کول، په ذکر او تسبيح مشغولېدل، د مغفرت دُعا کول، کومه خبره نه ده، بلکې لاغوره دي تر څو يې په سوال او ځواب کې سهولت (اساني) راسي، ځينو صحابه وو خو به لاد دې کار وصيت کاوو. د ميت مسائل په حواله د فتاواى محموديه، ابو داود، شامي، کفايت المفتي، علم الفقه.

– او دا مستحب ده کله چې مړی دفن (ښخ) کړل سي، او خلک له فارغېدلو وروسته له قبر سره يو ساعت کښېني، دومره اندازه وخت لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبښ چې حلالېږي او غوښــې يې وېشــل کېږي، قرآنکريم دې تلاوت کوي، او مړي ته دې دعا کوي. فتاواى هنديه مشهوره په فتاواى عالمګيريه ج۱ ص۱۸۲

– تر ښخــولو وروســته څو قدمه تلل او دعا کول، د مړي په کور کې راټولېدل او دعا کول د سنت خلاف يو عادت دی. د ميت مسائل (رفعت قاسمي)په حواله د فتاواى رحيميه او شامي

– او له قبر ســره هغه کارونه کول چې ســنتو وربانديې ښــوونه نه وکړې مکروه دي، او په کومو شــيانو چې ســنتو وصــيت کړی دی هغه زيارت کول او په ولاړه دعا کول دي. فتاواى هنديه مشهوره په فتاواى عالمګيريه ج۱ ص۱۸۳

– په يوه حديث شريف کې نقل سوي چې رسول الله ﷺ په يو جنازه لمونځ وکړ او دا دعـا يې وکړه: ((اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلاً خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ)). د دې حديث راوي وايي تر دې پورې چې ما دا هيله وکړه چې کاشکې دا مړی زه وای[۱۳]. صحيح مسلم

---

[۱۳] عن عَوْفَ بْنَ مَالِكٍ ، يَقُولُ : صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَنَازَةٍ ، فَحَفِظْتُ مِنْ دُعَائِهِ وَهُوَ يَقُولُ : " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ ، وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ ، وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ ، وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ ، وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ ، وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ ، وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ، أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ " صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مړي له ښخولو وروسته ځيني دعاګانې

## د نارينه مړي د ښخېدلو وروسته دعا او فاتحې دعاء:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰي نَوَالِهٖ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰي مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ. اَللّٰهُمَّ ارْزُقْهُ الثُّبَاتَ فِي الْاَمْرِ وَلَا تَنْزَعْ عَنْهُ سَتْرَكَ وَارْزُقْهُ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَاَلَذَّةَ النَّظَرِ اِلٰي وَجْهِكَ الْكَرِيْمِ. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ اَوَّلَ لِقَآئِهٖ رَحْمَةً وَّ مَغْفِرَةً وَّ اَوْسَطَهُ نِعْمَةً وَّ فَلَاحًا وَّ اٰخِرَهُ تَكْرِمَةً وَّنَجَاتً. اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْهِ سُؤَالَ الْمَلَكَيْنِ وَضَغْطَةَ الْقَبْرِ. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ قَبْرَهُ رَوْضَةً مِّنْ رِّيَاضِ الْجَنَّةِ وَلَا تَجْعَلْ قَبْرَهُ حُفْرَةً مِّنْ حُفُرِ النَّارِ. اَللّٰهُمَّ يَمِّنْ كِتَابَهُ وَيَسِّرْ حِسَابَهُ وَثَقِّلْ مِيْزَانَ حَسَنَاتِهٖ وَ ثَبِّتْ اَقْدَامَهُ عَلٰي الصِّرَاطِ يَوْمَ تَزِلُّ الْاَقْدَامُ. اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ خَطَايَاهُ كَبُعْدِ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. اَللّٰهُمَّ نَقِّهٖ عَنِ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّي الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ. اَللّٰهُمَّ افْتَحْ اَبْوَابَ السَّمَآءِ لِرُوْحِهٖ، وَاجْعَلْ رُوْحَهُ فِيْ اَعْلٰي عِلِّيِّيْنَ وَلَا تَجْعَلْ رُوْحَهُ مُعَلَّقَةً بَيْنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ وَلَا تَجْعَلْ رُوْحَهُ فِيْ اَفْنِيَةِ الْقُبُوْرِ. اَللّٰهُمَّ نَوِّرْ قَبْرَهُ وَصَدْرَهُ بِنُوْرِ الْاِيْمَانِ وَالْيَقِيْنِ. اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْنَا وَعَلَيْهِ كُلَّ صَعْبٍ بِحُرْمَةِ سَيِّدِ الْاَبْرَارِ ﷺ. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَ شَاهِدِنَا وَ غَائِبِنَا وَ صَغِيْرِنَا وَ كَبِيْرِنَا وَ ذَكَرِنَا وَ أُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَي الْإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَي الْإِيْمَانِ. وَصَلَّي اللّٰهُ تَعَالٰي عَلٰي مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ اِرْحَمْنَا بِرَحْمَتِكَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

## همدارنګه د ښځينه مړي د ښخېدلو وروسته دعا او فاتحې دعاء:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰي نَوَالِهٖ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰي مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ. اَللّٰهُمَّ ارْزُقْهَا الثُّبَاتَ فِي الْاَمْرِ وَلَا تَنْزَعْ عَنْهَا سَتْرَكَ وَارْزُقْهَا مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَاَلَذَّةَ النَّظَرِ اِلٰي وَجْهِكَ الْكَرِيْمِ. اَللّٰهُمَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجْعَلْ اَوَّلَ لِقَآئِهٖ رَحْمَةً وَّ مَغْفِرَةً وَّ اَوْسَطَهٗ نِعْمَةً وَّ فَلَاحًا وَّ اٰخِرَهٗ تَكْرِمَةً وَّنَجَاتً. اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْهَا سُؤَالَ الْمَلَكَيْنِ وَضَغْطَةَ الْقَبْرِ. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ قَبْرَهَا رَوْضَةً مِّنْ رِّيَاضِ الْجَنَّةِ وَلَا تَجْعَلْ قَبْرَهَا حُفْرَةً مِّنْ حُفَرِ النَّارِ. اَللّٰهُمَّ يَمِّنْ كِتَابَهَا وَيَسِّرْ حِسَابَهَا وَثَقِّلْ مِيْزَانَ حَسَنَاتِهَا وَ ثَبِّتْ اَقْدَامَهَا عَلٰى الصِّرَاطِ يَوْمَ تَزِلُّ الْاَقْدَامُ. اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنَهَا وَ بَيْنَ خَطَايَاهَا كَبُعْدِ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. اَللّٰهُمَّ نَقِّهَا عَنِ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّي الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ. اَللّٰهُمَّ افْتَحْ اَبْوَابَ السَّمَآءِ لِرُوْحِهَا. وَاجْعَلْ رُوْحَهَا فِيْ اَعْلٰى عِلِّيِّيْنَ وَلَا تَجْعَلْ رُوْحَهَا مُعَلَّقَةً بَيْنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ وَلَا تَجْعَلْ رُوْحَهَا فِيْ اَفْنِيَةِ الْقُبُوْرِ. اَللّٰهُمَّ نَوِّرْ قَبْرَهَا وَصَدْرَهَا بِنُوْرِ الْاِيْمَانِ وَالْيَقِيْنِ. اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيْنَا وَعَلَيْهَا كُلَّ صَعْبٍ بِحُرْمَةِ سَيِّدِ الْاَبْرَارِ ﷺ. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَ شَاهِدِنَا وَ غَائِبِنَا وَ صَغِيْرِنَا وَ كَبِيْرِنَا وَ ذَكَرِنَا وَ اُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَي الْاِسْلَامِ. وَ مَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَي الْاِيْمَانِ. وَصَلَّي اللّٰهُ تَعَالٰي عَلٰي مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ اِرْحَمْنَا بِرَحْمَتِكَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

### د نابالغ هلك له خښېدو وروسته دعا:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ. وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ. وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰي خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّ مُشَفَّعًا. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَ مَيِّتِنَا وَ شَاهِدِنَا وَ غَائِبِنَا وَ صَغِيْرِنَا وَ كَبِيْرِنَا وَ ذَكَرِنَا وَ اُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَي الْاِسْلَامِ. وَ مَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَي الْاِيْمَانِ.

### د نابالغې نجلۍ له خښېدو وروسته دعا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا أَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا. اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهٖ عَلَى الْإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيْمَانِ.

## په قبر باندې اوبه پاشل

پوښتنه: کله چې مړی خښ سي بيا په قبر اوبه پاشي يا چې کله ځوك فاتحه لولي نو ضرور اوبه پاشي، آيا دا صحيح ده؟

ځواب: د قبر خاورې د کلکولو لپاره وربانديې اوبه پاشل يو مندوب عمل دی، هغه ضروري ګڼل يا يې د ثواب مستقيل کار ګڼل بدعت او ګناه ده. د ميت مسائل په حواله د احسن الفتاوای

## په قبر لاس پورته کول او دعا کول

– د مړي لپاره استغفار ويل، لاس پورته کول او دعا کول په هديره کې جائز دي له لاس پورته کولو پرته هم دعا کول صحيح دي خو دا چې خلك قبرونو ته ځي او له هغوی څخه خپل مرادونه غواړي چې دا حرام او شرك دي، نو له همدې امله دې لاس نه پورته کيږي، دا اشتباه او د هغه عمل تائيد به نه کيږي. د ميت مسائل په حواله د فتاوای محموديه او فتاوای رحيميه

– دعا له لاس پورته کولو پرته کېدلی سي او په لاس پورته کولو هم کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ به د مړي له خښولو وروسته مخ په قبله ودرېد او په پورته شويو لاسونو به يې دعا كوله.

كه لاسونه پورته شي او دعا وكړي، درسول الله ﷺ پيروي به شوې وي، خو مخ دې د قبر لورته نه كوي بلكې د قبلې لورته دې وګرځوي. د ميت مسائل په حواله د فتاواى محموديه او فتح الباري او احسن الفتاوى

## په قبر د لکړو درول

په قبر باندې د لكړې درولو د جواز لپاره علماؤو دغه حديث شريف وړاندې كړى دى: (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْرَيْنِ، فَقَالَ: (إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ، أَمَّا أَحَدُهَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ وَفِي رِوَايَةٍ: الْمُسْلِمُ لَا يَسْتَتِرُهُ مِنَ الْبَوْلِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً، فَشَقَّهَا بِنِصْفَيْنِ ثُمَّ غَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً. قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! لِمَ صَنَعْتَ هَذَا؟ فَقَالَ: لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

له ابن عباس (رض) څخه روايت دى وايي: رسول الله ﷺ په دوو قبرونو تېرېدو نو ويې ويل: دوى دواړو ته عذاب وركول كېږي او دوى ته په دومره غټ شي عذاب نه وركول كېږي، خو له دې دواړو څخه يوه خپل ځان له بولو څخه نه ساتو، او دا بل يوه به چغل خوري كوله (خبرې به يې ګرځولې)، بيا رسول الله ﷺ يوه لنده (شنه) لښته را واخيسته او په منځ يې دوه ټوكه كړه بيا يې په هر قبر كې يوه يوه خښه كړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صــحابه وو پوښــتنه ترې وکړه: اې د الله رســوله! د څه لپاره دې داســې وکړل؟ ده ﷺ ورته وويل: ښــايي تر هغو پورې چې وچې شــوې نه وي له دوی څخه عذاب سپك کړي.

يعني کله چې بوټي او لښــتې شــنه وي نو دوی ژوندي وي او د الله ﷻ ثنا او تسبيح وايي، نو د دې لښتو د تسبيح په وجه به تر يو څه وخته د دوی عذاب سپك وي، تر هغو چې وچې سوې نه وي. مرقاة المفاتيح

په قبر باندې د بيرغونو او رومالونو درولو په شــريعت کې هيڅ ثبوت نســته، بلکې د مال او پيسو ضايع کول دي او ناسم کار دی. فضل الرحمن "عادل".

## څو مړي په يوه قبر کې ښخول

د ضرورت په وخت کې څو مړي په يوه قبر کې ښخول جائز دي، ضرورت مثلًا مړي ډېر وي او ښخــونکي (دفن کونکي) کســان لږ وي يا کمزوري وي چې د هر يو مړي لپاره جلا قبر کيندل مشکل وي، يا کمزوري خو نه وي، خو دوی تر دې په زيات اړين کار مشغول وينو په داسې صورت کې له يوه څخه زيات مړي په يوه قبر کې ښخــول جائز دي، او په داســې صورت کې د دوو مړو تر منځ فصل او بېلتون راوستل پکار دي، برابره خبره ده که په جامه سره وي يا وښــو پاڼو يا د کاغذ يا خاورو او داسـې نورو په ذريعه وکړل ســي، او په دې لوی قبر کې به په هغه ترتيب مړي اېښــوول کېږي کوم چې مخکې تېر ســو يعني اول به ســړي مخ پر قبله کېښــېږدي، د هغه شــاته بيا نابالغه هلك، بيا ښـځه او داسې نور او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړي د يوه جنس وي مثلًا ټول سړي (نارينه) وي يا ټولې ښځې وي نو اول به هغه کس مخ پر قبله ږدي کوم چې په دوی کې افضل وي او بيا له هغه څخه کم فضيلت وال په همدې ترتيب.

– په کوم قبر کې چې څو مړي خښــول کېږي د هغه د کيندلو دوه طريقې دي : يوه دا چې شمالًا او جنوبًا اوږد قبر وکيندل سي، د هغه پټول آسانه دي، او دويمه طريقه دا ده چې شــرقًا او غربًا پراخه قبر وکيندل ســي، د احد په غزوه کې پراخ قبرونه کيندل سـوي وه. فتح الايضاح په حواله د انوارالايضاح، تحفة الالمعي، البحرالرائق

# د جنازې د لمانځه وخت

د جنازې د لمانځه وخت هغه دی چې کله جنازه حاضــره ســي، که چېري جنازه په ناقص وخت کې حاضره سوه لکه: د لمر راختلو، درېدلو يا لمر لوېدلو په وخت کې نو په تحفه کې يې ذکر کړي دي: چې بهتره دا ده چې جنازه وروسته نه سي، يعني بايد په همدې وخت کې وسي.

صــاحب د درمختار ويلي: که چېرته دغه نه وروســـته کول په جنازه کې غوره وو بيا هيڅ کراهيت نسته.

او که چېرته په کامل وخت کې جنازه حاضره سوه، بيا يې په ناقص وخت کې کول نه دي رواه، په نزد د صاحب د تنويرالابصار. جرأةالأئمة

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنازه تلوار کول پکار دي لکه څرنګه چې رســـول الله ﷺ هم د تلوار کولو حکم کړی دی[۱۴].

همدارنګه د فقهي په ټولو کتابونو کې په مړي د عجلې او تلوار کولو تاکید شوی دی.

او مړی باید د هیچا لپاره نه د خپلوانو نه د ملګرو او نه د نورو کارونو لپاره وځنډول ســـي، نه هم باید د دې لپاره وځنډول ســـي چې. په جنازه کې یې ډېر خلك ګډون وکړي، نن سبا اکثر خلك په ناسمو کړنو اخته او د ثواب په طمع او عقیده دي ورته، په داسې حال کې چې حقیقت بل څه وي، دوی د شریعت له تګلارې اوړي او سوچ یې د ثواب لګولی وي، له داســې ګړنو ځان ســاتل پکار دي وخت باید بېځایه ونه لګول ســي او نه هم باید دنورو خلکو خت ضایع کړل سي. فضل الرحمن "عادل"

# تعزیت (فاتحه)

یو چاته په مصــیبت باندې صــبر ورکول، یا یو چا ته د هغوی د خپلوانو په له لاسه ورکولو باندې خپګان ښکاره کولو ته وایي. معجم العرب

تعزیه (فاتحه) د مړي خپلوانو ته د تســـلي لپاره ورکول کېږي، تعزیه په ښو خبرو سره ورکول کېږي چې د تسلۍ لپاره مناسبې وي، تر څو د غم

[۱۴] عَنِ الْحُصَـــيْنِ بْنِ وَحْوَحٍ : أَنَّ طَلْحَةَ بْنَ الْبَرَاءِ مَرِضَ ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَـــلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـــلَّمَ يَعُودُهُ ، فَقَالَ : " إِنِّي لَا أَرَى طَلْحَةَ إِلَّا قَدْ حَدَثَ فِيهِ الْمَوْتُ ، فَآذِنُونِي بِهِ ، وَعَجِّلُوا ، فَإِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِجِيفَةِ مُسْلِمٍ أَنْ تُحْبَسَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْ أَهْلِهِ " .سـنن ابي داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځپلي زړه غم او درد ورباندې کم سي، او تعزيه ورکونکی دې له غم ځپلو سره خپله خواخوږي ښکاره کوي.

## تعزيه به څرنګه ورکوي

د مصيبت خاوندانو ته تعزيه ورکول ښه کار دی، کله چې د مړي خاوندانو ته يو ځل تعزيه ورکړل سي دويم وار مناسبه نه ده چې بيا تعزيه ورکړي.

د تعزيې وخت له هغه وخته چې څوك وفات سي تر دريو ورځو پوري ده او له دې وروسته تعزيه ورکول مکروه دي، خو که چېرته تعزيه ورکونکی يا هغه څوك چې تعزيه (فاتحه) اخلي غائب وي يعني بل ځای وي بيا راسي "له دريو ورځو وروسته" او تعزيه ورکړي بيا کومه ستونزه نسته.

– غوره داده چې له ښخولو وروسته تعزيه ورکړل سي، که چېرته د مړي له خپلوانو ډېر غم او درد نه ليدل کېدو او که ډېر سخت درد او غم ورباندې ليدل کېده بيا دې له ښخولو مخکې تعزيه ورکړي.

– مستحب دا ده چې د مړي ټولو خپلوانو ته تعزيه ورکړل سي يعني لويانو، وړو (کوچنيانو) نرو او ښځو ته خو پېغلې نجلۍ ته دې د هغې له محرمو خپلوانو پرته بل څوك تعزيه نه ورکوي.

– او مستحب دا ده چې د مصيبت خاوندانو ته داسې ووايي: الله ﷻ دې ستاسو مړي ته ښښنه وکړي، الله ﷻ دې له هرڅه ورتېر سي او په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت کې دې پټ کړي، او الله ﷻ دې د ده په مصیبت تاسو ته صبر او آجر درکړي.

– او غوره تعزیه دا د رسول الله ﷺ تعزیه ده چې ویل به یې: بېشکه هر څه د الله ﷻ دي چې آخلي یې، او هر هغه د الله ﷻ دي چې الله ﷻ یې چاته ورکوي، او هرڅه د الله ﷻ په وړاندې تر معلومې نېټې پوري دي.

– مسلمان ته به د کافر په تعزیه کې داسې وایي: الله ﷻ دې آجر ډېر کړه او الله ﷻ دې نېك صبر درکړي.

– او کافر ته به د مسلمان په تعزیه کې داسې وایې: الله ﷻ دې صبر درکړي او الله ﷻ دې ستاسو مړي ته ښښنه وکړي. کافر ته به داسې نه وایي چې الله ﷻ دې آجر ډېر کړه.

## تعزیه (فاتحه) چېرته اخیستل کېږي

د مصیبت د خاوندانو لپاره کومه ستونزه او مشکل نسته، دا چې په کور یا جوماتو کې درې ورځې کېني د دې لپاره چې خلك د تعزیې لپاره ورته راځي. او دا مکروه ده چې په دروازه کې کېني یا د لارو په څنډو ودرېږي او دا د بدو بد کار دی. او دغه درې ورځې د مصیبت لپاره کېناستلو کې اجازه (رخصت) دی او پرېښودل یې غوره دي. فتاوي عالمګریه

* فتاوی رحمانیه په حواله د امام طحطاوي (رح) چې شارح د مراقی الفلاح دی لیکلي دي: ناسته د تعزیې لپاره هغه وخت مکروه ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړي خپلوان غالۍ کمبلې او توشکې بالښتونه هوار کړي او بیا د مړي له کوره څخه چای او ډوډۍ راروانې وي، د دغه تعزیت کونکو لپاره په دغه طریقه فاتحه اخیستل مکروه ده، او که دغه رسمونه او رواجونه نه وي پکې نو بیا شرعًا مشکل نه لري.

* همدارنګه د مراقی الفلاح په حواله لیکي: چې په جومات کې فاتحه اخیستل مکروه ده ځکه چې د جومات د آدابو خیال نه ساتل کېږي، او که ضرورت وو بیا کومه ستونزه نسته، یاني په کور کې یې ځای نه وو او خلك د تعزیې لپاره راتلل. فتاوی رحمانیه

– په مړي نوحې کول لویې لویې چغې وهل نه دي جائز.

– د زړه د نریوالي په وجه سره ژړلو باندې کومه ستونزه نسته.

– او سړو ته د تعزیې لپاره د کالیو تورول او چیرول نارواه (مکروه) دي، او د ښځو لپاره په کالیو تورولو کومه ستونزه نسته.

– امّا د مخونو او لاسونو تورول، ګرېوانونه شکول، د مخونو ګرګارې کول، وېښتان خواره واره کول، په سرونو خاوري بادول، ورنونه او سینه وهل او په قبرونو اورونه بلول د جاهلیت له دودونو او رواجونو څخه دي او باطل دي. فتاوي عالمګریه

– په په دې کې کومه ستونزه نسته چې د مړي کورنۍ ته خوراك برابر کړل سي.

– او درې ورځې د مړي کورنۍ ته دا نه ده مباح چې مېلمستیا ونیسي.

فتاوي عالمګریه

(c) ketabton.com: The Digital Library



* په فتاوی رحمانیه کې يې په حواله د فتح القدير دا ويلي چې مکروه ده مېلمستيا تيارول د خوراك او ډوډۍ د مړي د وارثانو له طرفه ځکه چې مېلمستيا رواه سوې ده په خوشحاليو کې، نه په شرونو او غمونو کې او دغه مېلمستيا او ډوډۍ تيارول د مړي د وارثانو له طرفه د عامو خلکو لپاره بد او قبيح عادت او بدعت دی..... فتاوی رحمانيه

دا د تعزيې ټول بيان له فتاوی هنديه چې مشهوره ده په عالمګيري را اخيستل سوي، پرته له هغو خبرو چې دا (*) د ستوري نښه ورسره ده دا له نورو کتابونو راخيستل سوي چې نومونه يې سته ورسره.

## د تعزيې فضيلت

په ترمذي شريف کې دا حديث شريف راغلی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مَنْ عَزَّى ثَكْلَى كُسِيَ بُرْدًا فِي الْجَنَّةِ " . قَالَ أَبُو عِيسَى : هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ. رواه الترمذی

څوك چې داسې مېرمني ته چې اولاد يې ورك سوی وي تعزيه ورکړي، په جنت کې به دغه کس ته کالي ورواغوستل سي.

او په سنن ابن ماجه کې بل حديث راغلی دی :

"مَا مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَزِّي أَخَاهُ بِمُصِيبَةٍ إِلَّا كَسَاهُ اللَّهُ سُبْحَانَهُ مِنْ حُلَلِ الْكَرَامَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" . سنن ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم مؤمن چې خپل ورور ته تعزیه وکړي (تسلي ورکړي) الله ﷻ به د قیامت په ورځ ده ته د عزت جامې ور واغوندي.

## په مړینه باندې د صبر اجر او ثواب

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی: چې رسول الله ﷺ دا لارښوونه وکړه: د الله ﷻ لارښوونه ده چې کله زه د یوه مؤمن یو خپلوان ترې واخلم بیا هغه د ثواب په هیله صبر وکړي. له ما سره د هغه بدله له جنت څخه پرته بل څه نه دی. ترمذي ج۱ ص۱۹۸، بخاري ج۱ ص۱۷۵ باب الجنائز، معارف الحدیث ج۳ ص۴۶۴

## د شهید د احکامو بیان

څرنګه چې د شهید احکام د نورو مړو له احکامو څخه جلا او بېل دي، نو ځکه د شهید احکام په جلا څپرکي (باب) کې بیانېږي، یا په دې وجه جلا بیانېږي چې د شهید فضیلت ډېر دی په نورو مړو باندې، تر دې پورې چې له دې نه منع سوې ده چې شهید ته دې مړ وویل سي، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایلي دي: وَلَا تَقُولُوا لِمَن يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ. [سُوْرَةُ البَقَرَة: ۱۲۵]

او هغو خلکو ته چې د الله په لار کښې ووژل شي، مړه مه وایاست! داسي خلک خو په حقیقت کښې ژوندي دي، خو تاسي دا شعور نه لرئ چې د هغو په ژوند خبر شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شهيد ته د شهيد ويلو وجه:

صاحب د بنايې رحمه الله ليکلي دي چې شهيد ته له څو وجو (وجهو) شهيد ويل کېږي:

١. يو په دې وجه چې فرښتې د تعظيم او عزت په خاطر د هغه د مرګ شهادت (ګواهي) ورکوي، او فرښتې د هغه په جنازه کې ګډون کوي، نو دلته به شهيد د مشهود په مانا سره وي لکه فعيل چې د مفعول په معنا سره راځي.

٢. دويمه وجه دا ده چې شهيد ته له مرګ وروسته د جنت زېرى او شهادت ورکول کېږي، نو دلته به هم د مشهود په معنا سره وي.

٣. درېيمه وجه دا ده چې د شهيد معنا ده: حاضر. او شهيد هم د الله ﷻ په نيز حاضر او ژوندى وي لکه څرنګه چې مخکې ايت ذکر شو دلته به په معنا د شاهد سره وي.

د فقهاؤو په اصطلاح کې شهيد هغه څوك دى چې مشركينو او كافرانو قتل كړى وي، او د هغه پر بدن د قتل او زخم اثر وي. يا هغه څوك چې مسلمانانو په ظلم قتل كړى وي، او د قتل په وجه يې ديت واجب سوى نه وي.

**د شهيد قسمونه**: د انجام او احكامو په اعتبار سره د شهيد درې قسمونه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱....دنیوي او اُخروي شـــهید (کامل شـــهید): یعني هغه کس چې په اخلاص سره د الله ﷻ د دین د لوړوالي لپاره په جهاد کولو کې ووژل سي. ده ته په آخرت کې د شـــهادت مرتبه نصـــیب کېږي او په دنیا کې هم پر هغه د شـــهید احکام جاري کېږي. چې غســـل وغیره نه ورکول کېږي. همدارنګه هغه کس کوم چې ظلماً په تېزه (تېره) آله سـره وژل سـوی وي، هغه هم د دې شهید په حکم سره دی.

۲.... اُخروي شـــهید: دا هغه کس دی چې په جهاد وغیره کې شـــهید نه ســـي. بلکې د خپل ځان او مال په دفاع کې ووژل ســـي. یا مثلًا د نس د ناروغۍ په وجه مړ ســـي، یا د طاعون وغیره د وبا په وجه مړ ســـي. په مختلفو روایاتو کې تقریباً شـپېته (۶۰) ډوله کسـان ذکر سـوي دي، دا ټول روایات په "أوجزالمسالک" کې جمع سوي دي.

۳.... فقط دنیوي شـــهید: داســـې منافق او بد غرض لرونکی کس چې محض د ځان ښـوونې لپاره په جهاد کې شـریك سـي او ووژل سـي. یا د غنیمت مال حاصـــلولو یا د یو بل دنیوي غرض په وجه جنګ کونکی ووژل ســـي. څرنګه چې د زړه په رازونو یوازې الله ﷻ خبر دی، نو ځکه داسې کس په دنیوي احکامو کې شهید منل سوی دی چې د ده سره به د حقیقي شـــهید په څېر چلند کول کېږي چې غســـل وغیره به نه ورکول کېږي. خو په آخرت کې داسې کسـانو ته د شـهادت مرتبه نه حاصلېږي.

فتح الایضاح په حواله د کتاب المسائل او تحفة الالمعي

## د شهید تعریف:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شهيد څو صورتونه دي: ١:... کوم مسلمان چې حربيانو يا باغيانو يا ډاکه مارانو (غلو) د شـــپې په خپل کور کې وژلی وي، برابره خبره ده که په زخمي کونکې آله سره وي لکه توره، جاړو يا ټوپك او داسې نور... يا په غير زخمي کونکې آله سره وي لکه ډانګ (لکړه)، سوکان او لغتې او داسې نور، نو هغه شهيد دی او پر هغه د شهيد احکام جاري کېږي.

٢:.... کوم مسلمان چې د جنګ پر ميدان په داسې حال کې وموندل سي چې د هغه پر بدن د زخم نښــــې وي، نو پر هغه د شـــهيد احکام جاري کېږي.

٣.... کوم مسـلمان چې مسـلمانانو قصـداً په ظلم سـره په تېره شـي سـره وژلی وي، نو پر هغه هم د شهيد احکام جاري کېږي، په دې دريم صورت کې د "ظلم" په قيد سره هغه کس خارج سو کوم چې د يو چا په بدله کې وژل سـوی وي مثلًا په حد يا قصــاص کې، يا يې پر يو چا ظلم او زياتی کړی وي او هغه دی وژلی وي. نو دی شهيد نه دی. همدارنګه د "قصداً" په قيد سره هغه کس خارج سو کوم چې په يوه تېره شي سره په خطايي وژل سـوی وي مثلًا يو چا په يوه حيوان وار کړی وي خو وار پر يو انســان لګېدلی وي، نو هغه شـهيد نه دی، همدارنګه د "تېره" قيد لګول سـوی دی، نو له همدې امله که په تېره شي سره نه وي بلکې په ناتېره شي سره وي لکه ډانګ يا داسې بل شی سره وژل سوی وي، نو هم هغه شهيد نه دی، او له (تېره) شـــي څخه مراد هغه آله ده چې په هغه کې د پرېکولو (غوڅولو) قوت وي او اندامونه ســـره جلا کولای ســـي لکه توره، چاړه، چاقو يا د ټوپك مرمۍ او داسې نور، او اوسپنه مطلقًا په زخمي کونکې آله کې داخله ده که څه هم هغه تېره نه وي. په دې دريو ســـره صـــورتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د شهید احکام جاري کېږي، یعني هغه ته به غسل نه ورکول کېږي او هغه به له خپلو جامو (کالیو) او خپلو وینو سره ښخول کېږي او پر هغه به د جنازې لمونځ کول کېږي، خو کله چې په هغه کې دا لاندیني شرطونه موجود سي (دا یاد ساتئ! ):

۱.... هغه به مسلمان وي؛ ځکه د کافر لپاره هیڅ قسم شهادت نه سي ثابتېدلای.

۲... بالغ به وي، یا په بله وینا شرعًا به مکلف وي، نو له دې وجې که نابالغه بچی ووژل سي، نو پر هغه په دنیا کې د شهادت احکام نه جاري کېږي، بلکې هغه ته به د عامو مړو په څېر غسل او کفن ورکول کېږي.

۳...له حیض نفاس او جنابت څخه به پاك وي، نو له دې وجې که یو سړی د جنابت په حالت کې یا ښځه د حیض او نفاس په حالت کې شهیده کړل سي، نو پر هغو هم د کامل شهید احکام نه جاري کېږي، بلکې غسل او کفن به ورکول کېږي.

۴... مُرتَث به نه وي، "رَث" په اصل کې زاړه (پخواني) شي ته وایي او د "ارتثاث" په معنا ده: زوړ کېدل (وخت باندې تېرېدل)، او د شهادت په باب کې د ارتثاث معنا دا ده چې سړی له زخمي کېد وروسته څه وخت ژوندی پاته سي، او له دنیاوي ژوند څخه نفع حاصله کړي، یا دومره وخت ژوندی پاته سي چې پر هغه یو دنیاوي حکم نافذ ېدلی سي، مثلًا د یوه لمانځه وخت پر هغه د ژوند په حالت کې تېر سي، یا دنیاوي نفع حاصله کړي مثلًا دواء وخوري، یا بل څه وخوري یا وچیښي، یا ویده سي، یا د جنګ له ډګر څخه د راحت لپاره را نقل کړل سي، یا تر ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخته پورې خبرې وکړي او داسې نور. دې ټولو ته ارتثاث ويل کېږي او داسې کس ته د فقهي په اصطلاح کې مرتث ويل کېږي (چې له زخمي کېدو وروسته په دنيا کې ژوند تېر کړي او دنياوي منافع حاصل کړي)، داسې کس که څه هم د الله تعالي ﷻ په نيز (فيما بينه و بين الله) شهيد دی او ډېره ممکنه ده چې په دې ميدان کې تر ټولو افضل بهتر او اعلیٰ شهيد همدی وي، خو په دنياوي اعتبار سره پر ده د شهيد احکام نه جاري کېږي يعني ده ته به غسل او کفن ورکول کېږي.

دا حکم هلته دی چې دغه پورتني کارونه يعني د يوه لمانځه وخت تېرېدل يا څه خوړل او چيښل او داسې نور، د جنګ له ختمېدلو وروسته واقع سي، او که د جنګ له ختمېدلو مخکې دا کارونه واقع سي نو هغه مرتث نه دی، بلکې شهيد شمېرل کېږي.

– د مرتث اړوند د شهيد لپاره دا هم شرط دي چې د جنګ تر ختمېدو وروسته به يې په زخمي حالت کې له خپل ژوند څخه نفع نه وي اخيستې مثلًا خوراك، چښاك يا دواء او علاج ورکول سوي وي او يا د هوش او حواس په حالت کې پر هغه د يوه لمانځه وخت تېر سوی وي او يا د راحت وغيره لپاره د جنګ له ميدان څخه بل ځای ته منتقل کړی سوی وي، خو که د جنګ تر ختمېدو مخکې هغه منتقل کړی سي او له ژوند څخه نفع واخلي، نو هغه مرتث نه دی، بلکې شهيد دی او د شهادت حکم باقي دی، لنډه دا چې که د جنګ تر ختمېدو وروسته له پورتني يادشويو شيانو څخه يو شی موجود سي، نو د شهادت حکم ساقطېږي او داسې کس مُرتث شمېرل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– او هغه به د هوښ په حالت کې وي: چې د هغه هوښ او حواس صحيح وي (په هوښ کې وي)؛ نو له دې وجې که د بې هوښۍ په حالت کې د يوه لمانځه وخت باندې تېر سي، نو د شهادت حکم يې نه ساقطېږي او مرتث نه بلکې شهيد شمېرل کېږي.

– او که د جنګ له ميدان څخه په دې وجه منتقل سوی وي چې آسونه او داسې نور يې له پښو لاندې نه کړي، نو هم هغه مرتث نه دی، بلکې شهيد شمېرل کېږي.

## د شهيد احکام (کوم چې په دنيا کې دي):

په لاندې توګه دي: ۱... شهيد ته به غسل نه ورکول کېږي او نه به د هغه پربدن لګېدلې وينه له هغه څخه صفا کېږي، خو که د شهيد له ويني څخه بغير بل نجاست او ناپاکي باندې لګېدلې وي نو هغه به پرېولل کېږي.

۲... شهيد چې دشهادت په وخت کې کومې جامې يعني کميس، پرتوګ او داسې نور... اغوستې وي، په هغو جامو کې به خښول کېږي او له شهيد څخه به هغه نه کيښل کېږي.

۳... که هغه جامې له سنت شمېر (مسنون عدد) څخه کمې وي، نو د هغه په اندازه جامې په پکښې اضافه کول کېږي مثلًا يوازې پرتوګ او کميس وي، نو دې يوه لفافه ورسره زياته کړې چې سنت کفن يې پوره سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴... او که د هغه د بدن جامې له سنت شمېر څخه زياتې (اضافه) وې، نو اضافي کالي به ځينې لرې کو ل کېږي.

۵... همدارنګه که د هغه پر بدن اضافي (ناړين) شيان وي کوم چې کفن نه سي جوړېدلای، مثلًا کوټ، سدرۍ، بوټونه يا څپلۍ، خولۍ يا وسله، چانټه وغيره، نو هغه به په هر صورت کې ترې لرې کول کېږي، باقي نور ټول احکام کوم چې د نورو مسلمانانو لپاره دي مثلًا د جنازې لمونځ او دفن (ښخول) او داسې نور، هغه ټول د ده په حق کې هم جاري کېږي.

– د شهيد ټولې جامې کښل يعني د هغه پر ځای په نورو جامو کې کفن ورکول مکروه دي. انوارالايضاح

– که په کوم شهيد کې له مخکيني يادو شويو شرطونو څخه يو شرط موجود نه وي مثلًا نابالغه بچی وي، يا مجنون وي او داسې نور، نو هغه ته به غسل هم ورکول کېږي او د نورو خلکو په څېر به کفن هم ورکول کېږي.

– که څوك په يوه آبادۍ کې يا آبادۍ ته نږدې يو ځای پرته د جنګ له ميدان څخه وژل سوی وموندل سي او دا معلومه نه سي چې په کومه وجه وژل سوی دی، نو پر هغه د شهيد احکام نه جاري کېږي همدارنګه که څوك د زنا کولو په حد کې يا قصاص کې ووژل سي، نو پر هغه هم د شهيد احکام نه جاري کېږي. فتح الايضاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسقاط د حيلې بيان

**د حله اسـقاط تعريف**: حيلة إسـقاط مركب اضـافي دی د حيلة اضـافت شـوی دی اسـقاط ته نو معنا يې دا شـوه: حيله: مَايَتَوَصَّلُ بِهِ اِلَي المَقْصُودِ بطَرِيْقٍ خفِيٍ مبَاحٍ.

دا معنا چې: حيله هغه څه ته ويل کېږي چې په هغه سره ځوك په اسانه او مباح طريقه سره مقصد ته رسيږي.

او إسقاط: دا مصدر دی د أسقط. د غورځولو او لرې کولو په معنا دی.

حيله اسـقاط ته هم له دې کبله دا نوم ورکړل شـو: چې په دې کې په يوه اسانه طريقه سره هغه حقوق چې په مړي پاتې دي لکه: روژې، لمونځونه او داسې نورې کفارې له دې مړه شخص څخه لرې کېږي. فضل الرحمن "عادل"

**د حيله ا سقاط حکم** : کله چې هغه فديې سـي په مړي پاته دي او ده يې وصيت کړی وي د هغه مال په دريمه حصه چې له مړي پاته دی پوره نه شـي، ياني مړی غريب او فقير وي نو بيا علماوو د حيلې کولو جواز ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلته د علماوو یو څو مختلف نظرونه دي:

**د افغانســتان علماء وايي**: حیله جائز ده، هم له غریب ســړي څخه چې فدیې ورباندې پاتې وي، او هم له هغه شــخص څخه چې د لمانځه او روژې یې پوره پابندي کړې وي، که څه هم شــتمن وي، ځکه چې دا د اسقاط دوره یوه تبرع یعني د نېکي کار دی، او انسان عاجز دی کېدای سي چې کله په عبادت کې ســستي تربنه شوې وي نو دا اسقاط به یې جبیره او پټې شي. سیف دوران القرآن علي اعناق منکري الدوردان

**د دیوبند علماء وايي**: د اسقاط دوره په اصل کې ثابته ده، فقهاوو او په ځانګړې توګه د دیوبند اکابرو یې په رواه والې تصریح کړې ده یعني په څرګنده توګه یې رواه بللې ده. او دوی دا هم ویلې دي چې مروجه د اسقاط طریقه بدعت دی، ځکه چې کوم شرائط او آداب ورته تاکل شوي نه مرعات کېږي.....

نو که په صحیح معنا سره دا شرائط مرعات کړل شي بیا هېڅ ستونزه نشته او د ثواب کار دی. حکم حیله اسقاط در شریعت اسلامي

دا چې دوی کومې ســتونزې بیان کړې دي چې د هغوی له کبله یې د اسقاط دوره نارواه بللې ده خپله به په بیان کې ورباندې پوه شئ.

**ځینې نور علماء**: او ځینو علماوو مطلق بدعت ورته ویلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حیلې د رواه والې دلایل

## اول دلیل:

د یوسف علیه السلام د حیلې کیسه: چې غوښتل یې خپل ورور له ځان سره وساتي نو هغه ته یې دا چل او حیله جوړه کړه، چې یو لوښی یې د هغه په بار کې کېښود، او بیا یې د هغه بار وپلاټه او لوښی یې ترې پیدا کړ او خپل ورور یې د مجرم په توګه له خپل ځان سره وساته. او دا په قرآن کریم کې پرته له انکاره یاده شوې ده او د احسان په ډول راغلې ده، چې الله ﷻ فرمایلي دي: فَبَدَأَ بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَاءِ أَخِيهِ ثُمَّ اسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَاءِ أَخِيهِ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَّن نَّشَاءُ وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ [سُوْرَةُ يُوسُف: ٧٦]

نو یوسف (ع) له خپل سکني ورور څخه مخکې د هغو د سامانونو په لټولو پیل وکړ. بیا یې د خپل ورور له سامانونو څخه ورک شوی شی په لاس راوړ. په دې ډول موږ په خپل تدبیر سره د یوسف (ع) ملاتړ وکړ. د هغه دا کار نه ؤ چې د باچا په دین (یعني د مصر په باچاهي قانون) کښې یې خپل ورور نیولای وای، مګر دا چې الله همدغسې وغواړي. زموږ چې چا ته خوښه شي د هغه درجې لوړوو، او د هر علم لرونکی د پاسه یو بل لوی عالم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم دليل :

د حضرت ايوب عليه السلام د حيلې کيسه: کله چې ده په مرض کې د کوم سبب په وجه قسم کړی و چې خپله مېرمن به سل تازيني وهي، کله چې له مرض څخه جوړ شو، الله ﷻ امر ورته وکړ چې جارو که د ونې څانګه چې ډېر وښکالي او لښتې لري واخله او خپله مېرمن دې پرې ووهه. او دا کيسه په قرآن کريم کې پرته له انکاره ياده شوې ده، الله ﷻ فرمايلي دي: وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِۦ وَلَا تَحْنَثْ إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًا نِّعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ [سُوْرَةُ ص : ۴۴]

(او موږ هغه ته وويل) "جارو را واخله او (خپله ښځه) په ووهه، او خپل قسم مه ماتوه." په باوري توګه، موږ هغه د زغم خاوند، ډېر ښه بنده او د خپل رب خوا ته ډېر رجوع کوونکی وموندی.

## دريم دليل :

د فقهې په معتمدو کتابونو کې ډېرې حيلې بيان شوې دي نو انکار له مطلق حيلې څخه خلاف د کتاب الله او خلاف د سنت د رسول او خلاف د فقهاوو د اقوالو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم دليل:

هغه څوك چې دا د اسقاط طريقه د عَوْدُ فِي الْهِبه څخه بولي، او دا عود في الهبه ډېر بد او ناسم كار دى، نو ښكاره خبره ده چې دوى ته فرق په منځ د نېكي كولو او عود في الهبه كې نه ښكاره كېږي، ولې؟ ځكه چې عود في الهبه (يعني يو چاته په بښل شوي شي پښېمانه كېدل او هغه شى بېرته ورڅخه اخيستل) د موهوب لَهُ په اختيار پورې اړه نلري، او په دې حيله اسقاط كې چې كوم مال هغه كس ته وركړل شوى دى، هغه كس يې په خپله خوښه او رضا او په خپل اختيار سره دې مړي ته د مهرباني له مخې وربښي. جرأة الأئمة

نو كه چاته قناعت نه حاصلېږي بيا دې د دې تفصيل په نورو كتابونو كې وګوري.

## حيلې بايد وپېژندل سي

حيلې په دوه ډوله دي: ١.... رواه حيلې، ٢.... ناروا حيلې.

١.... رواه حيلې؛ لكه مخكې چې يادي سوې، او دېته ورته كومې چې د فقهې په باوري كتابونو كې يادي سوې دي.

٢.... ناروا حيلې: دا هغه حيلې دي چې شرعي حكمت باطلوي يعني له منځه يې وړي لكه؛ د اصحاب السَّبت حيله چې په قرآن كريم كې ياده سوې ده، هغه خلك چې الله ﷻ د شنبې په ورځ د ماهيانو له ښكار څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منعه کړي ول او دوی به د شـــنبې په ورځ ماهیان نه نیول، خو دا حیله (چل) به یې کاوه چې د شـــنبې په ورځ به کله ماهیان راووتل دوی به ډنډونه ورته جوړ کړل او پکې بند به یې کړل، او په نورو ورځو کې به یې همدغه د ډنډونو ماهیان ښــکار کول او بیا الله ﷻ دوی هلاك کړل. په قرآن کریم کې یې داسې یادونه شوې ده: وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ. [سُورَةُ البَقَرَة: ٦٥]

او تاسي ته خو د خپل قوم د هغو کسانو سرګذشت پوره ښرګند دی، چي هغو د شـنبې په ورځ تېری کړی ؤ، موږ هغو ته وویل: " بیزوګاني شــئ؛ او په داســي حال کښــي اوســئ چي له هري خوا در باندې ذلت، نفرین او لعنت وي!".

– دوهم لکه حیله (چل) د یهودانو چې الله ﷻ د وازګو خوړل وربانـدې حرام کړي و، خو دوی به بیا له دې وازګو نه اوبه او تېل جوړول، او په دې حیله او چل به یې خوړلې. چې په قرآن کریم کې یې داســـې یادونه ســـوې ده: وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ ۖ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِبَغْيِهِمْ ۖ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ. [سُورَةُ الأَنْعَام: ١٤٦]

او کومو خلکو چي یهودیت غوره کړ، پر هغو موږ ټول نوکانو والا ځناور حرام کړي ول، او د غوایانو او پسـونو وازده هم؛ له هغې ښخه پرته چي د هغو په ښـتیو یا د هغو په کولمو یا په هډوکو پوري نښـتي وي. دا موږ د هغو د ســـر غړوني ســـزا ورته ورکړي وه او دا ښه چي موږ وایو بیخي رښتیا وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه او دېته ورته حیلې بیا حرامي دي. جرأة الأئمة

# د اًسقاط د حیلې شرطونه او آداب

باید وپېژندل شي چې د اسقاط د دورې له شروع کولو څخه وړاندې د دې یو څو شیانو مرعات کول ضروري دي.

اول:... د مړي عمر باید معلوم کړي، او که د مړي عمر سم معلوم نه وي، بیا به یې په غالب ګمان او اټکل سره د عمر اندازه وټاکي، او د کوچنیوالي وخت دې ترېنه وباسي که د بلوغ وخت یې معلوم و، پاتې عمر دې حساب کړي، او که د بلوغ وخت یې نه و معلوم، نو د نارینه له عمر څخه دې احتیاطًا ۱۲ کاله عمر کم کړي، او د ښځې له عمر څخه دې ۹ کاله عمر د کوچنیوالي کم کړي، او د ښځې له پاته عمر څخه دې د لمونځونو لپاره د حیض او نفاس اندازه په غالب ګمان برابره کمه کړي، او په دواړو صورتو کې دې پاتې عمر سره یو ځای کړي، او د لمونځونو حساب دې داسې وکړي چې په شپه او ورځ کې دې شپږ لمونځونه حساب کړي او دا ځکه چې وتر واجب ورسره یو ځای کېږي نو ځکه شپږ ګڼل کېږي، او د یو کال روژې به ۳۰ وشمارل سي او ټول به سره جمع کړي.

دوهم:... د هر لمانځه فدیه د یوې روژې د فدیې په شان ده په مختار، راجح او مفتي بِهِ قول باندې. یعني غنم احتیاطًا دوه کیلو یا وربشې درې کیلو یا د دې په مثل نور شیان، بیا دې د دې قیمت معلوم کړي د دې لپاره چې په شته پیسو باندې څو فدیې ورکول کېږي، نو په سر د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه مســـكين دې په هر وار قبض كولو كې دغومره اندازه له دغه ټولو فديو څخه منفي كړي تر څو يې فديې خلاصې سي.

دريم:... بايد چې يو څه مســـكينان او اړمن خلك راټول كړي او دوى ته دې دا وړانديز وكړي چې؛ زموږ پر دغه اســلامي ورور د رحم او شــفقت لپاره چې اوس عاجزه دى، له دغه حقوقو څخه د ده د ذمې د خلاصــولو لپاره له تاسو نه كومك غواړم چې دغه مال چې د ده له فديو كم دى، هر وار چې تاسو ته دروبښل سي او ستاسو په قبضه كې سي او ستاسو ملكيت وګرځي، نو له دغه مړي سره د معاونت او مرستې په خاطر يې بېرته ور وبښئ.

څلورم:... د شتمن، كافر او هغه شخص چې د مړي زكات وركول هغه ته منع وي، د اســـقاط په دوره او مجلس كې د ده له داخلولو څخه بايد پرهېز وكړل سي، او كه چېرته له داسې كسانو څخه يو كس هم دورې ته داخل ســـو بايد د حقوقو د كمولو په شـــمېر كې يې زيات نه كړي، او همدارنګه له داخلولو د نابالغه، معتوه (بې عقل) او لېوني څخه په كلكه ډډه وكړل ســـي كه څه هم دوى مســـكينان وي. ولې بايد ډډه ترې وكړل سي؟ ځكه چې د دوى له قبض كولو څخه وروسته د دوى ملكيت ګرځي، او د دوى وربښل بل چاته نه صحيح كېږي. نو د دې ډول كسانو لكه؛ د كوچني او لېوني داخلېدل ډېر تاواني دي له داخلېدو د كفار او شـــتمن كس څخه. دا حكم د مريې (غلام) او مدبر غلام او اســـې نورو غلامانو هم دى، كه موجود وو، د اسقاط دورې ته دې نه راځي.

پنځم:... د دورې مال بايد داســـې پيســـې وي چې مړي يې وصـيت كړى وي، او يا د وارث خپل ملكيت وي كه څه هم په قرض يې اخيستې وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خواست غوښتل سوی مال به نه وي، لکه څرنګه چې په ډېرو ځايونو کې ليدل کېږي چې امام يا يو بل بېګانه نفر د خواست په ډول مال راجمع کړی وي او بيا يې د اسقاط په دوره کې ګرځوي، او دا هيڅ اعتبار نه لري په اکثرو رواياتو باندې.

شپږم:... بايد چې په قبلولو کې له تلوار څخه ځان وساتي، مخکې له پوره کېدلو د ښېلو، يعني چې فقير لا دا نه وي ويلي چې ما قبول کړی او ما بېرته دربښلی او ولي يا وکيل يې ترې واخلي، مګر د فقير د خبرې له پوره کېدو وروسته صحيح کېږي.

اووم:... بايد چې د اسقاط مال د فقير په لاس کې پاته نه سي، هغه وخت چې د مړي ولي يا د ولي وکيل يې قبض کوي، او د ولي په لاس کې پاته نه سي هغه وخت چې فقير يې قبض کوي. بلکي هر وار به يې ولي فقير ته او فقير ولي ته پوره تسليموي چې د ياد سوي مال هيڅ تعلق په هغه بل پوري پاته نه سي، تر څو چې ورکړه او هبه د حقيقت په ډول واقع سي.

اتم:... ولي او فقير به د اخيستلو او ورکولو په وخت کې په کوشش او اخلاص سره دا عمل (کړنه) کوي، د مسخرو او ځان ښکاره کولو په رقم سره نه، که په دې رقم سره نه وي نو د فايدې او ثمرې سبب به نه سي.

نهم:... بايد چې د مړي د کارونو او مالونو متصرف (تصرف کونکی) په خپله د دې دورې فديه وګرځوي (دوره وکړي)، ولې؟ ځکه چې د مذهب په کتابونو کې په هر ځای کې د مړي د ولي (واکدار) تبرع (د خدای د رضا لپاره کار کول) د اعتبار او اعتماد وړ شمېرل کېږي، خو که د ولي د دورې او ورکولو طريقه نه وه زده، يا مشغول او مريض و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بيا بايد له خپلې خوا وكيل ودروي، د فديې په هبه كولو كې او د دورې په وكالت كې، په دې الفاظو سره چې: ته زما وكيل يې زما له خوا څخه مسـكينانو ته د دې فديې په ښنـلو كې ، په دې ډول چې هر وار بر طرفه سوې بيا زما له خوا څخه وكيل يې د دې فديې په ښنلو كې.

په دې الفاظو يې ولي وكيل ګرځوي ؟ ځكه چې د فديې په ښنــلو كې په مطلق وكالت ســره په اول وار پوره كېدو ســره وكالت ختمېږي چې كار خلاص سي.

او په طلب كولو د هبې كې له فقير څخه بايد خپل قاصـــد وګرځوي، په دې الفاظو سره: او ته زما قاصد يې له مسكينانو څخه د ښنل سوي مال په قبض كولو كې زما لپاره.

ولي يې قاصـــد ګرځوي؟ ځكه چې په هبه طلبولو كې وكالت نه كول كېږي. نو له دې كبله بايد چې په ښنلو كې يې د ټولي دورې وكيل كړي، او له فقير څخه يې د هبې په قبض كولو كې بيا قاصد كړي.

لســـم:... كه چېرته د مړي په ذمه حج پاته و، نو له دې حج څخه د مړي د غاړې خلاصـولو لپاره به نيابةً د يو سړي حج كول معلوموي، او په شـرع كې له حج څخه فديه وركول نسته.

يولســـم:... د قســـم د كفارې لپاره لس (١٠) واره قبض كېدل ضـــروري دي، ولي؟ ځكه چې تصريح په شمېر د لسو مسكينانو په قرآن كريم كې واقع سوې ده، او د روژې او ظهار د كفارې لپاره شپېته (٦٠) واره قبض كېدل ضروري دي، د دې وجه دا ده چې د شپېتو مسـكينانو شمېر ذكر دی، او كه چېرته د دورې د مسـكينانو شمېر شپېته نه و نو پر دوی دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تکرارلو سره شپېته پوره کړي. ځینو ویلي چې باید شمېر یې شپېتو ته ورسېږي.

باید چې شمېر د مجلس شپېتو کسانو ته ورسوي او که پیدا نه سول، نو باید چې په هره ورځ کې یو وار فدیه د کفارې ورکړي تر څو چې په مختلفو ورځو سره د شپېتو عدد پوره سي، او له خلاف او په ضعیف قول باندې له عمل کولو څخه ووځي.

– او د قتل په کفاره کې فدیه ورکول مختلف فیه ده.

دولسم:... کله چې د اسقاط په دوره کې فدیه د مختلف الجنس شیانو موجوده ده نو باید چې د فدیې ورکونکی عالم وي چې پوه سي چې د څه شي (چشي) فدیه ورکوم د لمانځه ده، د روژې ده یا د بل څه ده، تر څو چې فرق وکړای سي، او پوهه د فقیر نه ده ضروري چې د څه شي فدیه قبض کوم ځکه چې هغه محض بښونکی د خپل مال (ملکیت) دی چې ولي (دوره کونکي) ته یې وربښي.

– او دا خبره ټینګه باید په یاد کې ونیول سي، چې دوره کونکی باید پخپله ولي (دمړي واکدار) یا د ده وکیل وي او که داسې نه وي، نو اعتبار نه لري، په ظاهر روایت باندې. دا بیان ټول له جرأة الأئمة څخه راخیستل سوی دی سره له یو څه سمونو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسقاط د دورې کولو عملي طريقه

اول:- به د لمونځونو فديه وګرځوي. د مثال په ډول که چېرته پيسې د سلو فديو د پرېکولو په اندازه وې، دوره کونکی به داسې الفاظ وي: **دا پيسې د دې حاضر مړي د قضايي لمونځونو په اسقاط کې ما تاته درکړې دي.**

او مسکين به په هر وار کې دا ورته وايي: **زما قبولې دي او ما بېرته دربښلې دي.**

او د ورکولو په وخت کې د لمونځونو د شمېر يادونه اړينه نه ده،خو په ذهن کې دې ياد لري چې د دې لمونځونو د نفي کولو په وخت کې بيا ورته معلومه وي چې د څو لمونځونو فديه ادا سوه، د مسکين له خوا څخه د نورو الفاظو ويلو اړتيا نشته لکه څرنګه چې له مخکې بيان څخه معلومېږي،او کله چې دا دوره پای ته ورسېده نو هر څومره نفر چې په دايره کې ناست وي د هر يو په سر دې له فديو څخه سل فديې منفي (کمې ) کړي څکه چې پيسې له سلو فديو سره برابرې دي،او دوره کونکی کس د نفي کولو په حساب کې دخل نلري(دی نه په کې شمېرل کېږي) لکه څرنګه چې مخکې يادونه شوې ده،او بيا به دوره وکړي تر څو لمونځونه ختم سي .

دوهم:- له دېنه وروسته به فديه د روژو وګرځوي: او په هم هغه ډول به يې منفي (کمې) کړي تر څو روژې خلاصې سي، او هر څومره د روژو کفارې چې د ده په ذمه وي ،نو د دې ټولو کفارو د فديې لپاره يو وار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول د یوې کفارې د فدیې د ټولو کفارو د اســقاط لپاره کافي دي، ولې؟ ځکه کفارې یو په بل کې داخلې دي . او داسې به وایي: **د**ا **پیسې د دې حاضر مړي د قضایي روژو په اسقاط کې ما تاته درکړې دي.**

او ورکول به شروع کړي کله چې د قبض کونکو شمېر ۶۰ شپېتو کسانو ته ورسېد یعني شپېتو کسانو دا د روژو د کفارو فدیه قبض کړه. بیا به د قسم لپاره دوره وکړي.

دریم:- او همداســې حکم د قســم د کفارو هم دی، یعني که د ډېرو قسمونو کفارې ورباندې پاتې وي او د یوه قسم کفاره په اسقاط سره پرې کړي نو د ټولو قسـمونو کفاره پرې سـوه. او داسې الفاظ به وایي : **دا پیســې د دې حاضــر مړي د قســمو د کفارو په اســقاط کې ما تاته درکړې دي.**

بیا به په لسو کسانو د قسمونو فدیه وګرځوي، تر هغو چې لس پوره سي نو د قسمو کفاره به خلاصه سي.

قسمونه که هر ډول وي ټول په دې یوه کفاره سره ادا کېږي.

څلورم:- او که چېرته مړی کور داره سړی و یعني متاهل و، نو د ظهار د کفارو لپاره به پیســې د روژو د کفارو په ډول وګرځوي ، که یې څو مېرمنې وې نو د ټولو لپاره به ځان ځانته د ظهار کفاره ورکړي، ځکه چې دلته د ظهار په محل کې اختلاف دی ، او یو په بل کې نه دي ســره داخل ، او که چېرته د یوې ښــځې ظهارونه وو بیا یو وار کفاره ورکول کافي دي، خو که یې ښــځې ډېرې وې بیا به په دوره کې د ده دکفارو تر منځ جلا والی سره وکړي، د مثال په ډول: د اولې مېرمنې د ظهار کفاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



، بیا د دوهمې مېرمنې د ظهار کفاره ، او بیا د دریمې مېرمنې د ظهار کفاره همداسې نورې..... د احتیاط لپاره. او داسې الفاظ به وایي: **دا پیسې د دې حاضر مړي د اولې مېرنې د ظهار د کفارې په اسقاط کې ما تاته درکړې دي.**

او بیا به دوهم وار د دوهمې مېرمنې د ظهار د کفارې ووایي،همداسې تر آخره پورې.

**پوه سه:** چې د تلاوت د سجدې فدیه د یوه فرضي لمانځه د فدیې په شان ده ، په ډېر احطیاط سره ،او نفلي روژې اولمونځونه چې ورسته له شروع کولو یې فاسد کړي وي ، او یا یې نظر کړې وي او وفا یې نه وي وربادنې کړي، او یا د نظر کړل شوي اعتکاف روژې وربادنې پاتې وي یعني وفا یې نه وي وربادنې کړي، خو اعتکاف (په جومات کې ځنډ کول ) دا فدیه نلري، د فدیې په باره کې د دې ټولو حکم د فرضي لمانځه او روژې دی.

پنځم:– به د سهوې د سجدو او تلاوت د سجدو فدیه وګرځوي. او داسې الفاظ به وایي: **دا پیسې د دې حاضر مړي د تلاوت او سهوې د سجدو د فدیو په اسقاط کې ما تاته درکړې دي.**

شپږم: – به د نذرونو فدیه وګرځوي. او داسې الفاظ به وایي: **دا پیسې د دې حاضر مړي د نذرونو د فدیو په اسقاط کې ما تاته درکړې دي.**

اووم: – او زکات او اضحیه یا حلاله او سرسایه او عشر او داسې نور شیان باید چې د دې شیانو پاته اندازه د مړي په ذمه وګرځوي ، نو که یې د دې شیانو په ادا کولو سره له خپله لوري وصیت کړی و، په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره اندازه چې وي، که د ده له پاتې مال څخه پوره کېدو نو د ده له دې پاته مال څخه به يې ور کړي،او که د ده له پاتې مال څخه نه پوره کېدو نو بيا به يې اداء د مخکي طريقې په شـان په دوره کې په ګرځولو سـره ورکړي ، او که يې وصـيت نه و کړی خو په ژوند کې د ده په اقرار سـره د دې شـيانو پاته کېدل (فوت کېدل) معلوم سـوي وو، او يا د ده وليانو او واکدارانو ته دا معلومه وه چې دا شيان د ده پر ذمه پاتې دي ، نو بيا هم د دې شيانو د ادا کېدو لپاره بايد د ادا کېدو په اندازه ګرځول وکړي. او داسې الفاظ به وايي: **<u>دا پيسې د دې حاضر مړي د زکات د فديو په اسقاط کې ما تاته درکړي دي.</u>**

اتم: – به د سرسايو او اضحيو (قربانيو) فديه وګرځوي. او داسې الفاظ به وايي: **<u>دا پيسې د دې حاضر مړي د سرسايو او قربانيو په اسقاط کې ما تاته درکړي دي.</u>**

د مخکي الفاظو په شـان دې د دې د شـيانود ادا کولو لپاره هم الفاظ ووايي.

نهم: – او وروسـته تر دې دي فديه د ټولو حقوق شـرعيه وو د اټکل په اندازه وګرځوي په دې الفاظو:

**<u>دا پيسـې د دې حاضـر مړي د ټولو حقوقو شـرعيه وو په اسـقاط کې ما تاته درکړي دي.</u>**

او که چېرته مړی د دې دورې د مجلس په وړاندې حاضـــر نه وو، بلکې غائب و ، نو بيا به د ده نوم د ده دپلار او نيکه نوم که چېرته مړی يا پلار يې مشهور نه وو، د حاضر د لفظ پر ځای ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که يې شهرت درلود نو بيا دې د هغه مشهور نوم په اخيستو کفايت وکړې. لکه څرنګه چې د فقهي په کتابونو کې راغلي دي.

– **او پوه سه**: چې که چېرته مړى نېك او صالح و، د لمانځه او روژې پابند و، بيا هم بايد د ده د ټولو لمونځو او روژو فديه احتياطًا وګرځول سي، ولې؟ ځکه چې دا احتمال سته کېداى سي په لمونځونو او روژو کې کوم زياتى او کمى ورڅخه سوى وي، شرائط يې ترې پاته سوي وي.

او له دورې څخه له فارغېدو وروسته دې دا دعا سره له ټولو آدابو د دعا له حمد او ثنا وروسته وکړې:

اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ هٰذِهِ الْحِيْلَةَ الشَّرْعِيَّةَ بِحُرْمَةِ نَبِيِّكَ الْمُصْطَفٰى صلىٰ الله عليه وسلّمَ وَاجْعَلْهَا لِهٰذَا الْمَيِّتِ نِجَاتًا وَّ اَمَانًا عَنِ التَّقْصِيْرَاتِ وَالنَّقَآئِصِ وَفَلَاحًا وَّفَرَاغًا لِّذِمَّتِهِ عَنِ الْحُقُوْقِ وَمَخْلَصًا مِّنَ الْعِتَابِ وَعَذَابِ السَّعِيْرِ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَهُ مِنَ الْحُقُوْقِ جَبِيْرَةً وَّمِنَ الْمَعَاصِيْ فِدْيَةً وَّاِلَي رِضَاكَ وَسِيْلَةً وَّاِلَي الْجَنَّةِ قَآئِدَةً وَّمِنَ النَّارِ سِتْرًا وَّحِجَابًا. اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ، اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْ قَدَمَيْهِ عَلَي الصِّرَاطِ يَوْمَ تَزِلُّ الْاَقْدَامُ، اَللّٰهُمَّ خَصَّهُ بِالرَّوْحِ وَالرَّاحَةِ وَالْمَغْفِرَةِ وَالرِّضْوَانِ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ مُحْسِنًا فَزِدْ فِيْ اِحْسَانِهِ وَاِنْ كَانَ مُسِيْئًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ وَلَقِّهِ الْاَمْنَ وَالْبُشْرٰي وَالْكَرَامَةَ وَزُلْفٰي، وَاغْفِرْ لَنَا وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ، وَصَلَّي اللهُ تَعَالٰي عَلٰي خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ، بِرَحمتِكَ يَآ اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

دا ټول بيان له جرأة الأئمة څخه اخيستل سوى دى سره له يو څه زيادت او سمون.

– که مړى مېرمنه وه په دعا کې دې د مؤنث ضميرونه دې وکاوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هغو علماؤو نظر چې مروج اسقاط ناسم بولي

لکه څرنګه چې مو د حکم په بیان کې وویل: دا چې ځینو علماوو د اسقاط حیلې ته مطلق بدعت ویلې دي؛ لکه څرنګه چې مولانا محمد رفعت "قاسمي" مدرس دارالعلوم دیوبند په خپل کتاب "د میت مسائل" کې له دې سرلیك لاندې لیکلي دي؛ **د جنازې د اخیستلو په مهال حیله کول**

پوښتنه: کله چې مړی د جنازې د لمانځه ځای ته وړي، قرآن کریم را اخلي، یو بل ته یې ورکوي، ګرځوي یې بیا څه پیسې ملاصاحب ته ورکوي. دا کار د ګناه د معافي لپاره کېږي. آیا دا صحیح ده؟

ځواب: دا اسقاط معاصي (د ګناه معاف کېدلو) طریقه بې اصله ده. بدعت او نارواه ده. که ملاصاحب بې وزله او مستحق وي، هغه ته خیرات ورکول او مړه ته یې ثواب ښښل صحیح دي. دغسې، نورو بې وزلوته، د خوړلو، څښلو څه شی یا پیسې، یا جامې یا بل څه د ثواب په هیله ورکول ښه دي. په حواله د فتاوی محمودیه ج۲ص۴۳۱.

په قرآن او حدیث کې چېرې هم د دې ثبوت نشته او نه فقهاوو داسې لیکلي دي، د رسول الله ﷺ او صحابه وو چې کومه طریقه روایت شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، د هغې خلاف ده او د قرآن بې عزتي هم ده. د دې پرېښودل ضروري دي.

د کتاب نوم: د میت مسائل (بشپړ او مدلل)، لیکوال: مولانا محمد رفعت "قاسمي" مدرس دارالعلوم دیوبند، ژباړن: عبدالله ګل "ریان"، تصحیح کونکی: مولوي سفر محمد "عابد"، د چاپ کال: ۱۳۳۱ هـ ق (۱۳۸۹لمریز)، خپرندی: رشیدیه کتابخانه، کوټه.

## د نورو علماوو بله رائیه

د دیوبند اړوند علماء وایي: د اسقاط دوره په اصل کې ثابته ده، فقهاوو او په ځانګړې توګه د دیوبند اکابرو یې په رواه والې تصریح کړې ده یعني په ځرګنده توګه یې رواه بللې ده. او دوی دا هم ویلې دي چې مروجه د اسقاط طریقه بدعت دی، ځکه چې کوم شرائط او آداب ورته تاکل شوي نه مرعات کېږي..... نو که په صحیح معنا سره دا شرائط مرعات کړل شي بیا هېڅ ستونزه نشته او د ثواب کار دی.

له هغو آدابو او شرائطو څخه دا لاندې لنډ بحثونه د "**تشریح حیله اسقاط در مذهب حنفي**" او "**د نن سبا مروج (اسقاط) حیله رواه ده که یا؟**" له عنوانو لاندې را نقل کوو:

### تشریح حیله اسقاط در مذهب حنفي

د اسقاط حیله لکه څرنګه چې په په خپل اصل کې ثابته ده همدارنګه فقهاوو په ځانګړې توګه د دیوبند اکابرو علماوو د دې په مشروعیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصریح کړي ده (ښکاره یې رواه بللې ده) او دایې ویلي چې مروج اسقاط بدعت دی او هیڅوك هم له فدیې او صدقې څخه انکار نه کوي.

**د مشروعیت شرائط یې**: اول؛ د وارثانو په منځ کې به غائب او نابالغ نه وي، ځکه د هغوی له مال څخه تبرع (د ثواب په نیت ورکړه) نه ده صحیح.

دوهم: په دایره کې دې یوازې مسـکینان کېني، غنیانو (شـتمنو) ته په هبه سره ذمه نه خلاصېږي.

دریم: دا چې مسـکینان با ید په پوره ډاډ سـره د مال ملکیت تر لاسـه کړي، یوازې په فرضي او ژبني توګه سره نه، او که چېرته داسې نه وي نو په داسې حیله سره مقصود نه حاصلېږي، که چېرته مسـکین له بېرته بښلو (ورکولو) څخه انکار وکړي نو باید په بېرته وربښلو مړی ته مجبور نه کړل سي، که چېرته دا مال دومره اندازه وي چې د حیلې د ترسره کولو په وخت کې جمع سي او مسـکین د نصاب خاوند پرې وګرځي نو په ده حج فرض کېږي، او په بښلو د دې مال بل چاته هغه حج د ده له غاړې نه ساقطېږي، د دې لحاظ هم باید وکړل سي.

د فقهاوو د حیله اسـقاط فرق له مروج اسـقاط سـره، فقهاء کرام پخپله اسـقاط په حیله اسـقاط سـره تفسـیروي چې په څرګنده توکه معلومه ده چې د هغوی په نزد دا اسـقاط نه فرض دی، نه واجب، نه سـنت او نه هم مستحب ځکه د حیلې شرعي حیثیت دغه نه وي، غوره حیثیت د حیلې اباحت وي هغه هم هغه وخت چې په شـرعي محرماتو کې ارتکاب نه وي پکې. قـال العلامـة ابن عـابدین في ردالمحتـار: ونصّ علیـه في تبیین

(c) ketabton.com: The Digital Library



المحارم فقال: لايجب علي الولي فعل الدور وإن أوصى به الميّت لأنها وصية بالتبرع والواجب علي الميِّت أن يوصى بما يفي بما عليه إن لم يضق الثلث عنه، فإن أوصى بأقل وأمر بالدورا وترک بقية الثلث للورثة أو تبرَّع به لغيرهم فقد اثم بترک ما وجب عليه. ا هـ.

په ولي دور (دوره اسقاط) نه ده واجب، که څه هم مړي يې پر کولو وصيت کړی وي، ځکه دا وصيت په تبرع (د خدای د رضا لپاره کولو) باندې وصيت دی، او په مړي واجب دا ده چې په هغه څه وصيت وکړي چې هغه څه پوره کوي چې په ده باندې وي که چېرته ثلث ترېنه کم نه و، نو که چېرته يې وصيت وکړ په کم شي او په دور باندې يې امر وکړ او باقي ثلث يې د وارثانو لپاره پرېښود يا يې د احسان په ډول بل چاته په ورکولو وصيت وکړ، نو دی ګناهګار سو د هغه څه په پرېښودلو چې په ده واجب دي.

دوره يوازې د هغو مړو لپاره ده چې فقيران او مسکينان وي يعني د هغوی په ترکه (ميراث) کې دومره اندازه څه شی نه وي پاته چې د قضا شوو لمونځونو او روژو تعداد چې ده قضا کړي وي په شرعي ډول سره پوره کړي چې هغه نيمه پېمانه (يو چارك) يا حتياطًا دوه کيلو غنم دي.

او دغه دروه اسقاط د امراو (واکدارانو) او شتمنو خلکو لپاره نسته، بلکې د شتمنو، واکدارانو او مشرانو لپاره په يوه طريقه د اسقاط دوره اداء کېدلی سي چې د مړي له ميراث څخه که چېرته فديه پوره سوه د هغه د ټولو روژو او لمونځونو لپاره فديه ورکول ضروري دي، په دې شرط چې مړي يې وصيت هم کړی وي او د ميراث له دريمې برخې څخه پوره هم سي، نه دا چې د هغه له پاره مروجه د اسقاط حيله وسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم د فقهې په کتابونو کې ښــکاره راغلي دي: که چېرته مړی مالدار وي او وصـیت یې هم نه وي کړی نو د مړي په ورثه د اسـقاط حیله لاژمه نه ده او نه هم کوم وارث د نورو وارثانو له اجازې پرته داســې تصــرف کولی ســي ځکه چې شــرعًا د داســې کار کولو حق نه لري، او که چېرته کوم وارث د ټولو وارثانو له اجازې پرته داســې کار وکړي شــرعًا د ټولو وارثانو د حق ضـــامن دی، د بزازیه په فتوا کې دا ویل موجود دي. په داسې حال کې چې مروج اسقاط کې د دې خیال هم نه کول کېږي بلکې په هر حال کې یې لاژم او ضروري بولي، په داسې حال کې چې په وارثانو کې نابالغ او غائب هم وي او یایې حاضر وارث که ناراضه (ناخوښه) هم وي په داسې وخت کې یو لوی وارث خامخا دا اسقاط کوي او بېځایه د ټولو وارثانو حق له منځه وړي او مصرف شوې پیسې په ګډه سره په ټولو وارثانو باندې کوي په داســې حال کې چې دا کار په ټوله کې د اســلامي مقدس شریعت خلاف دی: فقهای کرامو د اسقاط د مال مصرف یوازې په مســـکینانو او فقیرانو باندې پېژندلی دی او کومه خاص طبقه (ډله) یې نه ده ځانګړې کړې او نه یې هم کوم وخت د اسقاط لپاره ټاکلی دی، خو په مروج اسقاط کې عوامو له یوه لوري یوه خاصه ډله مقرره کړې ده چې یوازې له هغې ټاکلې ډلې پرته د اســـقاط مال د بل ښـــار یا کلي یتیمانو او فقیرانو ته تقسیم سي داسې اسقاط د هغوی په نزد نه سي روا کېدلی او له بل لوري یې یوازې د جنازې وخت مقرر کړی دی چې د هغوی په نزد نه لـه دې مقرر ســـوي وخت نـه مخکې کېږي او نـه هم وروسته، په داسې حال کې چې په شریعت کې داسې شرط (قید) وجود نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فقهاي کرامو دا هم ليکلي دي چې په هره دوره يا حلقه کې د اسـقاط مال ګرځول کېږي په هغه کې به مالدار او شتمن نه وي، ځکه؛ د مالدار او غني لپاره د واجبي فديې مال اخيسـتل نارواه بلکې حرام دي نو له دې کبله بايد په دايره کې شـتمن کس هيڅکله نه وي، خو د عوامو د مروج اسقاط په دايره کې شتمن خلك هم وي چې د هغوی لپاره د واجبو صـدقو اخيسـتل په قطعي ډول حرام دي. نو لهذا دا مروج اسـقاط هيڅکله د فقهاوو د اسـقاط په څېر نه ســي کېدلی د عوامو په مروج اسقاط کې قرآنکريم د فديې جز ګرځول کېږي، او له قرآنکريم پرته ځوك د اسـقاط حيله کوي هم نه: په داســې حال کې چې د فقهي په معتبرو کتابو کې چې په هر ځای کې د اسقاط حيله راغلې ده د قرآنکريم نوم او نښـان هم نه دی پکې راغلی چې قرآنکريم دې د فديې جز وګرځول سـي او په دوره کې دې وګرځول ســي. په دې ځای کې د جوماتونو ځيني امامان قرآنکريم پلوري (خرڅوي) چې دا ډېر خراب کار دی او دوکه هم ده نو له دې کبله که چېرته د مړي وارث قرآن مجيد ونلري دغه امامان له يوه څخه نيولي تر دوو زره روپيو د بل چا قرآنکريم په هغوی خرڅوي په دې کار کې د هغوی مقصـد دا دی هر کله چې قرآنکريم په يو يا دوه زره خرڅ کړل سـي او بيا دغه قرآنکريم د فديو له مال سـره يو ځای کړل ســي او د فديې برخه (جز) وګرځي د فديو اندازه زياتېږي ځکه چې د فديو په پيسو دوه زره پيسې د قرآنکريم هم ور ډېري سوې، اصلًا دا بيع (بيه) نه ده، د فقهاوو په نزد اسقاط هغه دورې ته ويل کېږي چې د حلقې په منځ کې وګرځول سي په دې کار سره د هغوی نذر سوی اسقاط پوره کېږي او له دې ګرځولو وروسـته د دې مال تقسـيمول (وېشـل) فرض او واجب نه دي او نه يې په وارث باندې د ټاکل سوي اسقاط وېشل لازمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، په دې مروجه حيله کې له اسقاط وروسته د پيسو وېشل ضروري دي او له وېشلو پرته د هغوی اسقاط له سره ندی سوی او يا دا چې بشپړ ندی او دا اسقاط هم پر هغو کسانو لازم دی چې محنت يې کړی دی او ګرځول يې کړي وي، که چېرته په ټولو فقيرانو او غريبانو تقسيم سي، نو بيا دې د خپل اسقاط سيلونه کوه چې څه محشر را ولاړېږي له دې نه علاوه د عوامو دغه اسقاط کې مال هم په غلطه طريقه وېشل کېږي، هغه کس ته چې مشهور وي عزتمند وي، يا د جومات امام وي هغه ته زياتې پيسې ورکول کېږي، او غريب، اړمن او طالب العلم او ټولو فقيرانو او مسکينانو ته چې د جومات امام هم نه دي کمې پيسې ورکول کېږي. تاسي پخپله په انصاف سره ووايأست دغه هرڅه د عوامو په اسقاط کې نسته؟ آيا د فقهاوو او عوامو په اسقاط کې کوم ورته والی (مناسبت) شته دی که نه؟ خو د فقهي په کتابونو کې اسقاط ياد سوی دی او د عوامو په منځ کې هم اسقاط رواج دی نو دا رواجي اسقاط هم جائز دی ځکه چې د دې نوم هم اسقاط دی! هيڅکه داسې نه سي کېدای (کلّا و حاشا).

## د نن سبا مروج (اسقاط) حيله رواه ده که يا؟

**سوال ١٢**: څه فرمايي علماء په دغه مسئله کې چې کله يو کس مړ سي نو بيا د هغه وارثان بيله د هغه د وصيت څخه را ولاړېږي د اسقاط مروجه حيله کوي چې پيسې دسمال ته واچوي او خلګ يوه ګردئ او ګول دايره جوړ کړي دا فرق او تميز يې نه وي چې دا موږ دی که مسکين،دا فقير دی که غني نو دوی ټول دغه ترلي روپۍ دغه کسانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلا فرقه ورکوي يو وايي ما درکړي دي هغه بل وايي ما قبولي کړې دي بېرته مي درکړي دي. آيا د قرآن کريم او احاديثو مبارکه وو او حنفي فقهي له مخې څخه دغه د نن سبا مروجه طرز او طريقه باندې اسقاط حيله درسته او صحيح ده که يا؟

**ځواب:** دا خبره دي واضح او ښکاره وي چې (علامه ابن عابدين رح)چې په علامه شامي سره مشهوره دی او داسې نورو فقهاوو چې د اسقاط د حيلې اجازه ورکړې ده هلته دغه خبره په ښکاره توګه سره ذکر ده چې دغه حيله هغه وخت رواه ده چې د مړي د توله مال د دريمې حصې څخه د ده د قضاء سوو لمونځونو او روژو فديه نه سي اداء کېدلای پيسې او دارايي يې کمه وي دومره نه وي چې د ده د قضاء سوو روژو او لمونځونو فديه پرې ادا کړل سي نو بيا دغه فديه د اسقاط رواه ده اوداسې صورت کله کله اتفاقًا پېښېږي هر وخت نه پېښېږي لهذا دغه حيله مستقل رسم جوړول او دهر مړي سره دغه حيله د اسقاط کول او ګرځول د دې ،اجازه شرعًا نسته.

( اوبو حنيفه عصر) حضرت مولاڼا مفتي رشيد احمد ګنګوهي (رح) په فتاوی رشيديه صفحه ۱۱۶ کښې ليکلي دي چې د اسقاط حيله علماء کرامو د مفلس کس لپاره وضع کړې ده نن سبا دغه حيله د لذيذو او خوندورو حلواوو او خوراکونو د خاوندانو لپاره مقرره سوې ده يعني غنيانو او پيسه داره خلګو هم نن دغه حيله رواج کړې ده خپلو مړو سوو خلکو لپاره.

الله (ج) په نېتونو ښه خبر دی هلته د الله سبحانه و تعالی په دربار کې هيڅ حيله نه چلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مفلس لپاره هغه وخت حیله مفیده ده چې د وارثانو نیت صــحیح وي او که یې نیت صــحیح او درســت نه وي نو دالغوه او فضــول او د دنیا د حصول لپاره یوه ذریعه او حیله ده.

اسقاط وایي څه ته؟

اســقاط دغه ته وایي چې د کوم شــخص څخه لمونځونه او روژې قضــاء ســوې وي او بیا دی مړ کېږي نو دی وصــیت وکړي چې زما دمال څخه دې زما د لمونځو او روژو فدیه اداء کړل سي د دغه وصیت څخه وروسته د ده وارث د ده د مال له دریمې حصــې څخه د هغو فدیه د هر لمانځه د فدیې په حســاب اداء کوي همداشــان د هري روژې د فدیې حکم دی. او هغه دایره خلك چې سره کېني بیا دغه پرې تقسیم کېږي دغې طریقې ته حله اســقاط وایي :دغه فقط د غریبانو لپاره او مســکینانو لپاره ده، د شـــتمنو او مړو خلکو لپاره نه ده، او دغه حیله هغه وخت روا ده چې د مړي د مال په دریمه برخه باندې دغه لازمه فدیه نه ســي اداء کېدلای پېسې یې لږ سي او دا صورت یو وخت نا وخته پېښېږي او نن سبا یې د مســتقل رسم صــورت اختیار کړی دی او دا جائز نه دی. حضــرت مولانا مفتي رشــید احمد صــاحب (رح) په احســن الفتاوی کې جلد ۱ صــفحه ۲۴۹ کې لیکلي دي : چې دغه مروجه د نن ســبا حیله د اســقاط نه ده رواه ځکه چې (شــامي صــاحب د ردالمحتار ) او نورو فقهاوو چې اجازه ورکړې ده نو هغوی په هغه کې دا خبره ښکاره لیکلې دي چې دا حیله د اســقاط هغه وخت رواه ده چې دغه فدیه په ثلث مال ســره د مړي اداء نه سي او داصورت کله ناکله پېښېږي او دغه حیله مستقل رسم جوړول نه دي په کار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا هم ضـروري ده چې د دغې حيلې څخه د عوامو عقيده فاسـده نه سي. دی فرمايي نن سبا چې کومه حيله د اسقاط مروج ده په دې کې څو خرابۍ وجود ته راځي:

**اول:** تمليك (يعني فقير د دغه مال مالك جوړول) د فقراوو پر داسې طريقه کېږي چې په هغه طريقه سـره تمليك وجود ته نه راځي ولې؟ که دغه فقير دغه دوه لکه يا درې لکه پيسې واخلي او وځغلي نو بيا په موټرانو او خلکو سره را نيول کېږي چې هله پيسې يې يوړې.

**دوهم:** د دغې مذکوره حيلې څخه فسـاد د عقيدې لازمېږي او عوام پر ګناهونو جرئت پيدا کوي نو بيا د لمانځه او د روژې خاص خيال نه ساتي او نه يې پرواه کوي.

**دريم:** د دغې مذکوره حيلې نن سبا داسې التزام کېږي (لازمه بلل کېږي) چې دا د مړي د تکفين او د خښـېدو د کړنو څخه يو ضـروري کړنه او عمل ګڼل کېږي او په التزام سره مباح کار لاځه کوې مندوب او مستحب کار هم مکروه ګرځي. (کما صـرح في الشـاميه وغيرها قال في شـرح التنوير کل مباح يؤد اليه ای الي الوجوب فمکروه.)

**څلورم:** ورثه د مړي د مړي د مال د دريمې حصې څخه فديه نه اداء کوي حالانکه د اسقاط د حيلې جواز هغه وخت سـته چې د مړي د مال دريمه حصـه ختمه سي او بيا هم فديه پوره نه سي او د دغه فديې وصيت کول او اداء کول دواړه لازمي دي مګر زموږ په زمانه کې د فسـاد عقيدې له وجې دا هم نا جايزه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم**: هر کله چې نن سبا په عمومي ډول سره دغه اسقاط او حیله د مړي د وصیت څخه بغیر کېږي وارثان راولاړېږي خپل پر سر دغه کار دمړي د ترکې او ماله څخه کوي حالاتکه په وارثانو کې نابالغه افراد هم سته لکه واړه ماشومان او حال دا چې د هغوی د اجازې اعتبار هم شرعًا نسته یعني که اجازه ورکړي لا هم نه ده صحیح .

**شپږم**: په (جرأة الأمة) کتاب کې چې یې د اسقاط د حیلې جواز ثابت کړی دی هغه یې په شرائطو جائز کړی دی او هغه شرائط د نن سبا په دغه مروج اسقاط کې نیستي دي لهذا دا امت د فقهاوو خصوصًا د دیوبند د علماوو او مفتیانو فتوای دا ده چې مروجه حیله اسقاط نارواه ده باید ترك وهل سي (پرېښودل سي) او دا دعلماء کرامو فریضه ده چې پر دغسې منکراتو باندې رد وکړي او خپله ټولنه د بدعاتو او رسومو څخه پاکه کړي او که سنتونه ژوندي وه پر شریعت باندې به عمل ډېر اسانه وي او که بدعات او رسوم خواره واره وه نو دا اسانه دین به بیا پر خلګو دروند سي لکه د هدیرې مراسم چې نن سبا خلکو درانه کړي دي. د دغې مسئلې د ښه وضاحت له پاره تاسې د دغو لاندې ذکر سوو اتلسو (۱۸) فتاواوو او کتابونو حوالې مطالعه کولای سئ.

ردالمحتار مع الدرالمختار جلد ۲ صفحه ۷۳ باب قضاء الفوائت بیروت چاپ.

فتاوی عثماني ج ۱ ص ۱۲۰ ص ۱۲۱ ص۱۱۸.

حیله اسقاط از دید شریعت اسلامي ص (۲۱، ۲۳).

فتاوی رشیدیه ص ۱۳۹.

احسن الفتاوی ج ۱ ص ۳۴۹

عزیز الفتاوی ص ۱۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



امداد المفتين ص ۱۶۰

فتاوی مفتي محمود ج ۳ ص ۱۶۴، ج ۳ ص ۱۷۴، ج ۳ ص '۱۶۸' '۱۸۱' ج ۳ ص ۱۶۹.

ستاسي مسائل اود هغه حل ج ۳ ص ۱۲۳.

فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۹۱، ج ۳ ص ۳۲۵

اصلاح الرسوم ص ۱۲۳

خيرالفتاوی ج ۳ ص ۳۱۳ ص۳۱۲.

فتاوی محموديه ج ۱ ص ۱۸۶.

مسائل رفعت قاسمي ج ۲ ص ۱۶۶.

فتاوی رحيميه ،امداد الفتاوی.

فتاوی حقانيه ج ۱ ص ۵۲۲ کتاب البدعة والرسوم.

امداد الاحکام،جديد معاملات او د هغوی شرعي احکام حصه آخر ص۲۴۹ اردو.

## د دې علماؤو په وينا د اسقاط صحت

د اسقاط په باره کې د دوی مقصد دا دی: هر کله چې اسقاط د فقهاءکرامو له اسقاط سره موافق وي او له يادو شويو مفاسدو څخه يو هم نه وي پکې نو بيا اسقاط جائز او د ثواب کار دی، په دې شرط چې فرض او واجب يې ونه ګڼي، او که چېرته له يادو شويو مفاسدو څخه يو هم پکې وي نو دا اسقاط د هغه له وجې ناجائز دی، بلکې له ثواب څخه بلکل خالي دی.

نو هغه کسان چې اسقاط کوي، نو لازمه ده چې د وراثت د قانون موافق د مړي قرضونه (پورونه) اداء کړي، او بيا ورپسې پاته ميراث د شريعت موافق د وارثانو په منځ کې ووېشي او هر يوه ته يې چې د برخې وارث

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ورکړي او ورســـته هر وارث پخپله خوښــه هر څومره پیســې چې وغواړي مړي ته د ثواب رســولو لپاره مصــرف کړي، دا صــحیحه او شرعي طریقه ده له سلف صالحینو نه نقل شوې او تر اوسه پورې روانه ده او د قرآنکریم او احادیثو له احکامو ســره هم مطابقت لري. حکم حیله اسقاط در شریعت اسلامی

دغو علماء کرامو د دغو کتابونو لیســت وړاندې کړی دی چې مروجه حیله اسقاط یې بدعت بللی دی:

د کتابونو لېست

لست کتب یکه حیله اسقاط را بدعت نامیده اند:

- جواهر الفقه مفتي محمد شفیع ج۱ ص۳۷۹.
- فتاوی منبع العلوم عمر سربازي ج۵ ص۳۶۷ مکتبه فاروقیه پشاور.
- زیور جنتی محمد اشرف علی تهانوی ص۱۸۱.
- احکام میت محمد عبدالحی صاحب ص ۱۷۹.
- فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۴ ص۵۵۹ _ ۵۷۰ او ۵۷۷ او ۵۷۸ مکتبه فاروقیه پشاور.
- فتاوی ابن تمیم سید نجم حسن رئیس دارالإفتاء دارالعلوم یاسین قرآن.
- راه سنت از مفتی شیخ سرفراز خان صفدر ص۳۲۷ مکتبه علم فرهنگ پشاور.
- فتاوی دارالعلوم حقانیه ج۲ ص۵۷_۶۲ بحث رسومات وبدعات مکتبه رشیدیه.
- محمود الفتاوی ج۱ ص۳۱۹ او ۳۲۹ مکتبه خیبر پلورنځی کابل افغانستان.
- فتاوی ودودیه ص۳۱۰.
- فتاوی منبع العلوم محمد عمر سربازی ج۵ ص۳۲۸ مکتبه فاروقیه.
- مجمع الرسائل ابن عابدین ج۱ ص۲۰۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تفسير عروة الوسقیٰ ج۳ او ۲ ص۲۰۳ ص۲۰۹ مکتبه احمد کابل افغانستان.
- لامع الدراری تالیف رشید احمد گنگوهی ج۱ ص۲۱۸.
- تفسیر سراج المنیر ج۳ ص۱۸۷.
- مفردات القرآن اصفهانی ص ۱۳۷.
- عمدة القاری ج۱۲ ص۱۰۸.
- فیض الباری ج۶ ص۴۱۷ باب ترك الحیل شش جلدی.
- فتاوی هندیه ج۴ ص۳۹۰.
- اعلام الموقعین ص۲۲۱ ج۳.
- اشعة اللمعات ج ۱ ص۳۶.
- رد المختار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۶۹۵.
- اشباه النظائر.
- رد مختار علی در مختار ج۱ ص۲۴۴.
- احسن الفتاوی ج۱ ص۲۴۹ مولانا عبدالحی الکنووي.

همداسې یې څلورشپېته (۶۴) کتابونه پسې لیکلي دي.

# دنکاح بیان

**د نکاح مســـتحبات:**د احنافو په نزد د نکاح اعلان کول د ډول په وهلو، یا د ښــانونو لکه رنګارنګ ګلانو هارونو یا پردو په ځړولو، یا د زیاتو چراغونو په بلولو یا دېته ورته نورو شـــیانو چې د واده (نکاح) مراســـم ورباندې پېژندل کېږي مستحب دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدارنګه دا هم مستحب ده چې د نکاح له تړلو څخه مخکې يو کس خطبه ولولي، او دا لاژمه نه ده چې خطبه دې په ځانګړو الفاظو باندې وي، خو که په هغو الفاظو خطبه ولولي کوم چې رانقل شوي دي کوم چې مو د نکاح په خطبه کې راړي بيا ډېره ښه خبره ده.

او بل چې د جمعې ورځ وي نکاح تړل مستحب دي.

او دا هم متسحب ده چې مخامخ پخپله له مېرمنې سره نکاح ونه تړل سي، بلکې د ښځې له خپلوانو دې يو هوښيار او نېك کس دا د نکاح تړون په غاړه واخلي (د ښځې وکيل دې جوړ سي) او بيا دې نکاح وتړل سي.

او دا هم مستحب ده چې شاهدان عادلان وي، د دې لپاره چې د نکاح تړلو مانع ونه ګرځي په هغه صورت کې چې له زوم سره د مهر پيسې نه وي بلکې د سړي لپاره دا مستحب ده که شونې وي چې د نکاح لپاره له کوم چا څخه قرض واخلي، ځکه نکاح کونکی چې د پاکلمنۍ اراده لري الله ﷻ له هغه سره مرسته کوي لکه څرنګه چې په حديث شريف کې راغلي.

او همدارنګه مستحب ده چې مخکې له نکاح تړلو خپلې جوړې نجلۍ ته وګوري په دې شرط چې په دې پوهېږي چې له هغې سره د نکاح تړل قبلوي، خو که چېرته په دې پوهېدو چې دی دا نکاح ردوي او نه يې قبلوي نو د ده لپاره دا نه ده جائز چې ورته وګوري په هر حال چې وي. د دې معنا دا ده چې مخطوبې (هغه نجلۍ ته کتل چې د نکاح غوښتنه يې شوې) د دې لپاره وي چې د دواده کولو لپاره يې سم اقدام وسي او د دواړو لورو يو بل ته ميلان پيدا سي، او دواړه يو پر بل باندې راضي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي، خو که غرض يې يوازي ميلان و په ښځو ځان خبرولو ته پرته له دې چې د نكاح لپاره سم اقدام وكړي بيا يې كتل ورته حرام دي.
او مستحب ده چې د ښځې عمر له سړي څخه كم وي، د دې لپار چې ژر يې عمر ډېر نه سي بيا به اولادونه نه سي راوړلی، ځكه چې د نكاح كولو مطلب او غوښتنه همدغه د اولادونو راوړل دي چې امت پرې ډېرېږي او قوي كېږي وربانديې.
او مستحب ده چې ښځه په مقام او قوت او مال كې له سړي څخه كمه وي ځكه چې سړي پر ښځو مسلط او اداره چيان دي او ساتونكي دي دوی لره، نو كه چېرته سړی قوي او د لوړې مرتبې نه وي او د ډېر مال څښتن نه وي بيا ښځه غاړه نه ورته ږدي او دی يې هم د ساتنې توان نه سي لرلی له دې وجې رسول الله ﷺ فرمايلي : څوك چې ښځه د هغې د قوت لپاره په نكاح كړي الله ﷻ به د ده قوت نه ورزياتوي مګر ذلت ورزياتوي، او څوك چې كومه ښځه د هغې د مال لپاره په نكاح كړي الله ﷻ د ده ته مال نه ورزياتوي مګر فقر ورزياتوي. او څوك چې ښځه د هغې د حسب له كبله په نكاح كوي الله ﷻ د ده قدر نه زياتوي مګر سپكوالی يې زياتوي، او څوك چې ښځه په نكاح كړي بل كوم مقصد نلري يوازې دا چې سترګې يې له حرامو ښكته وي او له زنا څخه وساتل سي او خپلوي وربانديې ټينګه كړي الله ﷺ به په ښځه كې د ده لپاره بركت واچوي او په ده كې به د ښځې لپاره بركت واچوي[15].

[15] "من تزوج امرأة لعزها لم يزده الله إلا ذلاً، ومن تزوجها لمالها لم يزده الله إلا فقراً. ومن تزوجها لحسبها لم يزده الله إلا دناءة، ومن تزوج امرأة لم يرد بها إلا أن يغض بصره ويحصن فرجه أو يصل رحمه بارك الله فيها وبارك لها فيه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غوره دا ده که په درياب وهلو کې هغه څه نه وي چې د آدابو خلاف دي بيا پرته له کراهيته جائز دی، لکه په واده کې د ښځو ځانونه سينګارول پرديو ښځو ته د سړيو او زوم په مخ کې بې پروايي کول او دېته ورته نور او که دا شيان وي بيا يې وهل حرام دي.

## د نکاح عملي زدکړه

**نکاح:** واده کول؛ هغه تړون ته ويل کېږي چې مېړه او ښځه يو له بل سره يو ځای کوي (تړي) يې. لغتنامه د هخدا

**د نکاح حکم:** د جمهورو علماؤ په نزد نکاح کول سنت دي. دا هغه وخت چې څوك په ځان ډاډه وي چې په زنا او حرامو کې نه واقع کېږي.

خو که په ځان ډاډه نه وي او شهوت يې غالب وي بيا نکاح کول د ټولو لپارت واجب دي.

**د نکاح رکن:** د نکاح رکن ايجاب او قبول دي، **ايجاب؛** هغه لفظ ته ويل کېږي چې په دوو تړون کونکو کې يې اول کس ووايي.

**قبول؛** هغه لفظ ته ويل کېږي چې دوهم تړون کونکی يې ووايي. لکه: يوه ښځه چې يوه سړي ته ووايي؛ ما په نکاح کړه، او سړی ورته ووايي؛ ما په نکاح کړې يې. اول ته ايجاب دوهم ته قبول وايي.

**د نکاح شرط:** د شاهدانو حضور (شتون) دی، دا شاهدان به يا دوه سړي وي يا يو سړی او دوه ښځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې شرط چې دا شاهدان به: اصيلان وي، بالغان به وي، هوښيار (عاقلان) به وي او مسلمانان به وي. تسهيل الهدايه

## د نکاح تړلو طريقه

دا چې ايجاب او قبول رکن وګرځېدل، نو که ايجاب او قبول موجود نسي نو بيا نکاح نه صحيح کېږي.

ښه خبره دا ده چې خاوند او مېرمنه خپله د نکاح مجلس ته راوستل سي، لکه څرنګه چې په ښارونو کې رواج لري.

خو که فرضًا د شرم له امله مجلس ته نه راتلل بيا به دواړه لوري (طرفه) وکيل نيسي او وکيل به په مجلس کې حاضر وي. د مثال په ډول: ښځګا ته نکاح تړل کېږي، نو مخکې له مخکي دې له خاوند څخه هم مخامخ پوښتنه وشي چې ستا وکيل څوک دی؟ او هغه ووايي د مثال په ډول؛ زيد دی.

همدارنګه کله چې مېرمني "ناوي" ته شاهدان ورلېږل کېږي، نو ملاصاحب يا هر څوك چې نکاح تړي هغه دې دوه نفره داسې شاهدان چې د شاهدي شرطونه پکې وي لکه مسلمان، عاقل او بالغ به وي ورولېږي، دوه سړي يا يوسړی دوه ښځې، نور دې شاهدان پوهه کړي چې کله د ښځو مجلس ته ورسي، نو له واده شوي ښځې (ناوي) څخه دې پوښتنه وکړي، چې ستا د نفس او مهر وکيل فلانی دی!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که دغه ناوي چې اوس يې نکاح تړل کېږي پخوانۍ کونډه وه بيا به په خپله خوله ښکاره دا اقرار کوي چې هو فلانی زما د نفس او مهر وکيل دی، يعني د کونډې پټه خوله اقرار نه دی.

او که دغه ناوي پيغله وه بيا د هغې سکوت (چوپ پاته کېدل) هم اقرار دی.

بيا چې کله شاهدان د ښځو له مجلس څخه راسي نو د چا لپاره يې چې وکالت راوړی وي هغه به ملا صاحب ته وروښيي.

بيابه ملا صاحب د مهر پوښتنه وکړي، کله چې مهر معلوم سي بيا به خطبه شروع کړي.

## د نکاح خطبه

دا مستحب ده چې د نکاح له تړلو څخه مخکې يو کس خطبه ولولي، او دا لازمه نه ده چې خطبه دې په ځانګړو الفاظو باندې وي، خو که په هغو الفاظو خطبه ولولي کوم چې رانقل شوي دي بيا ډېره غوره ده: لکه دغه خطبه چې په احاديثو کې راغلې ده:

((أَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلا تَمُوتُنَّ إِلا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ "[16]. وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا "[17]، اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلا سَدِيدًا . يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا "[18])). سنن ابن ماجه، كتاب النكاح، باب خطبة النكاح. الفقه علي المذاهب الأربعة.

## او كه يې دا لاندېنۍ خطبه ياده وه دا دې ولولي:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ النِّكَاحَ سُنَّةً مِّنْ سُنَنِ سَيِّدِ الْأَنَامِ فَاصِلًا قَاطِعًا بَيْنَ الْحَلَالِ وَ الْحَرَامِ كَمَا قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰي فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۖ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوٰحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمٰنُكُمْ ، وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلنِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِيْ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ وَلَا يَجُوْزُ النِّكَاحَ اِلَّا بِحُضُوْرِ الشَّاهِدَيْنِ حُرَّيْنِ اَوْ حُرٍّ وَّ حُرَّتَيْنِ مُسْلِمَيْنِ الْعَاقِلَيْنِ الْبَالِغَيْنِ.

او كه د بدلون نكاح وه يعني ښځه د ښځې په بدل كې وركول كېده نو دې ته په احاديثو كې شغار وايي او د شغار نكاح حرامه ده خو هغه وخت زمونږ په مذهب صحيح كېږي چې د دواړو ښځو لپاره مهر معلوم كړل سي. لكه اوس وخت كې د يوې ښځي لپاره پنځلس زره افغانۍ او د بلې ښځي لپاره شپاړس زره افغانۍ يا لس زره افغانۍ معلومي

[16] سورة آل عمران آية ١٠٢.
[17] (سورة النساء آية ١ )
[18] (سورة الأحزاب آية ٧١-٧٠ ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، ځکه په اوس وخت کې د لســو درهمو اندازه چې کومه ده هغه له دېنه هم کمه ده.

## غلط رواج :

او کوم رواج چې د پښتنو په سیمو کې دی هغه دا دی چې کله د بدل نکاح وي، نو دوی سره ووايي چې که کومه یوه مړه سي د هغې به پور معلوم وي.

بیا ناست خلك سره ووايي: که کومه یوه مړه سي نو د دې مړې ښځې به دوه لکه پور ورکوي هغه بلې کورنۍ ته، او که مړه نسي بیا خو نو ښځه د ښځې په بدل (عوض) کې شوه چې دا عین شغار دی.

نو دې کار ته په کتو ســره باید د دواړو لپاره پیســې (مهر) معلوم کړل سي چې دا د نکاح تړون له شغار څخه خلاص شي.

- کله چې خطبه وويل سي او مهر معلوم کړل سي نو ملا صاحب به د ښځې نوم او د هغې د پلار نوم او د هغه سړي نوم چې نکاح ورته کوي زده کړي.

- ملا صاحب به هغه کس ته چې د ښځې (ناوي) وکیل دی ووايي: **دغه فلانۍ نامي، چې ستا یا د فلاني سړي لور ده، او په دې نامه بله لور نلري، په عوض د مهر مسمي' کې لپاره د فلاني، تا ورکړې وه! ورکوي يې!؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښـځي (ناوي) له خوا وكيل به ووايي: **هو ما لپاره د فلاني ورکړې وه، ورکوم يې.**

– بيا به ملا صـاحب هغه وكيل ته ووايي چې د سـړي (زوم) له خوا څخه تاکل شوی دی: **تا لپاره د فلاني قبوله کړې وه! قبلوې يې!؟**

د سړي (زوم) له خوا وكيل به ووايي: **هو ما لپاره د فلاني قبوله کړې وه، قبلوم يې.**

يعني د سـړي له خوا وكيل به خامخا داسـې وايي چې ما د فلاني لپاره يعني د خاوند (زوم) نوم به اخلي چې لپاره د هغه مې قبوله کړې، داسې به نه وايي؛ هو ما قبوله کړې، ځکه دغه وكيل د ځان لپاره په نکاح کړه، د خاوند لپاره نه شوه.

دغه جملې به ملا صـــاحب درې واره تکرار کړي او په دريم وار کې به دغه کلمات هم ورسره اضافه کړي او داسې به ووايي: **دغه فلانۍ چې د فلاني له پشـــته ده او د دوی تر منځ کوم شـــرعي مانع هم نشـــته لکه مصاهرة او رضاعت.**

**مصاهرة:** داسې خپلوي چې له نکاح څخه پيدا کيږي.

**رضاعت:** داسې خپلوي چې ماشوم ته له تي ورکولو څخه پيدا کيږي.

نو نکاح خلاصه شوه دُعا به وکړي.

د مثال په ډول:

د ښځې (ناوي) نوم ملاله ده، د پلار نوم يې ميوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سړي (زوم) نوم عبد الله د پلار نوم يې عبدالرحمن دی.

ملا صــاحب به هغه کس ته چې د ښــځي (ناوي) وکيل دی ووايي: **دغه ملاله چې د ميوند لور ده، او په دې نامه بله لور نلري، په عوض د مهر مسميٰ کې لپاره د عبدالله، تا ورکړې وه! ورکوې يې!؟**

د ښځي (ناوي) له خوا وکيل به ووايي: **هو ما لپاره د عبدالله ورکړې وه، ورکوم يې.**

– بيا به ملا صــاحب هغه وکيل ته ووايي چې د ســړي (زوم) له خوا څخه تاکل شــوی دی: **تا لپاره د عبدالله چې د عبدالرحمن زوی دی، قبوله کړې وه! قبلوې يې!؟**

د ســـړي (زوم) لـه خوا وکيـل بـه ووايي: **هو مـا لپـاره د عبـدالله چې د عبدالرحمن زوی دی قبوله کړې وه، قبلوم يې.**

–کله چې د نکاح تړل خلاص شــول نو يوه دعا به وکړي چې هره دعا وي ،او که يې دا لاندېنۍ دعا ياده وه نو دا دعا دې وکړي.

## له نكاح تړلو وروسته دعاء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ عَلَّمَنَا الْحَلَالَ وَ الْحَرَامَ وَالصَّلوٰةُ والسَّلَامُ عَليٰ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ ذِيْ الْمَجْدِ وَ الْكَمَالِ وَعَليٰ اٰلِهِ وَصَحْبِهِ خَيْرَ صَحْبٍ وَّ اٰلٍ. اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ هٰذَا الْعَقْدَ مُبَارَكًا وَّ مُثْمِرًا لِّثَمَرَاتِ شَرْعِيَّةِ النِّكَاحِ وَاجْعَلْهُ وِفَاقًا وَّ اُلْفَةً وَّ اُنْسًا بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ وَقِوَامًا وَّ مُعِيْنًا لِّمَصَالِحِ الدِّيْنِ وَالدُّنْيَا وَذَرِيْعَةً لِّلسُّرُوْرِ وَالْحُبِّ الدَّآئِمِ بَيْنَهُمَا وَبَيْنَ اَقْرِبَآءِ الطَّرَفَيْنِ عَليٰ مَا تُحِبُّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَتَرْضَيٰ وَانْشُرْ عَلَيْهِمَا مِنْ خَزَائِنِ رَحْمَتِكَ وَبَرَكَاتِكَ وَفُيُوضَاتِكَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ وَالْجُوْدِ وَالْكَرَمِ وَالْإِحْسَانِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَهُمَا مُعِيْنًا عَلَيٰ الدِّيْنِ وَمُهِيْنًا لِّلشَّيَاطِيْنِ وَحِصْنًا دُوْنَ عَدُوِّ اللهِ حَصِيْنًا وَّ سَبَبًا لِّلتَّكْثِيْرِ الَّذِيْ بِهِ مُبَاهَاتِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ عَلَيٰ سَآئِرِ النَّبِيِّيْنَ اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ الْغَمِّ وَمِنْ فِتْنَةِ الصَّدْرِ وَغَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ وَشَمَاتَةِ الْاَعْدَاءِ وَاغْفِرْ لَنَا وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَصَلَّي اللهُ تَعَالَيٰ عَلَيٰ مُحَمَّدٍ وَّ عَلَيٰ كُلِّ عَبْدٍ مُّصْطَفيٰ مِنْ كُلِّ الْعَالَمِيْنَ اِلَيٰ يَوْمِ الدِّيْنِ اِرْحَمْنَا بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ. قرآني دعاګاني

– بيا به د خپل رواج مطابق سـتنې او سـوغاتونه تقسـيم کړي، او مهر معجل (کومې پيسې چې فی الحال ورکوي) هغه به ورکړي.

– ايجاب او قبول د نکاح په تړلو کې اصـلي رکن دی، له هغوی پرته نکاح نه تړل کېږي.

– د ټوپك په ټکونو کولو، يا په کومه پېغله غږ (ژغ) کولو، همدارنګه په دعوه کولو ښځه د چا په نکاح کې نه راځي.

– شاهدان شرط دي د نکاح تړلو په وخت کې، يعني فرضًا که ښځه او سړی په خپل منځ کې سره جوړ وي او مهر معلوم کړي او له شاهدانو پرته نکاح وتړي نه صحيح کېږي، ځکه چې شاهدان نشته.

– او مهر هم ضروري دی ځکه نکاح بې مهره نه صحيح کېږي، که فرضًا د نکاح تړلو په وخت کې معلوم او ټاکلی نه وي، وروسـته به يې ورته معلوموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که اختلاف پیدا سي چې ښځه یا د ښځې خپلوان زیات مهر غواړي، او سړی یا د سړي خپلوان کم مهر ورکوي، بیا به د هغو ښځو د مهر په اندازه مهر ورته معلوموي چې له دې ښځي سره په قومي لحاظ، ځواني، کمال، او دیانت کې برابرې وي، یعني همځولې یې هم وي.

## په نکاح کې کفو (برابري) او ولي (واکدار)

**کفو**: د قوم او نسب په لحاظ مثل او برابر ته وایي.

**ولي**: هغه چاته وایي چې حکم یې پر بل چا چلېږي. یعني واکدار.

– زموږ په مذهب د عاقلې او بالغې ښځې نکاح چې دا یې پخپله خوښه وکړي تړل کېږي، یعني نکاح یې کېږي صحیح ده.

که دغه ښځه پېغله وي که کونډه د دواړو صحیح کېږي.

په دې شـرط چې نکاح به یې له کفو (مثل) سـره کړې وي. خو که نکاح یې له غیر کفو سره کړې وه یعني هغه سړی د قوم او نسب په لحاظ د ښـځې له خپلوانو ټیټ وي بیا د ښـځې واکدارانو ته دا اعتراض او مخالفت حق سته. تسهیل الهدایه

او دوی کولی شـي چې نکاح فسـخ کړي له منځه یې یوسـي، ځکه له بد نسبه سړي سره واده کول د شرم او پېغور خبره ده.

– نا بالغ هلك یا نجلۍ چې هغه بې له اجازې او خبر تیا له چا سـره واده نشي کولی.

– که دغه نابالغ پلار یا نیکه په نکاح ورکړي نو دغه نکاح د بلوغ په وخت کې هم په خپل ځای پاته ده، ځکه پلار او نیکه ډېر مشـفق او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهربانه دي، د دوی د زيات شفقت په اساس دوی ورته خوښ کړي دي، دوی ترې ښه ځای نسي پيدا کولی.

او که له پلار او نيکه پرته بل خپلوان له بلوغ نه مخکې په نکاح ورکړي و، بيا چې کله دغه هلك يا نجلۍ بالغ شي او دغه سړی يا ښځه يې خوښ نه وي، نو دوی نکاح رد کولی سي.

## جبري نکاح

بالغه ښځه که پېغله وي يا کونډه هيڅوك يې هم په جبر سره په نکاح نه سي ورکولی او نکاح يې تر ولي پورې نه ده تړلې د دې لپاره دا سته که له هر چا سره يې خوښه سي نکاح کولی سي په دې شرط چې مقابل لوری به (کفو) سيال وي، او که بې له کفو يې نکاح کړې وه يعنې داسې چا سره يې نکاح کړې وه چې د دې سيال نه و بيا ولي د اعتراض او نکاح له منځه وړلو حق لري. او که له اجازې پرته يوه ښځه ولي په نکاح ورکړه نو دا نکاح يې د ښځې تر خوښې او رضا پورې تړلې ده که يې خوښه شوه نکاح يې کېږي او کنه نو نه کېږي، ځکه د سړي لپاره دا سنت وه چې اجازه يې غوښتې وای خو ده د سنت خلاف کار وکړ نو نکاح هم ونسوه او موقوفه سوه. الفقه علي المذاهب الأربعة.

زموږ په مذهب کې هيڅوك په زور او جبر سره ښځه نه شي ودولی، او نه هم مېړه ته په زور او جبر سره نکاح او کوزده کولی سي. ځکه پخپله د سړي او ښځې خوښه (رضايت) په دې کار کې شرط دی، نو دغه رواجونه له اسلام څخه ډېر لرې دي چې ښځه په بدو کې ورکوي يا کومه کونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په کوم قوم کې وي دا وايي چې دغه کونډه زموږ د قوم حق ده که هر چاته مو کوله.

یا یو سړی نارینه اولاد نه لري ښځه او لوراني يې پاته شي هغه په خپل منځ کې سره تقسیم کړي په داسې حال کې چې الله ﷻ فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا... «سُوْرَةُ النِّسَاء : ۱۹»

اې مؤمنانو! ستاسي لپاره دا روا نه ده چې د زور له لارې ځان د ښځو وارثان کړئ...

بلکې الله ﷻ هغوی ته د خپل حق ورکولو امر کړی دی.

په داسې حال کې چې دوی ځانته مسلمانان هم وايي پر هغه برسېره دا کار خو کوي چې کوي يې بلکې رواه يې هم بولي، الله ﷻ دې موږ له داسې کمزوري مسلمانۍ څخه وساتي چې په هغه کې د الله ﷻ له امر نه سرغړونه وي.

– د نکاح د ختمېدو په وخت کې شېريني برابرول لکه شربت او داسې نور مستحب دي.

## له مېرمنې سره د یو ځای کېدو مسنونه دُعا

له ابن عباس (رض) څخه روايت دی وايي: رسـول الله ﷺ وفرمايل: کله چې ستاسو کوم یو دا اراده وکړي چې له خپلې مېرمنې سره یو ځای سي، او دا دُعا وکړي: اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان ده که چېرته دوی ته په دې یو ځای کېدلو اولاد مقرر سوی وي، نو شیطان به هیڅکه هم هغه ته ضرر ونه رسوي.

نو دا دُعا کول پکار دي کله چې دوی د یوځای والي اراده کوي. "بخاري او مسلم"

دا بیان د پکتیا ولایت زرمت ولسوالي د احیاء العلوم د مدرسې د احادیثو استاد او مهتمم خلیفه صاحب عبدالرحیم "اخندزاده" (مد ظله العالي) له لیکنې څخه راخیستل سوی دی سره له زیادت او ترتیب.

## د دوستي کولو لپاره د نجلۍ کتل:

علماء کرامو دا ویلي: کله چې څوك د کومې نجلۍ د غوښتلو اراده لري او دا نیت یې وي چې واده ورســـره وکړي، نو هغې ته کتل یعني د هغې مخ او لاسونو ته کتل روا او مستحب دي.

او دا کتل مستحب دي ځکه دا د نکاح سبب ګرځي او نکاح سنت مؤکد ده.

او د نکاح مقصد دا دی چې څوك له بېلاري څخه پرې وساتل سي، او دا هغه وخت لا ښه تر لاسه کېږي چې د مېړه او مېرمنې تر منځ ښه اړیکه او محبت وي، او همدغه اړیکه او محبت هغه وخت شـــوني دي چې دوی پخپله خوښه نکاح سره وکړي، او دوی هغه وخت پخپله خوښه نکاح سره کولی سي چې یو بل سره وویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که نکاح هم وکړي، خو چې تر منځ يې مينه او ښه اړيکه نه وي او اړيکې يې خرابې وي، د نکاح مقصد نه تر لاسه کېږي بلکې هر يو به بيا خپلې غوښتنې په نارواه لارو تر لاسه کوي.

خو که مطلب يې په ليدلو کې يوازي ښايست و، بيا دې نه ورسره ګوري، ځکه چې دا ښه کار ندی.

– که په ليدلو او کتلو يې خوښه شوه نو ودې کړي، کنه نو پرې دې ږدي. مرقاة المفاتيح

– او که چېرته يې د ليدلو امکان نه و، نو بيا به يوه مېرمنه ور ولېږي او هغه به يې ويني او بيا به دې هلك ته بيان وکړي. مرقاة المفاتيح

**په دې اړه لاندې احاديث راغلي دي**: له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الْأَنْصَارِ: قَالَ: «فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي أَعْيُنِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ.)

وايي: يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او وېې ويل؛ ما اراده کړې چې له يوې انصاري مېرمنې سره نکاح وکړم.

رسول الله ﷺ ورته وويل: نو ته هغې ته وګوره بېشکه د انصارو په سترګو کې يو څه وي.

همدارنګه له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی وای رسول الله ﷺ وفرمايل: «إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني: کله چې په تاسو کې څوك د کومې ښځې د غوښتلو اراده لري، نو که دا يې په وس پوره وي چې د هغې هغو اندامونو ته وګوري چې د هغو په ليدلو يې په نکاح کې رغبت پيدا کېږي نو دا کار دې وکړي.

بل روايت له مغيره ابن شعبة رضي الله عنه څخه دی وايي: «خَطَبْتُ امْرَأَةً فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا؟ قُلْتُ: لَا، قَالَ: فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا». (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ)

يعني ما له يوې ښځي سره د نکاح کولو غوښتنه کړې وه، نو رسول الله ﷺ راته وويل: آيا تا هغې ته نظر کړی دی (ورته کتلي دې دي)؟ ما ورته وويل نا، بيا رسول الله ﷺ راته وويل: نو ته يو وار هغې ته وګوره دا کتل هغې ته ډېر نږدې دي چې ستاسو تر منځه جوړه (مينه او محبت) پيدا کړي. مرقاة المفاتيح

## کله چې څوك ستاسو د خور يا لور په غوښتلو د دوستي لاس در اوږد کړي

له ابي هريره (رض) نه روايت دی وايي چې رسول الله (ﷺ) وفرمايل: إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِنْ لَا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني كله چې تاسو ته څوك د دوستۍ لاس در اوږد كړي خور يالور مو وغواړي هغه څوك چې تاسو يې د ينداري او اخلاق خوښوئ نو په نكاح يې وركړئ، كه چېرته تاسو دا كار ونكړئ نو دا به په ځمكه كې فتنه او پراخ فساد وي. مرقاة المفاتيح

ياني له كبله به يې هر څوك ناسمو او ناروا لارو چارو ته لاس واچوي.

لكه څرنګه چې موږ او تاسو همدغه فتنې او فسادونه وينو او د دې پېښو شاهدان يو، نو څوك دې د دې لپاره له دوستي څخه نه تېرېږي چې يا پيسې ډېري غواړي يا يې رواجونه نه پوره كېږي، بلكې خلكو ته دې وګوري كه ديندراه او نېك خلك ول، د نجلۍ هم خوښ ول، نجلۍ هم د هلك خوښه وه نور خامخا دې دوستي ورسره وكړي.

داسې دې نه كوي چې بهانې جوړي كړي او په دې غوښتونكو باندې تورونه وتړي، او بيا بل وخت خپله لور او خور په كوم نا اهله واړوي.

او كه د پيسو غوښتنه يې وه يا يې، د كوم بل ضد او اختلاف په وجه ور نكړه، نو بيا به د نجلۍ ژوند هم خراب وي د هلك هم، او دا امكان هم لري چې دوى دې سره وتښتي چې له امله يې ډېرې ناخواله او بدې پېښې، قتلونه، بدياني او خپګانونه را منځته كېږي.

او بيا د شريعت خلاف جرګې او جلسې كوي له دين نه ناخبره خلك په كې راټول وي او د مسلمانانو حقوق له پښو لاندې كوي. فضل الرحمن (عادل)

همدارنګه له ابن عباس (رض) نه روايت دى وايي: رسول الله (ﷺ) وويل:

«لَمْ نُرَ لِلْمُتَحَابَّيْنِ مِثْلُ النِّكَاحِ» رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْحَاكِمُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوو محبت کونکو (مينه کونکو) لپاره د نکاح په ډول کوم بل څه نه ليدل کيږي.

يعني دوی دي نکاح سره وکړي تر څو يې باطني اړيکه هم سره ټينګه شي او مينه به يې هم تر منځ سره ډېره شي، کينه او دښمني به له منځه لاړه شي او ختمه به شي!.

راځئ هڅه وکړی په شريعت عمل وکړئ د رسول الله ﷺ سنتونه عملي کړئ، نور خلك هم له ځان سره ملګري کړئ او د الله ﷻ خوښي او رضا تر لاسه کړئ.

# ميرمنې په ميراث کې بشپړ حق لري او مهر د ميرمنو خاص حق دی او خامخا به ورکول کيږي

الله ﷻ په قرآنکريم د سورة النساء ۲۴ ايت کې د مهر په اړه فرمايلي:

((وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَٰلِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ فَمَا ٱسْتَمْتَعْتُم بِهِۦ مِنْهُنَّ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَٰضَيْتُم بِهِۦ مِنۢ بَعْدِ ٱلْفَرِيضَةِ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له دې پرته چې نوري څومره ښځې دي، تاسې ته د خپلو مالونو په وسیله د هغو په لاس راوړل روا کړای شویدي، په دې شرط چې د نکاح په چوکاټ کښې يې راولئ؛ نه دا چې په ازادي شهوت رانۍ لاس پوري کړئ. نو بیا کله چې له هغو څخه د ازدواجي ژوندانه خوند واخلئ، د هغه په بدل کې ورته په فرضي ډول مَهر ورکړئ، البته د مَهر له قرارداد څخه وروسته که د دواړو خواو په خوښه، ستاسې په منځ کې څه کمول یا زیاتول راشي، نو څه باک يې نشته. الله پوه او د حکمت څښتن دی.

د همدې سورت په ۴ ایت کې فرمایي: ((وَءَاتُوا النِّسَآءَ صَدُقَٰتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَىْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا))

او د ښځو مَهر په ښه زړه (فرض ګڼلی) ورکړئ، البته که هغوی يې په خپله خوښه یو څه تاسې ته بخشش کړي؛ نو تاسې هغه په خوند سره خوړلای شئ، چې حلال او بې ضرره دی.

همدارنګه بل ځای د سُوْرَةُ الأحزَاب ۵۰ ایت کې فرمایي((قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِيٓ أَزْوَٰجِهِمْ)).

ژباړه: موږ ته معلومه ده چې پر عامو مؤمنانو د هغو د مېرمنو او مینزو په باب مو کوم کوم حدود وضع کړي دي.

نو له دې څخه معلومه شوه چې مهر په سړي لازم او مېرمنې ته ورکول کېږي یا مستقیم او یا د ولي او وکیل له لارې، د مهر اندازه شرعًا مقرره ده چې کمه اندازه يې لس درهمه ګڼل شوې ده، نور که دوی پر هر څو سره جوړېږي هغه د دوی خپل کار دی او دوی ته اجازه ده، همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مېرمنه يو څه مهر خپل خاوند ته وروبښـــي، مېړه يې په خوند ســـره خوړلای شي او بلکل حلال او بې ضرره دی.

## ولور

– نن سبا چې د ولور په نوم کومې پيسې اخيستل کېږي، د دې لپاره په شريعت کې هيڅ ثبوت نشـته، او هيڅوك يې د اخيسـتلو حق نلري. لکه څرنګه چې يو څه وخت مخکې د حج اوقـافو وزارت هم دا اعلان خپور کړ چې په اسلام کې ولور نشته.

خو دوی په دې سره د زوم ژوند ور تباه کړي هغه ټول عمر په پيسـو ګټلو تېر کړي چې د خپل کور اړتياوي او ولور پوره کړي، پرته له دې چې هغه خپل ژوند ښه جوړ کړي عمر يې په همدې ضايع شي.

دوی بيا پر دې باندې د مهر نوم ږدي او د ښـځې پلار يا ورور يې پخپل جېب کې واچوي، لکه کوم حيوان چې يې پلورلی وي، او د دوی لپـاره يې خوړل هيڅ جواز نلري.

## د ميراث حق

– همدارنګه ميراث هم دی، زموږ خلك خپلو خوندو او خورلڼو ته خپل د ميراث حق نه ورکوي، په داسې حال کې چې دا حق الله ﷻ د دوی لپاره مقرر کړی او ټاکلی دی، الله ﷻ د ســورة النســاء په ۷ ايت کې فرمايلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَٰلِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَٰلِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا))

د نارينه ؤ لپاره په هغه متروکه (ميراث) کښــي برخه ده چي مور پلار او خپلوانو پريښــې وي، او د ښـځو لپاره هم په هغه متروکه (ميراث) کښـي برخه ده چي مور پلار او خپلوانو پريښــې وي، که لږ وي او که ډېره، او دا برخه (د الله له لوري ) ټاکله شوېده .

په يولسم ايت کې يې فرمايلي(( لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ))، د نارينه برخه د دوو ښځو په اندازه ده.

او د همدې ايت په پای کې يې فرمايلي: فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا، دا برخي الله ټاکلي دي، او په يقيني توګه الله ښــه عالم او د حکمت څښتن دی.

يعني دا د ميراث برخې الله ﷻ په خپله د نارينه او ښځينه وو لپاره ټاکلې دي.

الله ﷻ په ميراث کې د ښځو او سړيو د برخو په اړه د سورة النساء په ۱۳ او ۱۴ آيت کې فرمايلي: ((تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ))

دا د الله ټاکل شوي پولي دي، څوک چي د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت وکړي، نو الله به هغه داســي باغونو (جنتونو) ته ننباســي چي تر هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاټدي به ويالې بهيږي او هغوی به په کښــي د تل لپاره اســتوګن وي او همدا ستر برياليتوب دی؛

((وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَٰلِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ))

او څوک چي د الله او د هغه له پېغمبر څخه سـرکښــي وکړي او د هغه له ټاکل شـوېو پولو څخـه تيری وکړي، الله بـه هغـه پـه اور کښــي وغورځوي،چي د تل لپاره به په کښي استوګن وي او د هغه لپاره رسوا کوونکې سزا ده.

د ســورة النســاء په ۹ ايت کې الله ﷻ فرمايلي:((وَلْيَخْشَ الَّذِينَ لَوْ تَرَكُوا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا خَافُوا عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُوا اللَّهَ وَلْيَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا))

خلکو ته، ددې خبري په نظر کښــي نيولو ســره وېره کول په کار دي، چي که هغوی په خپله له ځانه وروســته بېوزلي اولادونه پرېږدي؛ نو د مرګ په وخت کښي به د خپلو اولادونو لپاره څنګه ځورېدلي وي؛ نو بايد چي هغوی له خدايهووېرېږئ او رښتيا وينا وکړي.

مفســرينو دا خبره کړې ده چي دا آيت د هغـه چا پـه اړه دی چې مړه کېدونکي کس ته د ځنکدن په وخت کې وايي: چې ټول مال دې د الله ﷻ په لاره کې خيرات کړه، الله ﷻ بـه دې اولادونو تـه رزق ور کړي، يعني د هغوی په کيسه کې مه کېږه، هسې دې خپل مال صدقه کړه، او الله ﷻ له دې کار څخه منعه فرمايلې ده او دا يې ويلي چې د نورو په وارثانو او اولادونو هم وورېږئ، د هغوی مالونه مه ضـايع کوئ، لکه څرنګه چې په خپلو وارثانو او اولادونو وېرېږئ.....تفسير قرطبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو متأسفانه چې زموږ په ټولنه کې اوس مهال له دې امر څخه سرغړونه کېږي او څوك غوږ هم نه پرې ګروي. دې خلکو ته چې دا خبره یاده کړل سي، دوی بیا د جاهلیت د زمانې د خلکو خبرې پیل کړي وایي: دا کار خو زموږ پلرونو او جدونو نه دی کړی، هغوی حق نه دی ورکړی نو موږ یې ولې ورکړو، لکه څرنګه چې الله ﷻ د قرآنکریم په ســورة لقمان ۲۱ ایت کې فرمـایلي: وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَآ أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَٰنُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ.

او کله چې هغو ته ویل کیږي چې د هغه شــي پیروي وکړئ چې الله نازل کړی دی، نو وایي چې موږ د هغـه شــي پیروي کوو چې پر هغه باندې زموږ پلرونو، نیکونو عمل کړی دی. آیا دوی د هماغو پیروي کوي، که یې شیطان د لمبه وهونکي اور خوا ته بولي، هم؟

زموږ خلك بلکل همداسې خبره کوي وایي دا خو داسې کار دی چې خلك یې پېغور ګڼي او خلك دغـه او هغـه خبري کوي،دا هم وایي چې کـه مو خپلو خوندو ته د هغوی حق ورکړو نو بیا خو یې نه پالو یا داچې د پاللو حق نلري،ځکـه چې حق مو یې ورکړی دی.دوی د خپلو خورلڼو حق خوړلو ته بېلابېل دلایل جوړي......

دوی دا فکر ولې نـه کوي چې دا برخې خو الله جل جلالـه د دوی لپـاره مقررې کړې دي ، او د غوښـــتلو حق هم الله جل جلاله ورکړی دی، آیا دوی د الله جل جلالـه په فیصـــلـه عمل کول پېغور ګڼي! ولا دا خو ډېر سپین سترګی جهالت دی ......!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا دوی دا فکر کوي چې ور یې نه کړو نو د دوی لپاره به رواه شـي ، هیڅکله هم امکان نلري،تر څو یې خورلنو په خپله خوښـه له زړه نه نه وي وربښلی.

دا حرام خواره ژر پښتـانه او پښتـو رامخ ته کړي ،خو دوی دې پوه شـي چې پښتـانه حرام خواره نه دي او نه وو ،بلکې دا د شـیطان وسـوسـه ده چې په ناپاکه ذهنونو کې یې اچولې ده. او د دې ناپاکو ذهنونو لپاره د جهنم اور انتظار باسي.

لنډه دا چې مهر د مېرمني ځـانګړی حق دی هیڅوك یې نسـي ترې اخیسـتلای، همدارنګه په میراث کې هم حق لري چې ورکول یې پـه وارثانو فرض دي، خو که څوك یې نه ورکوي هغوی ته یې خوړول په هیڅ ډول ندي رواه، بلکې دوی ځانته جهنم تیاروي، لکه څرنګه چې الله ﷻ د سـورة النسـاء په لسـم ایت کې فرمایي: إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا ۖ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا

کوم خلک چې په ظلم سـره د یتیمانو مالونه خوري، په حقیقت کښـي هغوی خپلي ګیډې له اوره ډکوي، او هغوی به هرو مرو د دوږخ تاوجن اور ته ورننوځي.

بل ځای په سورة بقره ۱۸۸ ایت کې فرمایي: وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ.
او تاسي په خپلو منځو کښي یو د بل مال په ناروا توګه مه خورئ.
په دې باندې یوه واقعه را یاده شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه خلک چې په چل د نورو حق خوري

موږ د وړې دورې په دوران کې و، يوه ورځ د مشکات شريف په درس لګيا وو.

يوه طالب له استاد (خليفه صاحب) څخه پوښتنه وکړه چې آيا په هغو حقوقو (ځمکو مالونو او جايدادونو) کې چې موږ ته له پلار او نيکه څخه را پاته دي زموږ د خوندو او خورلڼو حق شته که نه؟

خليفه صاحب په ځواب کې ورته وويل؛ هو خامخا شته او ورکول يې هم لازمي دي....

دې طالب بيا ورڅخه پوښتنه وکړه چې څه حيله (چل) نه ورته جوړېږي؟ يعني چې دا حق ترې ووهو؟

خليفه صاحب ډېر ښه ځواب ورکړ، ورته ويې ويل: ولې نه جوړېږي: بيا يې ورته وويل واى يو ملاصاحب و، ده چې کله خپله لور ورکړه نو ولور يې په خپل جيب کې واچاو، کله چې يې د ملا صاحب لور (ناوې) وايستله او پر اس يې کېنوله نو ملا صاحب په زحمت سره پيسې له جيبه را وايستلې او خپلې لورته يې په دې تمه (طمع) ورکړې چې را وبه يې ښني.

خو هغې پيسې ور واخيستلى او جيب ته يې کړې، نو ملاصاحب هم بله لاره نه ليدله او له جيب نه يې بياتي را ويستله او د خپلې لور هغه جيب چې پيسې يې پکې اچولې وې ترې پرې کړ، او لور يې رخصت کړه!!!.

مطلب دا چې خليفه صاحب دا ورته وويل چې غلا ترې کولى سي خو بله لاره چل او حيله نه ورته جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا چې کله درس خلاص شـــو نو خلیفه صـــاحب دا یادونه وکړه ویې ویل: افسوس د عوامو په حالت چې علماء په دې مرض اخته دي چې پردیو حقونو ته چلونه جوړوي نو له عوامو خو هیڅ ګیله نشـــته، ځکه چې هغوی خو له دین عذاب او سزاګانو هم نه دي خبر نو هغوی خو به خود دا کارونه کوي.

نو له دې کارونو ځان ســـاتل پکار دي، له خپلو خپلوانو څخه په چل ول حق خوړل ندي پکار، علماء باید په ټولنه کې شـــریعت نافذ کړي، خلك له ناســـمو دودونو او راوجونو را وګرځوي، که داسـې ونکړي نو هیڅکله به بریالیتوب تر لاسـه نه کړي، او په آخرت به سـخته سزاګانې وګوري، راځئ د الله ﷻ امرونو او حکمونو ته غاړه کیږدو د دنیا او آخرت له بربادۍ ځانونه وژغورو.

## فطرتي خصلتونه

**فطرت**: په لغت کې پیدا ایښت،دین، کړنلارې، خوی او خاصیت ته وایي.

**او په اصـطلاح کې**: هر هغه صـفت ته وایي چې د پیدا ایښـت په پیل کې یې هر موجود درلودونکی دی. معجم العرب

وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ، وَقَصُّ الْأَظْفَارِ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ، وَنَتْفُ الْإِبِطِ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ، وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ» يَعْنِي الِاسْتِنْجَاءَ قَالَ الرَّاوِي: وَنَسِيتُ الْعَاشِرَ إِلَّا أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

له حضــرت عائشــې رضــي الله عنها څخه روایت دی وایي رســول الله "ﷺ" ویلي: لس خویونه، او ځانګړتیـاوې لـه فطرت څخه دي: د بریتونو کمول، د ږیرې پرېښـــودل، مســـواك وهل، په پوزه کې اوبه اچول، د نوکانو کمول، د بندونو پرېمنځل، د تخرګونو وېښتان کیښل، د نامه لاندې وېښتان خرېیل او استنجاء کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني لس خویونه او خصلتونه د انبیاوو علیهم السلام له سنتو څخه دي، او موږ ته امر شوی دی تر څو په هغوی پسې اقتدا (پیروي) وکړو، په داسې شان لکه موږ چې له اول نه په دې خویونو پیدا شوي یو. مرقاة المفاتیح

## اول: د بریتونو کمول:

اول کس چې بریتونه یې کم کړي هغه ابراهیم علیه السلام دی. تفسیر القرطبي
ابن حجر(رح) ویلي: چې د بریتونو کمول دومره اندازه سنت ده تر څو د پورتنۍ شونډې سوروالی ښکاره سي. مرقات امفاتیح
**مسئله:** د بریتو کوچني کول د شونډو تر سرو پورې (یعني چې د شونډو سرونه معلومیږي، د شونډو سرونه باید په وېښتانو کې پټ نه وي) دا سنت دي، او د خریېلو په اړه یې اختلاف دی، ځیني فقهاء د بریتو خریېلو ته بدعت وایي او ځیني بیا د بریتو خریېلو ته اجازه ورکړې ده، له دې کبله نه خریېل یې ښه دي.
**مسئله:** د بریتو که چیري دواړه خواوي غټې وي، پروا نه لري، په دې شرط چې هغه دې د شونډو پر سر باید غټ نه وي. په اسلام کې د ږیري حکم
– د بریتونو کمول سنت دي او مستحب دا ده چې په ښي لوري پیل وکړي.

## دوهم: د ږیرې پرېښودل:

توریشتي(رح) ویلي: یاني د ږیرې ډېرول په خلاف د کمولو، او د ږیرې کمول د ناعربو (عجمو) کړنه ده او نن ورځ د ډېری مشرکینو لکه فرنګیانو او هندوانو او قلندریه طائفې هغو خلکو چې په دین کې هیڅ ونډه نه لري شعار دی. مرقاة المفاتیح
او ابن الملک (رح) ویلي: د ږیرې اړخونه له اوږدوالي او پلنوالي څخه د برابرولو لپاره اخیستل ښه دي، خو غوره داده چې هیڅ یې وانخلي، خو که چیرته د ښځې ږیره را شنه شوه بیا یې خریېل مستحب دي، او غوره دا ده چې ویې خریېي. مرقاة المفاتح
**مسئله:** د ږیرې خریېل یا کوچني کول حرام دي، که چیري تر یوه موټې زیاته وي، کوچني کول یې پروا نلري، دا ډول د څلورو طرفو څخه په داسې اندازه کوچني کول چې برابر او میانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مسئله:** کوم وېښتان چې پر باړخو راشنه کېږي که چېري پاك سي پروا نلري، دا ډول که چېري وريځي تر اندازې ډېرې غټې سي، کولای سي چې لږ يې کوچني کړي.
**مسئله:** د ږيرې خرېيل يا کوچني کول، چې تر يوه موټي کوچني وي، دا ډول د برېتو غټول، څه ډول چې نن ورځ د ځوانانو په منځ کې رواج لري، چې دوی يو ډول ښايست ځني حاصل وي، دا حرام دی. په اسلام کې د ږيرې حکم په حواله د اصلاح الرسوم
**يادونه:** هغه ږيره چې تر يوه موټي زياته وي او کوچني يې کړي او داسې نور وېښتان او نوکان کوچني کړي ښه خبره دا ده چې يو ځای يې خښ کړي، که چېري د ښخېدلو امکان نه وي، نو په يوه سم ځای کې يې اچول هم جائز دي، خو په مرداری يا مردار ځای کې بايد ونه غورځول سي، ځکه چې د دې څخه د مرضونو د پيدا کېدو وېره ده.
فتاوي عالمگيري فتاوی شامي

## دريم: مسواك وهل:

اول کس چې مسواك يې وهلی دی هغه ابراهيم عليه السلام دی. تفسير قرطبي
له ام المومنين بی بی عائشه رضی الله عنها څخه رايت دی: چی رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :اَلسِّوَاكُ مُطَهِّرَةٌ لِلْفَمِ وَمَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ. (نسائي) بخاری او .....
مسواك وهل د خولې د پاکۍ سبب دی او د الله جل جلاله د رضاء سبب گرځي.
– مسواك وهل په اتفاق سره سنت دي.
– ځينو ويلي چې په جومات کې که چېرته د ناړو يا داسې بل څه په توېدلو وېره وه بيا يې وهل سنت نه دي.
– علماؤ دا ويلي: مناسبه دا ده چې مسواك له ترخو ونو (بوټو) څخه وي، د خچې گوتې په اندازه ډبلوالی او يوه لوېشت اوږدوالی ولري.
– او مسواك بايد په غاښونو په پلنوالي سره ووهل سي، يوه او بل څنگ ته، نه لاندې او پورته.
– که له چا سره مسواك نه وي يا يې غاښونه نه وي بيا دې، د مسواك پر ځای د شهادت گوته يا بټه کوته په خوله کې ووهي. او داود(رح) ويلي: چې مسواك وهل واجب دي، او اسحاق(رح) دا هم ورسره زيات کړي، که چېرته يې قصداً پرېښود ، نو لمونځ يې باطل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په هر حال زموږ په مذهب کې د مسواك وهل سنت دي، که چېرته مسواك نه وي بیا د شهادت کوته په غاښونو وهل کېږي. مرقاة المفاتیح

## څلورم: استنشاق (د پوزې مینځل).

## پنځم: مضمضه (د خولې مینځل).

دا دواړه په اوداسه کې سنت دي، او زمونږ په نزد په غسل کې فرض دي.
او د امام شافعي (رح) په نزد سنت دي، امام احمد او امام مالك په یو روایت کې ویلي: چې دواړه واجب دي.
- په مضمضه کې د روای شك دی چې له دې خصلتونو څخه دی که نه.
ابن حجر (رح) ویلي: چې د روایې مقصـــد دا دی؛ ما هېر کړی نه مې یادېږي چې لس دې پوره کړي خو زه ګومان کوم کېدای سي چې مضمضه (د خولې مینځل) دې وي. دا د طیبي د خبرې وضاحت دی.
ابن المَلِك (رح) ویلي: دا مضمضه به ځکه وي ځکه چې دوی دواړه یو ځای سره یادول کېږي. مرقاة المفاتیح
- که څه هم په حدیث کې لســم خصــلت یاد شــوی دی، خو ما د یوځی والي لپاره له استنشاق وروسته په پنځم ځای کې راوړ.

## شپږم د نوکانو کمول: یعني پرېکول یې.

اول کس چې نوکان یې اخیستي (کم کړي) هغه ابراهیم علیه السلام دی. تفسیر قرطبي
که نوکان هر ډول کم کړل سي سنتیت یې حاصلېږي، او غوره دا ده چې اول د ښي لاس د شــهادت په ګوته پیل وکړي بیا منځنۍ ګوته بیا له هغې ورســـته ګوته بیا خچه (خچنۍ) ګوته بیا په آخر کې بټه (غټه) ګوته، بیابه د چپ لاس اول خچنۍ ګوته بیا له هغې وروســته ګوته بیا منځنۍ ګوته بیا د شــهادت ګوته او په پای کې د چپ لاس بټه ګوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



– او په پښو کې به د ښۍ پښې له خچنۍ ګوتې څخه پیل وکړي او د چپې پښې په خچنۍ ګوته به یې پایته ورسوي.
دا د نوکانو کمولو طریقه ده، که په دې طریقه کم نه کړل سي بیا هم سنت تر سره کېږي.
– د نوکانو پرېکول سنت دي او د شهادت په ګوته پیل کول کوم ترتیب چې بیان شو مستحب دي. رسول الله ﷺ فرمایلي: نوکان مو کم کړئ او کوم نوکان چې مو کټ کړل هغه خښ کړئ....... تفسیر القرطبي

## اوم: د بندونو مینځل:

یعني هغه غوټې چې د ګوتو د بندونو پر شا باندې وي او هغه چې په منځ (ورغوي) لوري ته وي. ښکاره دې وي چې مقصد د ټولو بندونو او غوټو مینځل دي.
په دې پورې هغه ټول ځایونه تړلي چې خیري پکې راټولېږي لکه د غوږونو ګرد ځایونه او پردې یې او هغه چې د پوزې په داخل کې راټولېږي، همدارنګه د بدن ټول خیري.
– د بندونو مینځل سنت دي او دا تر اوداسه پور هم نه دي خاص.

## اتم: د تخرګونو وېښتان کیښل (ایستل):

له دېنه دا معلومېږي چې خرېیل یې سنت نه دي، او دا هم ویل سوي چې ایستل یې د هغه چا لپارت غوره دي، چې د ایستلو توان یې لري.
– د تخرګ لاندې وېښتان کیښل مستحب دي او په خرېیلو هم حاصلېږي.

## نهم: د نامه لاندې وېښتان خرېیل:

اول کس چې د نامه لاندې وېښتان یې صفا کړل هغه ابراهیم علیه السلام دی. تفسیر قرطبي
ابن المَلِک (رح) ویلي: که وېښتان یې له خرېیلو پرته لرې کړل، نو دا سنت طریقه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دې کې دا هم دي چې لرې كول يې كله كله په چينه هم كېږي، او دا هم ثابت دي چې رسول الله ﷺ چينه كارولې ده، هو خو كه په بياتي يا بل داسې څه يې كم كړل نو دا په بشپړه توګه په سنتو عمل نه دی، والله أعلم.

د نامه لاندې وېښتان، تخرګونو وېښتان او برېتونو او نوكانو كمول دې له څلوېښتو ورځو ډېر نه پرېښودل كېږي. د مسلم د حديث له وجې چې انس (رض) روايت كړی دی:

«وُقِّتَ لَنَا فِي قَصِّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيمِ الأَظْفَارِ وَنَتْفِ الإِبِطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ أَنْ لاَ نَتْرُكَ أَكْثَرَ مِنْ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً».

موږ ته د برېتونو په كمولو نوكانو پرېكولو او د تخركونو د وېښتانو ايستلو او نامه لاندې وېښتان كمولو كې دومره وخت راكړل سوی چې له څلوېښتو شپو زيات پاته نه سي. ابن حجر (رح) ويلي: چې د نامه لاندې وېښتان خرېيل، كه څه هم د ښځې لپاره وي، ځكه د حديث اطلاق همدا غوښتنه كوي (چې د ښځي او سړي دواړو لپاره سنت دي) او په بل حديث كې خو ښكاره دي چې ويل سوي؛ « وَتَسْتَحِدَّ الْمَغِيبَةُ» يعني چې هغه ښځې د نامه لاندې وېښتان صفا كړي چې خاوندان يې مسافر شوي و. د حديث مطلب داسې دی.

جابر (رض) فرمايي: كله چې موږ له غزوې څخه راغلو، مدينې ته نږدې و، هر كله چې ښه رانږدې شوو، نو موږ كورونو ته د تللو لپاره ځانونه تيارول، چې رسول الله ﷺ وويل: تاسو د كور خلكو ته وخت وركړئ تر هغو چې موږ د شپې كورونو ته داخل سو د دې لپاره چې هغوی خپل ګډوډ وېښتان ږمنځ كړي، او هغه مېرمنې چې مېړونه يې مسافر شوي وو، د نامه لاندې وېښتان صفا كړي.

نو دا كار سنت دی تر هغو بايد مسافر كورته داخل نسي تر څو چې يې خبر نه وي وركړی.

– خو ډېری محدثينو خرېيل د سړيو پوري تړلي دي، او دا يې ويلي چې د ښځو لپاره د هغو وېښتانو ايستل غوره دي، ځكه په دې ايستلو سره ښه پاكي هم راځي، او د مېړه نفرت هم لرې كوي كوم نفرت چې د خرېيلو له وجې پيدا كېږي هغه دا چې د خرېيلو په وخت كې ځيني ځيني ځايونه پاتې كېږي.

## لسم: استنجاء كول:

اول كس چې استنجاء يې وهلې ده هغه ابراهيم عليه السلام دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استنجاء مانا ده د غائطه مواد د ځای پاکول د انسان له خېټي څخه چې کوم شی خارجېږي پدې شرط چې صورت او جسم ولري نو د دې ځای پاکولو ته استنجاء ویل کېږي. **استنجاء په دوه ډوله ده:** ۱_ په لوټو سره، ۲_ په اوبو سره.

**لومړی:- استنجاء په لوټو سره** او په هغو شیانو چې د لوټو وظیفه اجراء کوي په طاق عدد سره سنت او درې ځلې مستحب ده. خو اول په لوټو او بیا په اوبو استنجاء کول ډېر غوره دي. دویم:- استنجاء په اوبو سره او دا په څلور ډوله ده: فرض، واجب، سنت، مستحب. ۱:... فرض: که نجاست له خپل مخرج څخه له دومره اندازې څخه تېری وکړي چې له شرعي روپۍ څخه زیات وي په دغه صورت کې په اوبو سره استنجاء کول فرض دي. ۲:... واجب: که نجاست له خپل مخرج څخه د شرعي روپۍ په اندازه تېری کړي وي نه زیات وي نه کم په دغه صورت کې په اوبو سره استنجاء کول واجب دي.

۳:... که له شرعي روپۍ څخه د نجاست خپرښت کم وي بیا په اوبو سره اسنجاء کول سنت دي. ۴:... که نجاست له خپل مخرج څخه هیڅ تېری نه وي کړی بیا استنجاء کول مستحب دي. که چېرته په چا استنجاء فرض یا واجب وه خو د استنجاء کولو ځای نه وه یاني د خلکو له سترګو نه شو پټېدای نو بیا د عورت لوڅول حرام دي نو په دې صورت کې د استنجاء کول لازمي نه دي یوازې چار اندام اودس دې وکړي صحیح دی.

– په اوبو استنجاء سنت ده.

– د قضاء حاجت په وخت کې عورت پټول ضروري دي او د استنجاء په وخت کې خبرې کول مکروه تحریمي دي.

– له کاغذ تشناب پرته په بل کاغذ استنجاء کول سم کار نه دی.

– له استنجاء وروسته لاسونه باید ومینځل شي.

یادونه: په ځینو روایتونو کې د ډېرې پر ځای ختنه (سنت کول) راغلي:

اول کس چې ختنه (سنت) کړل شوی دی هغه ابراهیم علیه السلام دی.

ختنه: د نارینه له تناسلي آلې څخه اضافه پوستکي پرېکولو ته وایي.

– دا ختنه (سنت کول) د امام شافعي (رح) او ډېرو علماؤ په نزد په سړو او ښځو واجب دي، او د امام مالك (رح) او اکثرو علماؤ په نزد سنت دي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مأخذونه

قرآنكريم.
د قرآنكريم پښتو ژباړه قيام الدين "كشاف".
تفسير قرطبي.
صحيح بخاري.
صحيح مسلم.
سنن ابن ماجه.
سنن ابو داود.
جامع ترمذي.
مسند احمد.
مشكواة المصابيح.
مرقاة المفاتيح.
هدايه.
تسهيل الهدايه (د هدايې پښتو شرح).
نورالايضاح.
فتح الايضاح (د نور الايضاح پښتو شرح).
كتاب النهرالفائق شرح كنزالدقائق لسراج الدين نجيم الحنفي .
كتاب تحفة الملوك فى فقه مذهب الامام ابو حنيفه النعمان للرازي.
كتاب تحفة الفقهاء للسمرقندي.
كتاب حاشية الطحطاوي
الدرالمختار.
فتاواى هنديه مشهوره په فتاواى عالمگيريه.
الفقه علي المذاهب الأربعة
فتاوى رحمانيه.
درسي بهشتي زېور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنز کلان.
د میت مسئلې رفعت قاسمي.
جرأة الأئمة في اجراء الادعية و الاقضية.
مسنون لمونځ (حبیب الله "فوزی" ).
په اسلام کې د ږیرې حکم (اشرف علي "تهانوي" ) .
حکم حیله اسقاط در دین مبین اسلام.
قرآني دعاګانې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**